دین، ژبه
او
ملت

Ketabton.com

لیکوال
مبارز څاپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دين، ژبه او ملت

ليکوال :
مبارز "ځاپی"

پته :
بن، جرمني

کال : 2004ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : دین ، ژبه او ملت.

لیکوال : مبارز "څاپی".

خپرندوی : د پښتونخوا د پوهنې دېره پېښور

چاپ شمېر : 1000 ټوکه.

چاپ نېټه : ۱۳۸۳ل/۲۰۰۴ع.

کمپوزګر : حاجي محمد "عمرخېل".

چاپ او کمپیوټر ځای

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

قصه خوانی بازار، پېښور **Tel/ Fax: 2564513**

E-mail: danish2k2000@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

هغه چا ته چې حق پالي او د واقعیتونو له لمانځنې ډډه کوي.
هغه چا ته چې د دین پر اصولو معتقد وي نه د مذهب پر دستورونو.
هغه چا ته چې خپلې ژبې ته لکه د اسمانونو ، ځمکې او انسانانو د رنګونو د اختلاف په څېر ، چې د
لوی څښتن د قدرت د خلقت سترې نښې ګڼل کېږي درناوی ولري.
هغه چا ته چې پر خپل هېواد ، پر خپل ولس او پر خپل فرهنګ مین وي.

او

هغه چاته چې د ښځې او نر تر منځ د حقوقو هېڅ توپیر نهویني.

په خورا مینه او درناوي.

مبارز "څاپې"

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړلیک

1. تقریظ............................ عبدالحمد "مموزی"...............(ا).
2. ملت، ملیت، ناسیون، نېشن، ناسیونالیزم یا نیشلیزم..............(یو)

لومړۍ برخه

3. هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی.................................... 1
4. نیشنلیزم هېڅکله هم د هېڅ دین بنسګټ نه دی.............................. 8
5. بیا هم وایم، چې هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی................. 17
6. "چې آیا هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی؟ "......................... 30
7. آیا هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی؟................................. 52

دویمه برخه

8. نیشنلیزم، ناسیونالیزم: یا ملت غوښتنه.. د قرآن له نظره.................. 67
9. نچوړ 112

دریمه برخه

10. بولله.. 118
11. د زرغون نورزي په یاد.. 127
12. طالب ته ! 130
13. څلوریزه: اسوېلي... 136
14. برهان الدین رباني... 137
15. ای زماني !... 141
16. څلوریز: دوره... 145
17. ترانه 146
18. ساندې.. 148
19. څلوریزي: څله؟.. 151
20. څله؟.. 151
21. پردېسه لېونتوب.. 154
22. څلوریزي: پښتون.. 155
23. د ژوندون خبره.. 156
24. څلوریزي: اوښکې.. 158
25. ګور شو د ژوندیو کور.. 159
26. په ګوندۍ توګه.. 161
27. ناپوهي... 163
28. څلوریزي: چې وار زما شو 165
29. خپېره... 166
30. دعا !... 167
31. نه لمانځنه... 169

(c) ketabton.com: The Digital Library

32. د زماني ازمېښت 171
33. افقي او عمودي څلوريزه: ژړا 174
34. د لمر څرک 174
35. راشه چې پخلا شو 176
36. د سياست لوبغاړي 178
37. ژوند 180
38. څلوريزه: ازمېښت 181
39. ترانه 182
40. اغزن خوبونه 185
41. کباړ 189

څلورمه برخه

42. پرانستی ليک: ښاغی جمهور ريس بوش ! 191
43. د قبايلي مېرمنو د خير ښګڼو.... ډاکټر بېګم جان ! 195
44. د ښاغلي عطامحمد "شېرزي" د سترګو ليدلي حالات 197
45. بلن ليک 200
46. دروند مشر ښاغلی محمد افضل خان لالا ! 201
47. ملګري ملتونه، لويه جرګه او اساسي قانون 203
48. پرانستی ليک: د ډيورنډ د کرښې په هکله 207
49. حرکت 209
50. د مأخذونو فهرست ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

تقریظ

لنډه کتنه، تبصره او وړاندیزونه

د ښاغلي محترم (مبارز ځاپي) صاحب رساله چې د (دین، ژبه او ملت) تر سرخط او عنوان لاندې یې لیکلې، په غور او دقت سره مې ولوستله، او هم مې د (ښاغلو سرباز صافي صاحب او زلمي مومند صاحب) لیکونه، چې د مبارز صاحب د مقالې په ځواب کې یې د دعوت جریدې ته استولي په زیات اهتمام سره مطالعه کړل؛ نو بیا ماته هم دا فکر پیدا شو، چې په دې هکله او اړوند زه هم څه ولیکم ځکه دا موضوع ډېره جالبه، مهمه، په زړه پورې او په نسبي توګه بکر او تازه بحث او څېړنه ده؛ نو بیا مې له څه سوچ او فکر کولو وروسته دا ښه وګڼله، چې ددې رسالې د عمومي مطالبو او مندرجاتو په نظر کې نیولو سره ځینې وړاندیزونه په لنډه او اجمالي توګه ښاغلي مبارز صاحب ته عرض کړم:

(1) څرنګه چې ددې رسالې زیاته برخه د دعوت په جریده کې خپره شوې؛ نو ښایي دوهم ځل خپرونه به یې (تحصیل حاصل) وي.

(2) دا موضوع او په همدې توګه ځینې نور مباحث او موضوعات ډېر جالب، جاذب؛ خو زیات حاد، بغرنج او راپاروونکي دي.

(3) د ښاغلي مبارز صاحب لیکنه ډېره سلیسه، روانه، ادبي، عام فهمه او د مطالبو په راغونډولو او تحلیل کې یې ډېر زیار ایستلی دی.

(4) محترم ځاپي د ګران هېواد افغانستان یو مشهور شاعر، لیکوال، ادیب، مسلمان، متدین او په اسلام، وطن او پرګنو مین ملي شخصیت دی، هغه تر اوسه زیات شمېر کتابونه چاپ او هم یې ډېرې مقالې په مختلفو جریدو، ورځپاڼو او مجلو کې خپرې کړې دي. ښاغلی مبارز تر وسه وسه زیار باسي تر څو له مختلفو لارو خپل دین، وطن، کلتور، ژبې، فرهنګ او مقدساتو ته خدمت وکړي، او په دې سپېڅلې او منلې شوې لاره کې یې له یو لړ اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو ستونزو او غمیزو سره سره اوچت ګامونه اخیستي او زیات کار یې کړی.

(5) څرنګه چې د اسلامي علومو او دراساتو ساحه ډېره ارته، علمي، تاریخي او فرهنګي ده، او له بلې خوا ددې څانګو او عناوینو په سر کې تعبدي اصول او احکام ځای لري؛ نو هر یو لیکوال په خپل مضمون کې د موضوع یو اړخ له یوې زاویې څخه څېړلی دی، چې په مجموع کې د ټولو مقالو مندرجات او محتویات د زیاتې پاملرنې وړ دي؛ خو ځینې لیکوالان ددې پر ځای، چې په ښاغلي مبارز صاحب د کفر او انحراف ټاپې په اشاره او طنز کې ووهي ښه او معقوله به دا وه، چې د مقالې له خپرېدو مخکې یې له هغه څخه د داسې مطالبو په اړه توضیح غوښتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای، ځکه ديني احکام حکم کوي او وايي چې: "يو مسلمان په يوه ګناه مه کافر کوئ او له اسلام څخه يې مه باسئ". حال دا چې ښاغلي مبارز کوم جرم او ګناه نه ده کړې بلکې د الهي متبرکه آياتونو په رڼا کې يې ځينې موضوعات تحليل او بررسي کړي دي. او له بلې خوا ښاغلی ځاپی يو متدين، مجاهد، پوه او په اسلامي احکامو او دساتيرو ټينګ ولاړ ديني او ملي شخصيت دی؛ نو داسې مسايل او موضوعات ددې پر ځای چې د منازعې، مشاجرې او مخاصمې له لارې ورباندې بحث او څېړنه وشي ښه به دا وي، چې د مذاکرې او تفاهم له لارې د اسلامي ورورۍ او ديني اصولو او ارزښتونو په بنا بې له توهين او تحقير څخه ورباندې ريسرچ وشي. لکه چې امام اعظم صاحب(رح) د حج په سفر کې د ډېرو مذاهبو او فرقو له مشرانو او خاوندانو سره په ډېره حوصله او سړه سينه بحث وکړ او هغوی يې قانع کړل.

(6) څرنګه چې ددې موضوع زياتې مقالې د دعوت په خپرونه کې نشر شوې دي؛ نو زما په نظر ښه به دا وي، چې د ښاغلي مبارز صاحب پاتې مقالې او ريسرچ او خصوصاً (18) سوالونه د دعوت په اخبار او يا په بله خپرونه کې نشر او بيا د مختلفو پوهانو او عالمانو معلومات تر لاسه، او له هغه وروسته که چېرې لازم يې وګڼي له يو لړ بدلونونو او حذفياتو وروسته دې چاپ او خپور شي، دا به ښه وي.

(7) زما په نظر د نړۍ سيمې او خصوصاً د اسلامي هېوادونو او مذهبي ګوندونو او جريانونو د کړنلارې او پاليسۍ په نظر کې نيولو سره ددې پر ځای چې د داسې موضوعګانو خپرول د افغانانو او خصوصاً د پښتنو تر منځ اتحاد او اتفاق راولي، تضادونه او بېلتونونه زېږوي، چې البته ښکاره مثال يې په لومړي قدم کې همدې د دوو پښتنو عکس العمل دی. له بلې خوا د هېواد په دننه او همدغه شان په سيمه او نړۍ کې د (ملت، مليت، ناسيوناليزم، نيشنليزم، دين او ژبې) آواز پورته کول زيات دښمنان او مخالفان لري او هغوی تر وسه وسه زيار باسي، چې دا آوازونه او غورځنګونه له مختلفو لارو وټکوي او غلي يې کړي. ځکه دا حساسې او مهمې موضوعګانې دي. وګورئ دا زموږ د پښتنو څومره بدبختي او کمزوري ده، چې خپل ملي مشران او پوهان په يو نوم او بل نوم ټکوو او د هغوی په اړه ډول ډول منفي تبصرې او خبرې کوو د مثال په توګه(خان عبدالغفار خان) چې (32) کاله يې د پښتنو په غم او وير کې زندانونه او جېلونه وګالل او د هغوی د حقوقو د تامين آواز يې پورته کړ او شپه او ورځ يې زيار وايست چې پښتانه د اسلامي، ملي او بين المللي اصولو په استفادې سره د خپلواکۍ او آزاد ژوند خاوندان شي؛ خو له بده مرغه، چې نن يې يو شمېر مزدور او اجير کسان غندي او ورپسې پروپاګندونه کوي حال دا چې پنجابيان او نور قومونه محمدعلي جناح ملي قايد بولي، احترام او نمانځنه يې کوي او همدغه شان ګاندي ته زيات احترام او ارادت لري، او په همدې ترتيب د نړۍ په نورو هېوادونو کې ملي قايدين او زعيمان د احترام او قدر وړ شخصيتونه بولي.

(8) ښاغلي مومند په خپله مقاله کې د (رباني او مسعود) تعصب او تنګ نظري ياده کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلي یې دي، چې رباني د ایران پلاوي ته ویلي دي، چې زما سره تعاون وکړئ تر څو دوه کاله نور هم پاتې شم؛ نو دا پاتې پښتانه به هم له کابل نه وکاږم. او یا دا چې د ازبک هیئت د سوال په ځواب کې یې ویلي دي، چې پښتانه یو قوم دی، چې اصلاً د هندوستان څخه را مهاجر شوي دي. حال دا چې رباني او مسعود دواړه ځانونه مسلمانان او د حسن البنا، مودودي، محمد قطب او سید قطب د لارې کلک اخوانیان بولي؛ خو له خپل قوم، ژبې، نژاد او کلتور څخه په کلکه ملاتړ کوي او همدا سبب دی، چې دوی پخوا هم واک او قدرت په لاس کې درلود او اوس هم په حکومت او ملت کې مطرح دي، حال دا چې د پښتنو کینې اړخي زمامداران لکه (تره کی، امین او نجیب) او ښي اړخي مشران لکه (حکمتیار، ملا محمد عمر) چې دوی ته قوم، ژبې، نژاد او نورو معیارونو ارزښت نه درلود له ټول واک او ځواک سره سره له منځه ولاړل. ځکه دوی نشنلیزم او ناسیونالیزم په کلکه سره غانده. که چېرې نیشنلیزم، ناسیونالیزم، ژبه او نور ملي معیارونه او اصول د اسلام د سپېڅلي دین سره منافات او مغایرت لري؛ نو بیا ولې دوی د جمعیت له ګروپ سره، چې په دوی کې دا صفات او خصایل په افراطي توګه وجود لري یو ځای او د هغوی قسم ورکولو ته حاضر شول؟ او هغوی ته یې ورونه وویل. او اوس هم د دوی تر څنګ په مرئي او غیر مرئي توګه حرکت او فعالیت کوي.

دا چې ښاغلي مومند لیکلي، چې طالبان نشنالستان وو غلطه خبره ده، ځکه هغوی د نشنلیزم ډېر کلک مخالفین او دښمنان وو، دا چې دوی زیاتره په پښتو ژبه خبرې کولې علت یې دا و، چې د دوی بله ژبه زده نه وه. د پښتنو سیمو او سېدونکو له دوی سره د پښتو او پښتونولۍ په حساب ډېرې ځاني او مالي مرستې وکړې او حتی ټولې وسلې یې ورته وسپارلې؛ خو دوی ورسره جفا وکړه او همدا اوس هم پښتانه د دوی د تورو کړو، وړو له کبله ځورول کېږي، کورونه یې لټول کېږي او په ډله ایزه توګه وژل کېږي. لنډه دا چې که چېرې د دې دوو لیکوالانو په هره جمله او پاراګراف بحث او څېړنه وکړو په نتیجه کې به یو بل کتاب منځ ته راشي.

(9) د ملتونو او قومونو لوړوالی او جګوالی تعصب او پاشیستي نه ده، ځکه څښتن تعالی بني اسرائیلو ته فرمایي: "چې موږ تاسو ته د نړۍ په نورو انسانانو فضیلت درکړ". او همدغه شان الله تعالی په قران کریم کې فرمایي چې: "تاسې مسلمانان بهترین امت یاست چې د خلکو د لارښونې لپاره راوتلي یاست". ښاغلي مومند په خپله اوږده مقاله کې ځینې دلایل ذکر کړي، چې د هغو متبرکه آیاتونو شان نزول او محتویاتو له موضوع سره اړخ نه لګوي. له بلې خوا مومند صاحب د ځینې کسانو او هېوادونو لکه (هتلر، لبنن، امریکا، انګلیس، اسرائیل) او د ځینې نورو یادونه کړې ده؛ خو په دې هکله ویلی شو، چې دوی له خپل نشنلیزم او ناسیونالیزم څخه کار واخیست او خپل هېواد یې د ترقۍ او پرمختګ لوړې درجې ته ورساوه، چې نن په اسلامي ملکونو باندې جابرانه او ظالمانه سرداري او باداري کوي او موږ په غرونو او رغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نه پرېږدي کورونه او جېبونه مو لټوي او هر څه، چې غواړي هغه راباندې اجرا کوي...

(10) لکه چې وويل شول اسلامي احکام او دساتير ډېر جامع او په نړۍ کې ورباندې په زرونو کتابونه، مقالې، او رسالې ليکل شوي او هر عالم او مجتهد د خپلې پوهې، کفايت او درايت په اندازه ورڅخه ګټه تر لاسه کړې او غامض موضوعات يې څېړلي دي. نو دا چې ښاغلي (مبارز) هم په دې هکله يو لړ مطالب راغونډ کړي او پر هغه يې رڼا اچولې ده د هغه زيار او هلې ځلې د زيات قدر او ستاينې وړ دي خښتن تعالی دې محترم ځاپي صاحب ته زيات بريالیتوبونه په نصيب کړي، چې په دې اړوند او يا د نورو موضوعاتو په ارتباط نورې رسالې، مقالې او کتابونه وليکي او د پښتو ملي ژبه غني او بډايه وګرځوي.

(11) که څېړې دا رساله په دې بڼه او شکل سره چاپېږي په حقيقت کې مبارز صاحب د هغو مقالو او مضامينو له خپرېدو سره مرسته کوي، چې د نشنليزم او ناسيوناليزم او خصوصاً د هغه پر خلاف چې په تنګ او محدود چوکاټ کې په طنز او اشاره ليکل شوي دي. او البته ښاغلی مبارز صاحب هېڅ ضرورت او اړتيا نه لري، چې هغه زيات تکثير کړي.

په درناوي

آزاد ليکوال (عبدالمحمد مموزی)
د سنګر او سهار د آزادو اخبارونو
موسس او چلوونکی په المان کې.
مموزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت، ملیت، ناسیون، نېشن، ناسیونالیزم یا نیشنلیزم

الف : د "ملت" یا "ملیت" توری یا غونډلی په اصالت کې د عربي ژبې په ببخ او ریښې پوري ښلي. وګورئ دغه د ملت توری یو نیم زر کاله مخکې په قرآن کریم کې څو ځله استعمال شوی دی.

(1) د البقرآ سورآ په 148 آیت کې چې وایي: هر ملت ته جدا قبله ټاکل شوې ده.

(2) د آل عمران په 95 آیت کې چې د ابراهیمي حنیف ملت په هکله روښانه هدایت لري.

ب : "Nation" دغه نومنیزه توری په فرانسوي او جرمني ژبو کې د "ناسیون" په غریزه توګه تلفظ کېږي؛ خو په انګلیسي ژبه کې

(یو)

د "نېشن" په شکل مګر په دواړو حالاتو کې ددغه توري اصالت د لاتیني ژبې ببخ او ریښه لري، چې په لیک دود او معنی کې یې هېڅ کوم توپیر نشته دی.

ج : نیشنلیزم یا ناسیونالیزم، چې د لاتیني ژبې د "Nation" په توري پورې تړاو لري، د لوید یځې نړۍ مال دی. مګر "ملت پالنه" یا "ملیت پالنه" د ختیځو ولسونو مال ګڼل کېږي.

د : د "Nation" کلیمه، چې له لویدیځ نه ختیځ ته راغلې په ختیځ کې ددې کلیمې لپاره د "ملیت" کلیمه استعمال شوې ده. اګر چې د ملیت توری د "Nation" تحت اللفظي معنی نه افاده کوي، ځکه چې "ملیت" د "مسلک"، "ایډیالوژۍ" او "فکر" په معنی په شرقي ادبیاتو کې استعمال شوی توری دی. او "ملت" د هغو خلکو مجموعې ته ویل کېږي، چې د مسلک، عقایدو او فکر کولو په اصولو سره یو ځای شوي وي. یا هغه خلک دي، چې په پورتنیو ګډو مفاهیمو کې شریک وي. سره له دې، چې د "ملت" توری عربي دی خو عربو د "Nation" لپاره د شعب کلیمه استعمال کړې ده، چې معنی یې "شکل"، "فورم" دی، چې "شعبي"، "تشعب" او د "انشعاب" سره شریکه ریښه لري. په دې معنی، چې "ناسیون" یا "نېشن" د انساني کتلې یوه څانګه ده، دلته خپله څرګندېږي، چې "ناسیون"، "شعب" او "ملیت" د یوه مفهوم لپاره درې مختلې اصطلاح ګانې استعمال شوې دي، چې په لاتیني ژبه کې "نژاد" په عربۍ کې "شکل"، "فورم" او په ایران، افغانستان او ځینې نورو شرقي هېوادونو

(دوه)

کې "فرهنګ" او "روح" یا د افرادو معنوي خصوصیات "محتوا" د اساس په شکل منل شوي دي. په شرق کې د ملیت د اصالت مکتب په دې هکله د غربي طرز تفکر سره تفاوت لري."(۱)

---

(1) استعمار او ناسیونالیزم 64 مخ، لیکوال استانه ګل "شبزاد".

(درې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغو پورتنيو لنډو معلوماتي څرګندونو سره جوخت غواړم د دعوت په خپرونه کې زما د "هر دين په خپل بنسټ کې نېشنليزم دی" مضمون او د هغه په هکله چې کوم غبرګونونه رامنځته شوي دي په دوو برخو کې خپلو ګرانو لوستونکيو ته کټ مټ وړاندې کوم. يعنې لومړۍ برخه کې د ليک او د ليک په هکله غبرګونونه او دويمه برخه يې د غبرګونونو په هکله څېړنيزې څرګندونې دي، چې د قرآني آيتونو د ترجمو او تفسيرونو سره يو ځای وړاندې شوي دي.

په خورا درناوي
مبارز "څاپې"
بن، جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر دين په خپل بنسټ کې نيشنليزم دی

د ځمکې پر مخ، چې څومره انسانان اوسېدلي دي، يا نن چې په کې اوسېږي، دوی ټول د يو او بل په نامه خامخا د يوې ليارې، د يو مذهب يا د يوې عقيدې لرونکي او د خپلواکه ژبې خاوندان دي، او دوی هېڅکله دې ته په اسانه نه د سوب شوي، لا هم نه سوبېږي، څو له خپلې عقيدې، مذهب يا له خپلې ليارې او ژبې څخه واوړي. دا ژبه ده، چې عقيده او مذهب خپروي، او دا عقيده او مذهب دی، چې ژبې او فرهنګ ته وده ورېښي. د لوی خدای(ج) په ستر حکمت کې هم ژبه د دين پالنې او ولس پالنې بنسټيز لامل ګرځول شوی دی. څومره چې يو ولس خپل دين پالي، هغومره يې خپله ژبه پاللې ده. څومره، چې يو ولس د خپلې ژبې له پاللو څخه لرې شوی، هغه ولس هغومره د خپل ژوند د پايښت له بنسټونو څخه جلا شوی او د هلاکت کندې ته غورځېدلی دی.

دين نه يوازې د انسان ګروهې او انګېرنې سوچه او سپېڅلې کوي، چې په ملي جوړښت کې ملي فرهنګي بنسټونو ته پياوړې وده ورېښي. يعنې: دين د ژبې له ليارې د ولس فرهنګ نه يوازې دا چې غښتلی کوی؛ بلکې ډېره زياته وده هم ورکوي. له دې کبله ويلی شو، چې دين د ولس د ژبې او فرهنګ د ودې او پراختيا ستر عامل دی. همدا دليل دی، چې د اسلام دين عربي فرهنګ او د عيسوي دين يهودي فرهنګ ته په نړۍ کې د ودې او پراختيا ډېره پراخه ورشو ورکړې ده. چېرته، چې څوک عيسايي دی، هغه د يهودي فرهنګ خاوند او چېرته، چې څوک مسلمان دی، هغه د عربي فرهنګ خاوند دی. موسی عليه السلام، چې کله يو شمېر بني اسرائيل د خوسي په عبادت کې اخته وليدل؛ نو هغوی يې د لوی خدای(ج) او د بني اسرائيلو د ولس د دښمنۍ په ګناه ټول ووژل. همدا راز د اسلام د مقدس دين استازي حضرت محمد(ص) هم له خپل قريشي کهول سره تر هغه مهاله دښمني وکړه تر هغو، چې قريشو د اسلام د دين دښمني کوله. د دين ساتنې په ليارو کې د انسان دغه غبرګون کېدای شي دلته يوازې د روحاني، معنويت او خدای پرستۍ له اړخه د کتنې او څېړنې وړتيا ولري؛ خو زما په اند د روحانيت او معنويت نه بهر د ورځنې ژوند په ملي، سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي جوړښتونو کې هم دين لويه برخه درلودلې او ستر رول يې لوبولی دی. که يو لږ څه غونډې موږ د هر دين د پلي کېدو لاملونو ته ځير شو، ډېر ژر کولای شو وپوهېږو، چې اديانو، نه يوازې د ولسونو د روحانيت او معنويت اړخ پياوړی کړی او هغوی يې د خدای پرستۍ په ليارو کې برابر کړي؛ بلکې د هغوی ولسي جوړښت يې هم په سياسي اړخ يعنې نشنليزم کې ډېرو لوړو پوړيو ته ورخېژولي او ژبه يې نړۍ واله ژبه ګرځولې ده. د بېلګې په توګه د موسی عليه السلام د بعثت نه پخوا بني اسرائيلو په مصر کې د مريي توب ژوند لاره، ځانته هېواد يې نه درلود، د يو ملت په توګه نه پېژوندل کېدل، خپلواکه نه وو، او په فرهنګي اړخ کې هم نړيواله پېژندګلوي يې نه لرله. موسی عليه السلام د روحانيت او معنويت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جامه کې د لوی خدای(ج) د ارادې په بنسټ بني اسرائیلو ته د مصریانو له مریي توبه ژغورنه ورپه برخه کړله، بني اسرائیل د موسی علیه السلام په لارښوونه د سینا ټاپو وزمې ته راغلل او د پرله پسې جګړو په ترڅ کې یې ټول فلسطین تر خپل واک لاندې راوست. همدغه مهال و، چې بني اسرائیلو په لومړي ځل د ځمکې پر مخ خپل اسرائیلي خپلواک ملت او دولت جوړ او د یو خپلواک هېواد خاوندان شول، کوم، چې په بادشاهانو کې یې د داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام نومونه په سر کې راځي. له دې امله د موسی علیه السلام دین په سلو کې سل یو سوچه نشنلیزم ګڼل کېدای شي، چې د هغې د پلي کېدو سره سم د ځمکې پر مخ د اسرائیلو ملت او حکومت د منځته راتلو امکانات برابر شوي دي. کله، چې اسرائیلي دولت او حکومت د تاریخي پېښو له امله رنګ او دغه ولس د رومیانو مریان وګرځېدل، بیا هم د لوی خدای(ج) له لوري دغه ولس ته عیسی علیه السلام د یو بل سترناجي په توګه وبښل شو. د عیسی علیه السلام لارښوونې نه یوازې دا، چې د روحانیت اړخ لاره، او خدای پرستي یې تبلیغاوه بني اسرائیل یې هم لمسول او هغوی ته یې جرئت بابښه، څو د رومیانو له مریي توبه ځانونه آزاد کړي، کوم چې په همدې ګناه هم عیسی علیه السلام د خپلو یو شمېر حواریونو سره د رومیانو له خوا صلیب ته وخېژول شو. د عیسی علیه السلام کوم شمېر حواریون، چې د صلیب له وېرې د یونان په لوري تښتېدلي وو هغوی په یونان کې د تاریخي شواهدو پر مخ د عیسوي دین او یهودي فرهنګ په خپرولو کې ډېر زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړل، چې په نتیجه کې یې د خپلو دیني او فرهنګي تبلیغاتو اډه روم ته ولېږدوله، او روم یې د خپلو دیني تبلیغاتو مرکز وګرځاوه. لکه چې له همدې ځایه بیا د فلسطین د بیا نیولو د موخې لپاره صلیبي جګړو ته دیني او مذهبي رنګ ورکول کېده. ددغو پېښو تر مخه موږ ویلی شو، چې لوی خدای(ج) د یو خپلواک ملت او خپلواکې ژبې د لرلو پلوي دی. که چا په دې لیاره کې کوم ګام اوچت کړ، نه یوازې دا، چې خدایي برې ورپه برخه شوی، چې په خپله هم د ولس د سترګو تور ګرځېدلی دی. په دې اړخ کې که د عربي ولس تاریخ ته ځیر شو نو په خورا روښانه توګه څرګندېږي، چې د عربو ولس د اسلام د پیغمبر حضرت محمد(ص) له بعثت نه پخوا یو بدوي او صحرایي ولس و، په خپله سیمه کې یې تاریخي خپلواک ملت او حکومت نه لاره، لوی خدای(ج) پر دوی مهربانه شو او د اسلام د دین استازی حضرت محمد(ص) یې دوی ته وبابښه. تاریخي پېښې به ټولو ته روښانه وي، چې حضرت محمد(ص) د خپل عربي ولس د یو موټي کولو او د هغوی نه د یو لوی او خپلواک ملت او حکومت جوړولو په هڅو کې څومره ربړې او تکلیفونه ګاللي دي. د اسلامي دین لارښود د عربي ولس نه یوازې روحانیت او معنویت خوندي کړ؛ بلکې ژبې او فرهنګ ته یې هم ابدي بڼه ورکړله. اسلام د عربو ژبه د ټولو عجمیانو په ژبه کې، چې په اسلام مشرف شول، ورننوېستله. اسلام د عربو فرهنګ یې د هغو ټولو عجمیانو فرهنګ وګرځولو، کوم چې په اسلامي امت کې شامل شمېرل کېږي، او اسلام د عربو څخه د نړۍ پر مخ هسې یو خورا ستر روحاني، فرهنګي، اقتصادي، سیاسي او نظامي ځواک جوړ کړ، چې په خپل مهال کې یې هېڅ ساری نه درلود. که چېرې لوی خدای(ج) عربو ته د اسلام دین نه وای ورښنلی عرب به هم د داسې یو غښتلي او جاودانه فرهنګ خاوندان نه وو ګرځېدلي کوم، چې اوس هم د اسلام د دین د روښانه وړانګو په لمنه کې د نړۍ هر ګوټ ته بې له هېڅ خنډه او ځنډه ځان رسوي؛ نو ځکه بیا هم موږ ویلی شو، چې دین په خپل بنسټ کې نشنلیزم دی او دغه نشنلیزم هم د لوی خدای(ج) اراده ده. راځئ، چې د لوی خدای(ج) اراده په دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو ومنو او په دوارو لاسونو يې عملي کړو. لوی خدای(ج) کوم عاجز ذات نه دی او موږ يې هم څه عاجزان نه يو پيدا کړي، لږه پوهه او لږ غوندې عمل پکار دی. لکه څرنګه، چې لوی خدای(ج) عربي ژبه، پارسي ژبه، انګليسي ژبه او داسې نورې ژبې پيدا کړې دي، پښتو ژبه يې هم پيدا کړې ده. يعنې پښتو ژبه هم د لوی خدای(ج) مخلوق دی او خدای(ج) د دغې ژبې د خاوندانو په توګه موږ هم را پيدا کړي يو. که چېرې موږ خپله پښتو ژبه، چې موږ ته او موږ پښتنانه يې پښتو ژبې ته پيدا کړي يو، ونه وايو او هېره يې کړو، دا به مو نه يوازې له خپله ځانه سره دښمني کړې وي؛ بلکې له لويه خدايه سره به مو هم غټه دښمني او خيانت کړی وي. دا په دا، چې لوی خدای(ج) دومره عاجز نه دی، چې موږ پښتانه يې پښتانه پيدا کړي يو. هغه خدای(ج) کولای شوای، چې موږ يې د کومې بلې ژبې ويونکي پيدا کړي وای؛ خو د خدای(ج) حکمت، اراده او مشيت دا و، چې پښتانه، د پښتو ژبې ويونکي او د پښتو ژبې ساتونکي واوسو.

له دې کبله که غواړو، چې له ځانه سره، له خپلې ژبې سره، له خپله ولسه سره، له خپل هېواده سره او له خپل تاريخه سره دوستي وکړو، که غواړو، چې خپل لوی خدای(ج) او خپل دين او مذهب سره دوستي وکړو؛ نو راځئ، چې خپله ژبه خپله کړو، پښتو ووايو، پښتو وليکو او پښتو ژبه په سيمه او نړۍ کې ځنګه، چې د لوی خدای(ج) رضا او اراده ده، له نورو ژبو سره سياله کړو.

دغه کار هغه مهال کېدای شي چې:

(1) موږ ټول ښتانه په يو مرکز راټول شو.

(2) يو موټی او خپلواک ملت او حکومت ولرو.

(3) په خپلواک ملت او حکومت کې مو يوازې پښتو ژبه د تعليمي، فرهنګي او دفتري ژبې په توګه منل شوې وي.

موږ هېواد لرو، ولس لرو، حکومت لرو، مګر واک يې نه لرو. موږ ژبه لرو، فرهنګ لرو، تاريخ لرو، مګر ناپېژندلې پاتې دي. که غواړو، چې د خپل هېواد، د خپل ولس، خپل حکومت د خپلې ژبې او د خپل فرهنګ خاوندان شو؛ نو راځئ، چې خپلو تعليمي، فرهنګي او دفتري مؤسساتو کې يوازې پښتو ژبې ته ځای ورکړو، څو په دې توګه په سيمه او نړۍ کې له نورو ولسونو سره سيال، تاريخ ته سرلوړي او د راتلونکو نسلونو د ستاينې وړ وګرځو. که نه نو د تل لپاره به د پرديو ژبو او فرهنګ په اغېز کې لتاړ پاتې يو.

مبارز ځاپی، بن جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دعوت خپرونه د 1380 کال د مرغومي میاشت پرله پسې ګڼې 132 - 133

نیشنلیزم هېڅکله هم د هېڅ دین بنسټ نه دی

یوه ورځ یو غربي ژورنالست د خلق د دیموکراتیک ګوند د عمومي منشي، د وزیرانو د شورى رئیس، د وسله والو ځواکونو د سر اعلى قوماندان، د شرق سر خوږلی نابغه او خلاق رهبر ملګري نورمحمد (نور محمد تره کي) څخه پوښتنه وکړه، چې دا ګونګوسي څومره رښتیا دي، چې ته له حفیظ الله "امین" سره ژور اختلاف لرې؟" نو هغه لومړی په کړس کړس وخندل او د تالو ژبې څېرمه د سرو زرو دوه غاښونه یې هم وبربښېدل؛ نو ځواب یې ورکړ، چې: "تاسې امپریالیستان په موږ پسې پروپاګند کوئ، زه چې ملګری "امین" هر ځل ګورم من من غوښه اخلم او په جامو کې نه ځایېږم."

د تره کي دروغ رښتیا؛ خو بیا د هغه په خوله د بخمل بالښت په اېښودلو ثرګند شول؛ خو زه په رښتیا، چې د هر شریف، با درده او با احساسه افغان په خوښۍ خوښېږم او په جامو کې نه ځایېږم او هغه، چې بیا زما د قوم "صافي" بچی وي؛ نو بیا خو غوړي لا غوړ... ورمه ورځ مې د یو دوست په کور کې د "دعوت" جریدې یو سلو دوه ویشتمه ګڼه، چې غالباً همدا وروستۍ شماره ده تر نظره شوه. ټول عنوانونه مې په منډه منډه له نظره تېر کړل، چې واقعاً ډېرو په زړه پورې مطالبو ته په کې ځای ورکړل شوی و، چې د هغو له جملې څخه یو یې د ښاغلي مبارز "څاپي" په ښکلي قلم په اتم مخ کې (د هر دین بنسټ نیشنلزم دی.) تر عنوان لاندې یو مضمون ولوست. هغه د چا خبره، چې په لومړي ځل؛ خو مې پرې سر خلاص نه شو. او د خپل عادت پر خلاف د دویم ځل لپاره مې بیا ولوست. دا مضموم، چې نیمه اکاډیمیکه بڼه لري د پرګرافونو تړاو او ارتباط یې منظم او د لیکنې ژبه یې خوږه او سلیسه ده او لیکوال د علمي پس منظر د څرګندونې په څنګ کې د دې غمازي کوي، چې مبارز صاحب د خپلې ژبې او کلتور ودې او پراختیا ته څومره لېواله او د څومره ژور احساس درلودونکی دی کوم، چې د شاباس مستحق او د همکارۍ وړ دی؛ خو له بده مرغه مضمون نه یوازې دا، چې یو شمېر تاریخي غلطۍ او تېروتنې لري او د اسماني ادیانو په هکله یې معلومات ډېر کمزوري دي، بلکې د پیغمبرانو د بلنې او دعوت له اصلي جریان سره چندان ډېره نه لګوي.

زه نه ملا یم، چې د زېړ کتاب د متن، حاشیې او نکتې په رڼا کې د دې مضمون شرعي اړخ وڅېړم، چې د اسماني ادیانو او د خدای تعالی د ریښتینو او معصومو پیغمبرانو د حرمت او تقدس حریم په کې څومره محفوظ یا په کوم کچ پایمال شوی دی؟ نه خو د پوهاند صبېب کاکړ په شان د تاریخ پوهنې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

باریکیو سره اشنا یم او نه هم پخپله د مبارز صاحب غوندې د لیکوالۍ له فن سره بلد یم، چې مقاله یې له سره چاڼ او غلبېل کړم او د ریسرچ او کره کتنې له میکروسکوپ څخه یې پاس کړم. البته یو تخنېدلی احساس لرم، چې د انتقاد او ګوت څنډنې په ځای د یو هدفمند اصل لپاره ځینې کمزورۍ په ګوته کوم، تر څو ښاغلی "ځاپی" او ممکن درانه لوستونکي ور څخه ګټه واخلي او ځینې تاریخي حقایق له نظره تېر کړي، او زما یقین دی، چې موږ د غرب نمک خورو افغانانو که ډېر معنوي او فرهنګي ارزښتونه له لاسه ورکړل؛ نو د اروپا او امریکا د دیموکراسۍ په سیوري کې مو یو ډېر مهم شی تر لاسه کړ او هغه په واقعي ډول د ژبې، مذهب، لیکنې او نظر خپلواکي ده، چې د زغم او برداشت په څنګ کې یې زموږ سینې پراخه او حوصلې لوړې کړې، او هم مو د عربي الفاظو په ځای د پښتو تورو ته مخه شوه، چې دا دی زموږ د قوم ځینې تعلیم یافته ځوانان د "صافي" د کلیمې په عوض "ځاپی" لیکي، چې ځکه ص، ف اصلي عربي الفاظ دي؛ خو ځ، پ پښتو ټکي دي. تر څو په دې ډول د عربي فرهنګ سره فاصله ونیوله شي او خپلې ژبې ته وده ورکړل شي. خیر دا د هر چا د مزاج او انتخاب خبره ده او حقوق یې له خاوندانو سره خوندي دي. اوس راځم اصلي مطلب ته او بهتره به وي، چې له عنوان څخه پیل وشي.

1- مبارز صاحب لیکي ((د هر دین بنسټ نیشنلیزم دی)) که چېرې دا نظریه دده شخصي اند او فکر وي؛ نو دا په ده پورې اړه لري؛ خو که خبره د واقعیت او اصولو وي؛ نو بیا حقیقت بل شی دی. ځکه د ټولو اسماني ادیانو بنسټ په درې شیانو ولاړ دی (خدای پرستي او د هغه وحدانیت، د پیغمبرانو او رسولانو استازیتوب او معصومیت او دریم یې د قیامت راتګ او نېکانو او بدانو ته د هغوی د عمل مناسب پاداش دی. مبارز صاحب ته به معلومه وي، چې د اسلامي نړۍ د شپږ پنځوسو هېوادونو څخه یوازې دوه ویشت یې عربي ژبې دي یا په بله مانا د یو میلیارد مسلمانانو څخه یوازې دوه سوه میلیونه یې عربان دي، او پاتې له نورو قومونو او ولسونو څخه دي. د عیسویت دین یوازې د رومیانو په منځ کې منحصر پاتې نه دی؛ بلکې د کاتولیک، پروتیستانت او ارتودوکس په میلیونو میلیونو پیروان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره دي. یهودیت یوازې په یورشلیم او تل ابیب کې بند نه دی، د حبشې او اریتریا فلاشا هم یهودان دي. همدا رنګه غیر اسماني ادیان لکه بودیزم یوازې په تبت او بوتان کې معتقدین نه لري؛ بلکې د دلایلاما د مشرۍ لاندې درې سوه شپېته میلیونه بودیستان نن د نړۍ تقریباً څلورم دیانت شمېرل کېږي. د رام، سیتا او ګیتا عبادت کوونکي یوازې هندو برهمنان نه دي؛ بلکې د نچلې ذات "کم اصله" هندوانو دین هم دی، چې مختلفې ژبې او قومیتونه لري. په داسې حال کې، چې د دین په نسبت د نشنلیزم زاویه ډېره کوچنۍ او هېڅ د مقایسې وړ نه ده. او بله دا، چې نیشنلیزم؛ خو د یو سیاسي مکتب په صفت همدا څو لسیزې وړاندې راڅرګند شو او په پخوانیو زمانو کې یې فقط د یوې روحیې بڼه درلوده او بس.

2- نو موړی په خپل مضمون کې لیکي: (حضرت محمد (ص) له قریشو سره تر هغې دښمني کوله تر څو، چې قریش په اسلام نه وو مشرف شوي...) د دې جملې په لیکلو دې ښاغلي پخپله خبره د بطلان کرښه کش کړه، یعنې دا، چې د حضرت پیغمبر دوستي او دښمني د دین په خاطر وه نه د عربي ژبې او عربي قومیت لپاره. او ځکه؛ خو حبشي نسله بلال له روم څخه راغلی صهیب او فارسي نژادی سلمان د اسلام د ستر پیغمبر یاران او ابو لهب او ابو جهل، چې د هغوی د خپلې کورنۍ او ټبر غړي وو، ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنان وو ، او دا ددې څرګنده بېلګه ده ، چې د دين بنسټ پر نيشنليزم باندې نه دی ولاړ ؛ بلکې عقيده ، رياضت او روحانيت د دين بنسټ جوړوي ، چې د خالق له لوري وربانديې مخلوق ته هدايت شوی وي ، او يا دا ، چې په خپله د انسان تخليق وي ؛ لکه بت پرستي او نور ، چې هېڅکله او هېڅ چېرې د يوې ځانګړې ډلې ، ژبې او قبيلې په انګړ کې قيد نه دی پاتې شوی او مختلفې پرګنې ، ولسونه ، رنګونه ، ژبې ، سمتونه او اړخونه يې په بر کې نيولي او زه فکر کوم ، چې تاسو هم په دې کې د شک لپاره ځای نه لرئ.

3- مبارز صاحب فرمايي: ((د موسی عليه السلام دين سل په سلو کې سوچه نيشنليزم ګڼل کېږي)). خو زه وايم که نوموړی يو ځل بيا د اديانو په هکله لږ سرسري غوندې مطالعه وکړي ؛ نو دا به راسره ومني ، چې دا يوه افترا ده ځکه کله ، چې موسی عليه السلام ته د پيغمبرۍ لومړنی اسماني پيغام راغی ؛ نو هغه دا و ، چې ته ولاړ شه او فرعون ته د سمې لارې بلنه ورکړه او دا هغه حقيقت دی ، چې د اخري سپارې د سورت نازعات په اولسم ، اتلسم او نولسمو اياتونو کې ورته په صراحت اشاره شوې ده. او دا ددې مانا لري ، چې دا پيغمبر يوازې بني اسرائيلو ته نه دی راغلی بلکې لومړی دعوت يې قبطيانو ته و ، چې د فرعون قوم و ؛ خو کله ، چې د فرعون د ايمان څخه نا اميده شو نو خپل قوم ته يې وويل ، چې اوس بايد له مصر څخه کډه وکړو تر څو د فرعون له غلامۍ ازاد او يوازې د خدای(ج) بنده ګي وکړو. همدا رنګه که ښاغلی ځاپی په دې نظر وي ، چې د حضرت موسی(ع) دين سوچه نشنليزم دی ؛ نو بيا دې مهرباني وکړي او دا دې په ډاګه کړي ، چې په دې صورت به د يو اسماني رسالت او د ګاندي او غفار خان د سياسي غورځنګ تر منځ څه توپير وي؟.

4- نوموړي د خپل مضمون په بله برخه کې ليکلي: ((محمد(ص) د خپل عربي ولس د يو موټي کولو او د هغوی (عربانو) لپاره د يو خپلواک ملت او حکومت د جوړولو په هڅو کې ځومره ربړې او تکليفونه ګاللي دي...)) خو حقيقت دا دی ، چې د اسلام ستر پيغمبر د مکې معظمې د حرا له سمځې واخله د وفات تر ورځې ، يعنې د پيغمبرۍ په ټول درويشت کلن عمر کې هېڅکله ، هېڅ چاته ، هېڅ چېرې د عربيت او عربي امت او عربانو لپاره د خپلواکۍ او عربي قوم د حکومت خبره په خوله هم نه ده ياده کړې ؛ بلکې تر دې ، چې يوه ورځ د هغه په وړاندې د عربيت خبره وشوه ؛ نو د هغه مخ سور شو او هغه سړي ته يې وويل ، چې په تا کې لا اوس هم د جاهليت خوی پاتې دی. په حج الوداع کې ، چې تر نژدې يو لک اصحاب د عرفات په غونډۍ باندې د حضرت پيغمبر(ص) په شا وخوا کې راټول او چوپ ولاړ و ؛ نو د نبوت وروستی پيغام و: ((ما په تاسو باندې خپل نعمتونه تمام کړل ، تاسو يو د بل ورونه ياست. ستاسو وينه ، مال او ناموس يو پر بل حرام دی او اسلام مې ستاسو لپاره غوره او منلی دين در استولی دی)).

کله ، چې د اسلام دويم خليفه عمربن خطاب(رض) د بيت المقدس د فتحې او تسليمۍ په مراسمو کې د ګډون لپاره ورغی ؛ نو هلته ځينو فاتحينو او قوماندانانو ورته وويل ، چې امير المؤمنينه ته په اوښ سپور شه او غلام دې را کوز کړه او بله دا ، چې قيمتي جامې او چپن واغونده ، که نه ؛ نو بيا به د يهودو او عيسايانو مشران خاندي ، چې د عربو مشر دا څرنګه سړی دی؟ نو هغه ورته وويل: دا عزت او دبدبه خدای پاک(ج) ماته د اسلام له درکه راکړې که نه ؛ نو په مکه کې ؛ خو په ما باندې خپل پلار اوښان هم نه ساتل ، خبره د عربيت نه ده د اسلام ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5- په بل پرګراف کې مبارز څاپي صاحب داسې وايي: ((موسی علیه السلام، چې کله بني اسرائیل د خوسي په عبادت اخته ولیدل.. ؛ نو هغوی یې ټول ووژل)). داسې ښکاري، چې مبارز صاحب د مکې په ځای ترکستان ته تللی دی او خبره یې ښخي سرچپه لیکلې ده. ځکه کله، چې الله تعالی نژدې اويا تنه بني اسرائیل په خپل عذاب هلاک کړل؛ نو موسی علیه السلام سخت خپه شو او د ګیلې په ډول یې وویل، چې یا ربه دا خلک به دې بل ځای هلاک کړې وای اوس؛ خو دوی له ما سره راغلي وو... موسی علیه السلام هېڅکله هم د پیغمبرۍ په وخت کې څوک نه دي وژلي البته مخکې له دې، چې پیغمبر شي، يو قبطي یې په بوکس وهلی و او هغه ترېنه مړ شوی وو. له دې واقعې پرته هېڅ اسماني کتاب، نه کوم مستشرق، نه کومې انسايکلوپيډيا ((دائرآ المعارف)) نه اسلامي او یهودي مورخ لیکلي، چې حضرت موسی علیه السلام دې د خپل امت او قوم خلک وژلي وي.

6- مبارز صاحب د خپلې مقالې په پای کې غالباً د وراندېز په ډول وايي چې: راځئ له پېښو سره پښتو وکړو ، هغه د نورو ژبو سياله کړو او دا هله ممکن ده، چې پښتو زموږ د ملک او حکومت یوازینۍ رسمي ژبه شي؛ خو زه په خپل وار، چې یو ساده او شډل پښتون یم د لږ څه اختلاف د اجازې تر څنګ دده ملاتړ کوم او دعا کوم، چې خدای(ج) دې د افغاني نشنلیستانو دا بنده ببرۍ روانه کړي، چې د طلبای کرامو نه وروسته په کابل کې د دوی حکومت راشي. ځکه شرمېدلو کمونستانو او ازار ګټلو اخوانیانو ، چې د انقلابي سرو او شنو شعارونو په سیوري کې یې خپل وطن برغنډ برغنډ کړ او د ملت ملي جوړښت، قبایلي دود دستور او عنعنوي او فرهنګي اډانې یې لتاړې کړې، ډېره ممکنه ده، چې نشنلیستان هغه له سره ترمیم او په پښو ودروي او هم به له دې څخه په الهام د کوزې پښتونخوا قوم پرستان وتوانېږي، چې خپل نصب العین او موخې ته ورسېږي. ځکه ومو لیدل، چې غلام احمد بلور او افضل لالا د نواز شریف او بې نظیر بوټو په فیدرالي حکومتونو او د فرید طوفان او بشیر بلور د مشرۍ لاندې یو درجن وزیرانو د صوبه سرحد ((پښتونستان)) په کابینه کې نه یوازې دا ، چې د خپل ايالت د نوم په بدلولو کې ناکام راغلل؛ بلکې د پېښور د تلویزیون هغه دوه ساعته تلویزیوني پښتو خپرونه یې بېګرته فعاله نه کړای شوه، چې افتاب "شېرپاو " پیل کړې وه. په هر حال د مبارز صاحب مبارزه که د پښتو په ځای افغان شموله شي دا به بهتره وي، ځکه ددې واقعیت تر اړخه، چې پښتانه د افغانستان اکثریت دي دا هم حقیقت دی، چې تاجکان، هزاره، بلوچ، ازبک، ترکمن، قزلباش او پشه یان هم ددې ملک ګډ وارثین دي او زموږ اساسي قانون د هغوی حقوق ټاکلي دي او که نه؛ نو هغه د شینواري خبره به شي، چې ما دې دور بابا ووهي که یې راڅخه شل کړې ".

دا وه د ښاغلي سرباز "صافي " نیوکه، چې د دعوت له خپروني څخه کټ مټ ولیکله شوه. ددې نیوکې په ځواب کې، چې ما څه لیکلي ، هغه د دعوت خپروني په **138- 139** پرله پسې ګڼې کې په **1381** کال کې خپاره شوي دي، چې ګران لوستونکي یې دا لاندې لوستلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا هم وايم، چې هر دين په خپل بنسټ کې نيشنليزم دى

ښاغلي سرباز "صافي"، چې ښايي صافي شوی "ساپی" وي، د دعوت د ښکلي خپروني په 132 ګڼه کې د "نشنليزم د هيڅ دين بنسټ نه دى" تر سريزې لاندې يو ه ښکلې او استادانه ليکنه خپره کړې ده، نو موړی، چې د مضمون د سبک څخه يې بربښي ښايي د سيد قطب او حسن البناء له مکتبه راوتی وي، په دې ليکنه کې زما د هغه مضمون پر عنوان او محتوياتو ګوت نيونه کړې کوم، چې د دعوت د ګرانې خپروني په 122مه ګڼه کې د "هر دين په خپل بنسټ کې نشنليزم دى" تر عنوان لاندې خپور شوی و. مخکې تر دې، چې د ښاغلي سرباز "صافي" د انتقاد په هکله څه وليکم غوره ګڼم د دين د کليمې د تعريف په هکله کتاب ته مراجعه وکړم.

د پښتو اريانا دائرآ المعارف پينځم ټوک په 986يم مخ کې ددې په هکله داسې وايي:

دين: Religion د پوهانو په نزد، دين الهي وضع ده، چې د ذوالعقولو لپاره له دې جهته راغلى دى، چې هغه ومني او عمل پرې وکړي. او د دوی د دنيايي چارو د سمون او په آخرت کې د فلاح باعث شي، او دا دوې خواوې لري: يوه د عقيدې خوا، بله د عمل خوا. د دين نوم د عقيدې او عمل په هر سيستم اطلاقيږي؛ خو د مذهب او د امامانو په نزد، د دين کليمه يوازې د اسلام پر دين دلالت کوي؛ لکه، چې په قرآن کريم کې راغلي دي:

((اِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ)) يعنې دين د خدای(ج) په نزد اسلام دى. دين ځکه خدای(ج) ته مضافوي چې له ده څخه راغلى دى. او له دې جهته يې پيغمبر ته مضافوي، چې د هغه په واسطه ښرګند شوی دى، او له دې جهته يې حکومت ته نسبت ورکوي، چې: دوی په دين ګروهېدلي او هغه يې منلی دى. وايي، چې دين او ملت يو مفهوم لري او په خپل ذات کې يو له بله اختلاف نه لري، او ددې دوه وو تر منځ اختلاف د ځينو اعتباراتو په وجهه دى؛ لکه شريعت ته، چې له دې جهته دين وايي، چې د اطاعت وړ دى، او له دې سببه يې ملت بولي، چې پر ده باندې خلک راغونډيږي، او وايي، چې د دين، مذهب او ملت تر منځ توپير دادى، چې: دين اللّٰه(ج) ته منسوب دى، ملت پيغمبر ته منسوب دى او مذهب مجتهد ته منسوب دى.

د دين او ملت تر منځ توپير فقط يو اعتباري توپير دى او په ذات کې سره اختلاف نه لري، يوازې په اصطلاح کې شريعت او ملت پيغمبر ته مضافوي او دين خدای(ج) ته مضافوي".

د دين دغه پورتنى تعريف کټ مټ هغه تعريف دى، چې اسلامي پوهانو او عالمانو وړاندې کړی او د پښتو اريانا دائرآ المعارف په پينځم ټوک 986يم مخ کې په کال 1354 کې په کابل کې چاپ شوی دی. ددې تعريف په مخ په روښانه توګه ښرګنديږي، چې دين او ملت سره يو مفهوم لري او د هغه په ذات کې کوم توپير نشته. کوم توپير، چې ددې د پلي کېدو نه په وروستيو زمانو کې رامنځته کېږي، هغه ته اعتباري توپير وايه شي، چې لا پرې هم د دين اصطلاحي سيستم واکمن شوی وي. ښه به دا وي، چې د اصطلاح د کليمې په تعريف هم پوه شو. د اصطلاح کليمه د پښتو - پښتو تشريحي قاموس د لومړي ټوک په اويا يم مخ کې داسې تعريف شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصطلاح: "یعني داسې ژبنی ترکیب، چې په هغه کې ټولې کلیمې په خپلو اصلي معناوو نه استعمالېږي، او د ټولو کلیمو د معناوو د ترکیب څخه داسې یو واحد مفهوم لاس ته راځي، چې په جلاجلا ډول د هرې کلیمې د اصلي معناوو سره مستقیم ارتباط نه لري."

د اصطلاح ددې پورتني تعریف له مخې به ښاغلي سرباز "صافي" ته روښانه شوې وي، چې دین او ملت په خپل ذات کې سره یو دي، او دا به هم راسره ومني، چې ما ویلي دي، چې هر دین په خپل بنسټ کې نشنلیزم دی، مګر دا مې نه دي ویلي، چې نشنلیزم د دین بنسټ دی. بیا هم په خپلې خبرې ټینګار کوم او وایم، چې: دین د ملت د جوړونې ذاتي جوهر دی، چې د لوی خدای(ج) د سپېڅلې ارادې او مشیت له مظاهرو څخه یې ګڼلی شو، او همدا سبب دی، چې اسلامي عالمانو او پوهانو هم د دین په تعریف کې د ملت او دین تر منځ کوم توپیر نه دی لیدلی. له دې امله موږ هم ویلی شو، چې که څېرې د نویو سیاسي علومو په چوکاټ کې نشنلیزم د ملت جوړونې مفکوره ګڼله کېږي؛ نو دین د عقیدې سره جوخت د ملت جوړونې مفکوروي سیستم هم په خپل ذات کې د ځانه سره لرلی دی، چې په پورته توګه د دین په تعریف کې اسلامي پوهانو او عالمانو ورته اشاره کړې ده.

په دې توګه کله چې ملت په خپل ذات کې د دین سره کوم توپیرونه لري؛ نو د ملت جوړونې مفکوره یعني نشنلیزم هم، چې په ملت پورې اړه لري په خپله د دین د بنسټ سره وصلت مومي؛ لکه، چې ما هم په خپل پخواني لیک کې ورته اشاره کړې او هغه مې د لوی خدای(ج) سپېڅلې اراده، مشیت او رضا ګڼلې دی، د اوسنیو نویو مروجو علومو له مخې هم هغه ته د نشنلیزم بنسټ وایو.

د عقیدې او عمل پر هر سیستم باندې د دین د نامه اطلاق په نننیو مذهبي حاکمو شرایطو او حالاتو کې نه یوازې دا، چې په دین کې خورا زیات اعتباري توپیرونه رامنځته کړي، چې په عملي سیستم کې یې هم ډېر زیات اصطلاحي توپیرونه رواج کړي دي. کوم، چې اوس اوس اسلامي نړۍ ټول په ټوله کې د مجتهدینو د رامنځته کړو مذاهبو په وسیله د دین په اصطلاح مینه مسلماني دودیزه شوې ده. د مثال په توګه:

1- ښاغلی سرباز "صافی" که څېرې په خټه "ساپی" وي؛ نو "ساپی" پښتون دی او پښتون که موږ وغواړو او که ونه غواړو ارو مرو افغان دی؛ نو د غه ښاغلی به څنګه وکولای شي د افغان په نامه له پښتو او پښتونولۍ نه ووځي؟ له دې سره جوخت دا هم د پوښتنې وړ برېښي، چې ښاغلی سرباز که په رښتیا سره "ساپی" وي؛ نو د ساپیانو له دې څلورو قبیلو نه به له کومې قبیلې وي؟ ګوربز دی؟ ودیر دی؟ مسید دی؟ او که ګنداری دی؟ یعني ددغو قبیلو څخه له کومې قبیلې دی؟.

کله، چې ښاغلی سرباز پوه شو، چې "ساپی" دی او د ساپیانو له دې څلورو قبیلو نه له یوې قبیلې څخه دی؛ نو بیا څنګه کولای شي ځان ته "صافی" ووایي؟ معلومه ده، چې نو موږ د دین په اصطلاحي سیستم کې له "ساپي" توبه وتلی او "صافی" شوی دی. او دده دغه په اصطلاح کې فرهنګي بدلون د دین په ذات پورې هېڅ اړه نه لري.

دغه ټکي ته هم باید پام وساتل شي، چې هېڅکله هم په هېڅ دین کې داسې نه دي راغلي، چې انسانان دې باید د دین له امله له خپلې ځانګې او قبیلې نه بېګانه شي. په قرآن کریم کې په څرګنده توګه راغلي دي، چې لوی خدای(ج) انسانان قبیلې قبیلې او ځانګې ځانګې را پیدا کړل څو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپېژندل شي. په قرآن کريم کې دا هم راغلي دي، چې لوی خدای(ج) هر قام ته د هغه قام په ژبه هادي استولی دی. تاسې وګورئ، چې د هادي او پيغمبر تر منځ څومره توپير موجود دی؟ هادي خو لارښوونکي ته وايي، چې لا اجرايي واک او ځواک هم لري؛ خو پيغمبر يوازې استازی يا پيغام رسوونکي ته وايي، چې له اجرائي واک نه لرې ښکاري. په قرآن کريم کې دا هم راغلي دي، چې لوی خدای(ج) انسانانو ته مختلف اديان و استول څو پرې وازمېيل شي. که لوی خدای(ج) غوښتي وای، چې ټول انسانان په يوه واحد دين کې راغونډ کړي دا کار د هغه ذات د ارادې په مخه کې هېڅ مشکل نه لاره. ښايي همدغه خبره به وي، چې د مجتهدينو له خوا د دين په فروعاتو کې دومره زيات اعتباري توپيرونه رامنځته شوي، چې اوس اوس هېڅکله هم د ايران مسلمانان د پاکستان مسلمانانو، او د سعودي عربستان مسلمانان د مصر د مسلمانانو سره په يو واحد اسلامي سيستم باندې نه شي راټولېدلی. او په افغانستان کې، چې د طالبانو ځواک د ټولو اسلامي هېوادونو د عملي سيستم په خلاف زعامت لاره.

2- په کال **1998** ميلادي کې د پېښور د قصه خوانی بازار د دانش په کتاب پلورنځي کې ناست وم، چې يو "صافی" شوی طالب راغی او په کتاب پلورنځي کې له موږ سره کېناست. د پېژند ګلوۍ نه وروسته د ږيرې پر مسئلې باندې، چې په هغو ورځو کې ډېره توده وه بحث او خبرې پيل شوې. هغه محترم طالب، چې ځان يې د طالبانو په تشکيلاتو کې د کابل د طب د انستيتيوت رئيس هم ګاڼه، په ږيرې باندې کلک ولاړ و، او ويل يې، چې د ږيرې ساتل او اوږدول فرض دي. دا ځکه، چې د اسلام پيغمبر د عمر تر اخره پورې ږيره ساتلې ده. ما ورته وويل ستا خبره رښتيا ده پيغمبر(ص) ږيره ساتلې وه؛ خو په هغه مهال کې د پيغمبر(ص) ستر دښمن ابوجهل، ابو لهب او ابو سفيان هم ږيرې لرلې. طالب وويل، چې موسی عليه السلام هم ږيره لرله. ما وويل منم، چې لرله يې؛ خو فرعون هم ږيرور و. نوموړی هېڅ قانع نه شو او ټينګار يې کاوه، چې که پيغمبر کوم عمل په همېشه توګه کړی وي، هغه پر موږ فرض دی. ما ورته وويل: پيغمبر(ص)؛ خو چيلتار هم تاړه، هغه وويل، چې موږ هم بايد چيلتار وتړو. ما ورته وويل، چې پيغمبر(ص)؛ خو عرب هم و؟ هغه وويل، چې موږ هم بايد عربان شو".

دغه بحث د څلورو ګېنټو نه وروسته بې له کومې نتيجې پای ته ورسېده. دا په دا، چې په کومو ټکيو، چې طالب ټينګار لاره، هغه زما په اند د دين په اعتباري توپير کې نه، چې د دين په اصطلاحي سيستم پورې اړه لرله او همدا خبره وه، چې طالبانو د اسلام په خاطر غوره ګڼله، چې عربان هم شي. کوم، چې زما په نظر د هغوی داسې هلې ځلې د اسلام د دين په ذات پورې وصلت څه، چې لا رجعت هم نه لاره.

3- په **2000** ميلادي کال کې د طالبانو د روغتيا وزير ښاغلی ملا عباس اخوند المان ته په سفر راغلی و، نوموړي په هغه غونډه کې، چې د کولن ښار په مربوطاتو کې د يو شمېر افغانانو له خوا ورته جوړه شوې وه، ګډون کړی و، چې زه هم په هغه غونډه کې وم. نوموړي وزير د خپلو اوږدو خبرو په پای کې د يوه افغان د پوښتنې په ځواب کې د ږيرې په هکله وويل، چې: ږيره فرض ده او موږ به دغه فرض په زوره عملي کوو. يعني پر خلکو په زوره ږيرې اوږدوو". ما ورته وويل، چې ښاغلی وزير صاحب د اسلامي دين د فقهي کوم کتابونه، چې ما له خلاصې نه د مستخلص تر اخره پورې لوستلي دي، په هېڅ يوه کې داسې نه دي ويل شوي، چې ږيره دې پر خلکو باندې په زوره اوږده شي، تاسې، چې دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوئ، داسې بربښي، چې له پیغمبره مخکې منډې وهئ ".

ښاغلي ملا عباس اخوند په ځواب کې ماته وویل، چې: ته د لویدیځې نړۍ تر فرهنګي اغېز لاندې راغلی یې او په دې هکله پوره پوهه او معلومات نه لرې. په هغه فتاوي کتاب کې، چې د قاضي د پرېکړو د صادرولو لپاره لیکل شوی پوره او واضح هدایت شته.

دغه و د طالبانو په عملي سیستم کې د مذهب واکمنه ګروهه. طالب د دین په اصطلاحي سیستم د مجتهد په مذهب دومره د دین له پولې اوښتی و ، چې د سنتو او فرضو تر منځ توپیر لا څه، چې سنتونه به یې د فرض په څېر لمانځل، او په دې نه پوهېدل، چې سنتونه؛ خو د زماني په اوښتلو سره تغیر مومي. لکه د مثال په توګه: د پیغمبر(ص) په زمانه کې د عربانو په شمول په ټوله نړۍ کې د جګړې اسیران به د وینځو او مریانو په څېر ساتل کېدل او دغه عمل د هغې زمانې له سنتونو څخه شمېرل کېده؛ خو نن ورځ په ټوله نړۍ کې غندل کېږي، چې لا منعه شوي هم دي ".

ښاغلي سرباز "صافي " په خپل زعم زما د مضمون د ځینو برخو په تاریخي پېښو کې هم ځینې تېروتنې په ګوته کړې دي، چې زما په نظر هغه ټول د موضوع په فروعاتو پورې اړه نیسي.

دا ، چې د موضوع د بنسټ په هکله په پورته توګه زما تله درنه ښکاري؛ نو فکر کوم، چې همدومره به ښاغلي ته بس وي، او په فروعاتو کې به څه حاجت نه وي، چې سره لا پسې وڅېړو.

راغلو د پښتو او افغاني سیاست په هکله: دلته غواړم لږ غوندې تم شم. په دې ټکي زه پوره باور لرم او دا حقیقت هم دی، چې هر پښتون افغان دیکه په تورنتو کې هم اوسي؛ خو هر افغان پښتون نه دی که په افغانستان کې هم اوسېږي. سربېره پر دې دغو تېرو دوه دريو لسیزو هم وښودله، چې که په افغانستان کې پښتون نه وي؛ نو اوس به افغانستان هېڅ نه و. دا د پښتون برکت دی، چې افغانستان لا شته او د ښاغلي سرباز "صافي " په څېر ښاغلي هلته په تورنتو کې هم ځانونو ته افغان وايي. که نه؛ نو په افغانستان کې مېشتو "صافي " شویو افغانانو به دغه نوم هم لا دمخه له هغوی څخه اخیستی و. که چېرې ښاغلی سرباز "صافی "، چې ښايي "ساپی " وي، ځان پښتون وګڼي، دا به ورته ډېره غوره وي ځکه، چې "ساپی " پښتون دی او پښتون د افغان د ذات نوم دی. دا یوازې پښتون نه دی، چې دوه درې نومونه او صفتونه لري پارسیان هم په یو ځای کې پارسي، په بل ځای کې "دري " او په بل ځای کې ځان تاجک معرفي کوي، چې دا درې واړه سره یو دي. همدا رنګه په منځني ختیځ کې یهودان هم دوه نومونه لري، هم یهود او هم په اسرائیلو یادېږي. همدارنګه چېرته، چې زه اوسېږم د هغه هېواد د خلکو هم درې نومونه دي، چې بهرنیان ورته جرمن او الماني وايي؛ خو دوی په خپله ځان ته دوچ او خپل هېواد ته دوچ لاند وايي.

ښاغلی سرباز "صافی " د خپل لیک په پای کې د لرې پښتونخوا او د هغه ځای د ځینو پېښو په هکله د یادونې سره جوخت د ځینو سیاسي اشخاصو نومونه هم په ګوته کړي دي. په دې هکله باید ووایم، چې په لره پښتونخوا کې د طالبانو په څېر داسې ځواکونه او شخصیتونه شته، چې د دین په اصطلاح مینه مسلمانان دي او هر څه د دین تر نامه ځاروي، حتی خپله ژبه هم. له دغو کسانو څخه یو هم مولانا حسن ګل دی؛ لکه څرنګه، چې ماته ویل شوي دي، نوموړی مولانا حسن ګل صاحب د طالبانو په واکمنۍ کې د ننګرهار پوهنتون محصلینو ته د خپلو اسلامي ارشاداتو په ترڅ کې دا هم ویلي وو، چې: عربي ژبه د جاهلانو ژبه ده، پښتو ژبه د کافرانو ژبه ده، او اردو ژبه د مسلمانانو ژبه ده، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ژبه په اسلامي ټولنه کې زبږېدلې او را لویه شوې ده. له دې امله تاسې محصلین باید د پښتو او عربي ژبو پر ځای د اردو ژبه زده کړئ، چې یوه سوچه اسلامي ژبه ده. "

وګورئ په یوه ټولنه کې، چې داسې کسان شته والی ولري او د ځواک خاوندان هم وي؛ نو څوک به وکولای شي هلته د ملت جوړونې یوه وړه غوندې هڅه هم په لیاره واچوي؟ سره ددې، چې داسې هڅې به د دین له ایجاباتو څخه هم ګڼل کېږي.

لره پښتونخوا؛ خو د پاکستان په برخه شوې څوک، چې پاکستانی سیاست کوي هغه به اورمرو اردو ژبه وایي؛ لکه څنګه، چې په بره پښتونخوا کې تر اوسه پورې دود او معمول دی، څوک، چې افغاني سیاست کوي؛ نو خامخا به پارسي ژبه وایي. دا رنګه عملي سیستم، چې هغه هم کاملاً د انساني حقوقو او اسلامي دین د بنسټیزو ارشاداتو په خلاف د یوې تحمیل شوې پېښې او حادثې نه زیات نور څه ارزښت نشي لرلی؛ نو څوک به ورته درناوی وکړي او وبه یې مني؟.

راغلو په افغانستان کې د مېشته و لږکیو قومونو په هکله.

لږکي؛ خو په هر هېواد کې شته ، چې ښاغلي سرباز هم په خپل لیک کې ورته ګوته نیولې ده. په قوانینو کې هم د هر چا حق او حقوق خوندي شوي وو ، زه هم وایم، چې دا کار شوی لا ، چې زما او ستا حق او حقوق هم په قوانینو کې تثبیت شوي وو ؛ خو سرباز به افغان وګڼم، چې په رښتیا سره د افغانستان په ټولو فرهنګي او اداري ارګانونو کې د خپل حق په تناسب خپله ژبه وکاروي؟ دا کار څکه نه شي کولی، چې په افغاني اصطلاح مین او له افغاني بنسټه، چې پښتونولي ده جلا شوی دی. همدې ښاغلي وړاندیز کړی، چې د پښتني سیاست په ځای که افغاني سیاست ته مخه وشي دا به ښه و. "زه هم وایم دا ښه کار دی؛ خو په اوسنیو حاکمو شرایطو او حالاتو کې هغه هم په داسې افغانستان کې، چې لکه د امریکایي فوټبال د لوبې د پنډوس په څېر کله د پاکستان او کله د ایران په لاس کې رغړي، دا لا څه، چې اوس له پولې نه بلخوا هغه خوارکي تاجکان هم برېتونه تاوه وي او افغانانو ته خپل زور ښیي، افغاني سیاست کول به د ټولو انساني حقه حقوقو په چوکاټ کې کله ممکن وبرېښندلای شي؟ چې د افغانستان د اصیلو وارثانو له لاسه د افغاني سیاست اصیله وسله هم د هغوی د دښمنانو په لاس ورغلې او هغه وسله هم شببه په شببه په ماتېدو ده. افغانستان خو پښتنو جوړ کړی، او دا پښتانه دي، چې افغانستان به ساتي.

په پای کې به د "څاپي" د توري په هکله هم څه ووایم :

ما د "څاپي" توری، چې د پښتو ژبې د "څپې" د توري د مصادرو څخه یو اصیل توری دی غوره کړی، چې هېڅکله هم د دین په خلاف کار نه دی. دا په دا ، چې د داسې توریو په کارولو سره څنګه، چې ددې لیکنې په پورتنیو برخو کې ورته اشاره وشوه، هېڅکله هم په دین کې خلل نه پرېوځي؛ بلکې د دین د اصیل بنسټ پر مخ د ملت جوړونې په هڅه کې یو پیاوړی ګام ګڼل کېږي. که د ښاغلي سرباز "صافي" هدف دا وي، چې د عربي توریو پر ځای د پښتو توریو کارول به د عربي فرهنګ سره دښمني وي، آیا دې ټکي ته یې هم کله پام اوښتی، چې د پښتو توریو پر ځای به د عربي توریو کارول هم د پښتني فرهنګ سره دښمني وي او که نه؟ په دې ځای کې زما انګېرنه داده، چې: کوم اسلام، چې په مکه او مدینه کې نازل شوی، هغه په مدینه کې خاورو ته سپارل شوی؛ خو کوم اسلام، چې موږ ته را رسېدلی، دا د عربو فرهنګي یلغار دی، چې د حضرت معاویه له زمانې نه را پدېخوا به د اسلام تر بیرغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې هرې خوا ته صادربدله.

ګڼې اصيل اسلام او هغه، چې به پيغمبر(ص) ته وحې کېدله او پيغمبر(ص) به تبليغاوه هېڅکله هم د کوم ولس د الفبا د توريو سره ضديت نه لاره، او نه هم د کوم ولس د الفبا توري اسلام ته صدمه رسوي لا چې اسلامي دين ته پراختيا بخښي.

هره ژبه د لوی خدای(ج) مخلوق دی؛ نو له دې امله هېڅ يوه ژبه پر بلې ژبې غوره والی او سپېڅلتيا نه لري. کومې ژبې، چې اوس اوس د عربي ژبې په شمول د تقدس وړ برېښي، هغه خو يو اعتباري تقدس دی، چې په اصطلاح کې د هغې ژبې د مجتهدينو له خوا ورته ورکړل شوی.

دا وه زما ځوابيه ليکنه. هيله ده ښاغلی سرباز "صافی" تر هر څه د مخه په هره پېښه، هره موضوع او د هرې مسئلې په بنسټ کې څېړنه وکړي، او بيا دې د هغه په فروعاتو کې د فکر او سوچ نيلی وځغلوي. دا که په اديانو پورې هم اړه ولري. ځکه، چې د غسې کړنه د پوهانو لپاره يو اغنی لياره ده، چې د رښتياو په لوري ورباندې تللی شي.

مبارز ځاپی

27/3/2002 بن، جرمني

دغه ځوابيه ليک د دعوت د خپروني په 138 او 139 ګڼه کې، چې په 1381 کال کې خپره شوې خپرو شو. د دې ځوابيه ليک په ځواب کې بيا يو چا د زلمي "مومند" په نامه د دعوت د خپروني په 141 مه ګڼه کې خپله او ږده نيوکه خپره کړله، چې ګران لوستونکي يې کتې مت دا سې لوستلی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"چې آیا هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی؟"

په لنډ ډول غواړم یو څو حساسو ټکو ته، چې مبارز خاپې د هغې یادونه د دعوت په 138 او 139 ګڼو کې کړې ده اشاره وکړم او تر څنګ یې دا باید په ډاګه شي که چېرې مبارز خاپې دغه لیکنې اشتباهاً کړې وي او یا د احساساتو لاندې یې خپل نشنلیزم داسې سترګې ورپټې کړې وي، چې له یوه اړخه د دین په تعریف او قرآني آیتونو کې نغښتې د زهرو ګولۍ د دعوت لوستونکو ته وړاندې کړې، او په دې ترتیب یې هڅه کړې تر څو یې خپل نشنلیزم په خلکو کې په دغه ډول تزریق کړي. او له بله اړخه هغه د توهین نه ډک کلیمات، چې د دین، شریعت او د هغه پورته یې د اسلام د ستر پیغمبر(ص) په هکله کړې باید الله ته توبه وکاږي.

دین او مذهب:

دین او مذهب یوه عقیده او عملي لاره ده، چې د انساني ټولنې د بهبود او لارښوونې لپاره د الله له اړخه وضع شوې او د پیغمبرانو او انبیاوو په واسطه انساني ټولنې ته وړاندې شوی. دین په خپله یوه عقیده او د یو ژوند یو سیستم دی، او ملت د انساني ټولنې یو ټولګې ته، چې په یوه ځانګړې جغرافیایي پوله کې ژوند ولري ویل کېږي. څرنګه، چې دین د ټولې انساني ټولنې لپاره نازل شوی په دې اساس اسلامي امت د یوې خاصې او ځانګړې ټولنې او یا جغرافیایي پولو پورې محدود نه دی؛ بلکې د ټولې انساني ټولنې سره سر و کار لري. که چېرې انساني ټولنه نه وي؛ نو بیا د دین مانا به څه وي؟ په دې اساس دلته د دین او ملت تر منځ د توپیر او تضاد سوال نه پیدا کېږي. تضادات او توپیرونه تل د دوو هم مثلو او همرنګه موجوداتو تر منځ پیدا کېږي، نه د عقیدې او انسان تر منځ. په یو څیز نه یو څیز عقیده درلودل د انسان یو طبیعي او حتمي ضرورت دی او د نړۍ په هیڅ ګوټ کې به داسې انسان ونه موندل شي، چې په یوه شي نه یو شي عقیده ونه لري؛ نو څرنګه، چې دین او مذهب یوه عقیده او د ژوند یو سیستم دی او ملت د انسانانو ټولنه ده؛ نو په دې اساس دغه دواړه یو د بل لازم او ملزوم دي او یو د بل تکمیلوونکي هم.

دا، چې تاسې کښلي، چې نشنیلیزم د ملت جوړونې مفکوره ده او په خپله د دین د بنسټ سره وصلت مومي کېدای شي ستاسې خپل دید وي. اما دا، چې هڅه مو کړې، چې نیشنلیزم په دین پورې وتړۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر په خطا یاست. او دا په دې خاطر، چې دین په خپل اصل کې د نشنلیزم په خلاف مبارزه ده. اصلاً نشنلیزم د تل لپاره په کوچنیو ملیتونو کې را څرخېږي او د دغې مفکورې په اساس هر یو ملیت د خپلو نشنلیستي ځانګړتیاوو په نظر کې نیولو سره په بل باندې د تفوق او برترۍ ادعا کوي. د ملیتونو تر منځ د شخړو او نه حل کېدونکو لانجو سبب ګرځي. د نظامونو په جوړښت کې حق او ناحق د داسې څه غوښتنې کوي، چې په هېڅ صورت به یې ور نه وي. د دې نه اخوا په نشنلیزم او نشنلیستي ټولنه کې بیا په خپله د هغې ټولنې د وګړو او قبیلو تر منځ یو پر بل د قومیت او پلرني میراث په بنسټ جګړې او شخړې را پورته کېږي او هر یو ځان د بل څخه یو من پورته ګڼي، او نور هم له ځانه ټیټ.

دا مسئله کورنیو ته او بیا په کورنیو کې افرادو او وګړو ته را ښکته کېږي، چې هر یو په خپله کورنۍ کې خپل ځان د بل نه پورته ګڼي، چې مثالونه یې نن په ټولو نشنلیستي خوځښتونو کې زیات لیدل کېږي. اما په دین کې د دغه سیاست نه یوازې سخت مخالفت شوی؛ بلکې د دې سیاست موجد یې شیطان ګڼلی؛ لکه د سورآ بقرآ د 30 آیت په اخر کې، چې راغلي او وایي، چې شیطان آدم(ع) ته د سجدې کولو نه انکار وکړ. دغه انکار د شیطاني سیاست لومړنی بنسټیز اصل جوړوي. دا ځکه، چې هغه د شرعي قانون د فوقیت څخه انکار کړی او د خدای(ج) د امر څخه یې مخ اړولی و. شیطان لویي وکړه، یعنې خپل ځان یې د نورو څخه لوی وګاڼه او د خپل ځان لپاره یې لوړوالی او مطلق العنانیت اختیار کړ. او هغه د کافرانو د ډلې څخه و، یعنې د مسلمانانو په پرتله یې کافرو ته ترجیح ورکړه او د هغو د ډلې سره یو ځای شو. شیطان وویل، چې زه د آدم(ع) نه ډېر ښه یم او دا ځکه، چې زه د اوره پیدا شوی یم او آدم(ع) د خاورې څخه. دا ټول هغه خصوصیات دي، چې د نشنلیزم بنسټ پرې ولاړ دی. د شیطان دغه وینا دا په ډاګه کوي، چې د نیشنلیزم یا قوم پالنې او نژاد پالنې موجد او لومړنی داعي شیطان دی، هغه به ویل، چې عقل هېڅکله دا نه قبلوي، چې د اعلی نسل او نژاد پر ځای ښکته او ادنی نژاد ته د ځمکې د خلافت او سیاست امور ور وسپارل شي. د دې تر څنګ شیطان سوګند وکړ، چې که مهلت ورکړل شي؛ نو د نبغې لارې څخه به خلک خپلې یعنې د ګمراهۍ د لارې په لور سوق کوي او دا د هغه کړنلاره وه؛ لکه څنګه یې، چې د آدم(ع) او د هغه د ماندینې سره وکړل. او د هماغې پالیسۍ دوام دی، چې په نننیو ټولنو کې د نشنلیزم، قوم پرستي، ژبني تعصب، د خپل ځان د علویت ښوولو او تل خپل قوم او ولس ته پرته له موازینو په نورو ترجیح ورکول او خپله هره غلطي توجیه کول او د بل هر نېک عمل د ذهني تنګ نظري او قومي تعصب په اساس محکومول. د خپل قوم او ولس د برترۍ په خاطر د نورو ولسونو نفې کول، هغوی له خپلو کورونو او وطنونو نه شړل..... په څېر سر را پورته کوي. هټلر د خپل جرمن قوم د غلبې او په نوره نړۍ باندې د هغوی د حاکمیت په خاطر د میلیونونو انسانانو په وژلو هم صرفه ونکړه، مګر نتیجه یې برعکس وخته او تر نیمایي زیات جرمنیان په خپله د روس په غلامۍ کې راګېر شول. لېنن که څه هم د یوې ایډیالوژۍ خاوند و؛ خو د خپلو نظریاتو تر څنګ یې د سپینو روسانو د غلبې او حاکمیت په خاطر په میلیونونو انسانان تر تیغه تېر کړل او پاتې یې په دې عصري دور کې د کمونیزم د غلامۍ په ځنځیرونو کې را ونغاړل؛ خو د خپلو منحطو نظریاتو سره یو ځای دا دی د زوال کندې ته پرېوت. امریکا او انګلیس د خپلو سپین پوټکو د تفوق، برترۍ او علویت په خاطر او هغوی ته د اسانتیاوو د پیدا کولو په خاطر د افریقایي نړۍ ټول تور پوټکي د غلامانو په څېر په ځنځیرونو کې وتړل او د اجباري کار د نه کولو په صورت کې د سپین پوټکو د سپیو خوراک

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرځېدل.

نن په دغه معاصره نړۍ کې همدا اوس امریکا ، چې په ټوله نړۍ کې د بشر د حقوقو د ساتلو لپاره خپل ټټر وهي په خپل هېواد کې د تور پوټکو او سرو پوټکو یا ریډ انډینز د بشري حقوقو په هکله چوپه خوله پاتې دي. د امریکا په زیاتو برخو کې هوټلونه اوس هم په خپله دروازه دا لیکنه لري، چې دلته د سپي او تور پوټکي راننوتل منعه دي. په سپینه روسیه کې سور او تور پوټکي اوس هم د جایداد د اخیستلو حق نه لري. په زمبابوې کې د انګلیسي سپین پوټکو لږکیو حکومت په تور پوټکو باندې د ظلم او تېري بې مثاله داستانونه لري او اوس برعکس. انګلیسانو په زمبابوې کې د خپلو ورلېږل شویو سپین پوټکو ، چې د هغه هېواد زراعتي فارمونه یې غصب کړي وو ، د دفاع په خاطر او د خپل قومي نشنلیستي خصوصیاتو او د خپل ځان د علویت په خاطر د هغه ځای د تور پوټکو د نظام په خلاف په کومو کومو کارونو او د سیسو لاس نه دی پورې کړی.

اسرائیلي نشنلیزم د خپل اسرائیلیت د علویت په خاطر د فلسطین په ولس کوم ناتار نه دی راکوز کړی. په هند کې د قومي عصبیتونو او یو په بل د برترۍ لپاره هره ورځ څومره کسان وژل کېږي او هلته د پورته او ښکته طبقې او د اعلی او ادنی نسل په نوم څومره بې ګناه انسانان په بې رحمانه توګه وژل کېږي او په همدې ترتیب په ګران هېواد افغانستان کې د روسانو د ماتې د مخه او د کمونیست رژیم د ړنګېدو تر څنګ روسانو د قومي تعصباتو د راپارولو لپاره له کومو کومو تاکتیکونو څخه کار وانه خیست؟ آیا ټول اقوام یې یو د بل په خلاف د قومي عصبیت په اساس ونه جنګول؟ که څه هم په افغانستان کې قومي تعصب ته لمن وهل اصلاً د انګلیسانو او د هغې وروسته د روسانو له خوا د خپلو مستعمرو د خوندي ساتلو او د خپل اقتدار د دوام په خاطر پیل شوه؛ خو په افغانستان کې دغه اور ته لمن د کمونستو عناصرو له خوا د روسانو او کې جي بي په مرسته هله زور واخیست، چې کمونیزم او روسي لښکرو په مجاهد او مسلمان افغانستان کې نا باوره ماتې وخوړه. دوی، چې ویې نه شوای کولای د خپل ټول ترور او وحشت له لارې او هم د خپلې منحطې ایډیالوژۍ له لارې د افغان ولس مجاهدانه مقاومت ورمات کړي؛ نو د نژادي تعصب د راپارولو لار یې اختیار کړه. یو قوم یې د بل په مقابل کې ورواچاوه، ازبک او هزاره یې د پښتنو سیمو ته او همدا راز د پښتنو ملېشه یې د هغو سیمو ته د قومي او ژبني د ښمنۍ د را پیدا کېدو او فساد په خاطر ورلېږل. روسانو د خپل همدغه کار لپاره په تاجکو کې په مسعود ، په ازبکو کې په دوستم، او همدا راز په هزاره او ځینو خاصو وګړو باندې سرمایه ګذاري وکړه او بالاخره یې د کمونیست ګوند د له منځ تللو په صورت کې د تاجکو د قوم په نوم د احمدشاه "مسعود " او د ازبکو د قوم په نوم د ګلم جم "دوستم" په څېر څېرې په خپل لاس کې واخیستې. او په هغو یې سرمایه ګذاري وکړه، د هغو په واسطه یې په شمال کې قومي تعصبات راوپارول او هغوی یې دې ته وهڅولې، چې د خپل حاکمیت لپاره راپورته شي. "مسعود " یې تر پوزې پورې تقویه کړ، تر څو د تاجکو قوم په ټولو حاکم کړي، او د خپل قوم برتري او علویت پرې رامنځته کړي. مسعود هم د مجاهد او مسلمان په لباس کې د 1982 کال را وروسته د عصبیت دغه اور ته لمن ووهله، او کله چې روسانو کابل وروسپاره؛ نو په هغه وخت کې یې یو ځل بیا د دوهمې سقاوۍ خوب ولید او په دې هڅه کې شو ، چې کابل د نورو ټولو قومونو څخه پاک او یوازې د تاجکو په لاس کې ورکړي، چې په نتیجه کې د زرګونو هېوادوالو په وژلو ، د هېواد په ورانولو او د نظام په له منځه تللو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منتج شوه؛ خو د خپل ټول نشنلیستي او ژبني تعصب دا خوب یې له ځانه سره ګور ته یوړ. او ځای یې طالبانو ونیو؛ لکه څنګه، چې د طالبانو زیاته شمېره پښتانه وو. او دوی هم د اسلام په لباس کې هڅه وکړه چې نور اقوام نفي کړي او یوازې د اسلام تر نامه لاندې د طالبو پښتنو حاکمیت په ټول هېواد قایم کړي؛ خو نژدې پینځه کاله په پرله پسې توګه په ژبني او قومي تعصب کې راګېر وو طالبان دا خوب د خپل ځانه سره اوس د تورو غرونو په تورو سوړو کې پټ ګرځوي.

همدا راز نشنلیستي عصبیت د قدرت لېواله رباني دې ته وهڅاو، چې د خپلې اسلامي مقدسې ایډیالوژۍ په خلاف د نورو اقوامو په نفي کولو لاس پورې کړي او د خپلو ټولو تعهداتو په خلاف د واکمنۍ کرسۍ تر خپلې ملا کلکه وتړي. د یوې باوري سرچینې له مخې کله، چې رباني د خپلې سیارې واکمنۍ په وخت کې د ایران له یوه هیئت سره په ایران کې خبرې کولې؛ نو د هغوی ددې پوښتنې په ځواب کې، چې په کابل کې څومره پښتانه اوسي؟ او هغه ددې پر ځای، چې خپله سنګیني د یو افغان مشر په څېر ایرانیانو ته په ډاګه کړي برعکس ورته وایي، چې زما سره تعاون وکړئ، تر څو دوه کاله نور هم په کابل کې پاتې شم؛ نو دا پاتې پښتانه به هم له کابله وکاږم. او یا د همدې سرچینې له مخې په ازبکستان کې د یو ازبک هیئت د سوال په ځواب کې، چې د پښتنو تاریخ د کومه ځایه پیل کېږي؟ نو ددې په ځای، چې ووایي پښتانه اصلاً د زرګونو کلونو تاریخ لري او ددې خاورې اصلي بچیان دي او په دې ترتیب هغوی ته خپل ولس دروند او عزت مند معرفي کړي، نیشنلیستي او نژادي تعصب یې داسې سترګې ورپټې کړې وې، چې په ډېره بې شرمۍ سره وایي، چې دا یو قوم دی، چې اصلاً د هندوستان څخه مهاجر شوی او د افغانستان په غرنیو سیمو کې یې ځای نیولی... او دا په دې خاطر، چې هغوی ته ځان نژدې کړي او تایید یې تر لاسه کړي او یو څو ورځې نور هم خپلې دغې کاذبې واکمنۍ ته دوام ورکړي؛ خو بالاخره ترې امریکایانو داسې واخیسته، چې ان شاء الله بیا به یې په عمر کې هم ونه ویني. مګر دا، چې کوم نوی بادار پیدا کړي "وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ".

اسلام نه یوازې د یوې سپېڅلې ایډیالوژۍ په توګه بلکې د انساني ټولنې د پرمختیا او د هغوی د لارښوونې لپاره یو مکمل نظام رامنځته کړی. دغه نظام د انسانانو په یوې ټولنې، ملیت، ژبې، قوم او... پورې تړلی نه دی؛ بلکې د ټولې انساني ټګولنې لپاره راغلی د ژوند سیستم دی. انساني ټولنې ته د اسلام غږ د عربو یا عجمو کومې قبیلې ته غږ نه؛ بلکې د "يَا أَيُّهَا النَّاسُ" غږ دی. په همدې خاطر قرآن کریم په ډېرو ځایونو کې د اسلامي ټولنې په جوړښت کې لومړی د انسان او بیا په مجموعي توګه د انساني ټولنې جوړښت تر بحث او څېړنې لاندې نیولی. ځکه قرآن کریم وایي چې: تاسې مې ډلې ډلې او قبایل را پیدا کړي یاست تر څو یو له بله سره وپېژنئ؛ خو تر څنګ یې دا هم فرمایلي، چې په تاسو کې بهتر او غوره هغه دی، چې ډېر متقي او د الله(ج) نه وېرېدونکی وي. ددې تر څنګ د اسلام ستر پیغمبر(ص) فرمایلي دي، چې خبر اوسئ، چې ستاسې عرب په عجم او عجم په عرب یا تور په سپین او سپین په تور هېڅ ډول برتري نه لري. ټول د یو آدم(ع) اولاد یاست او آدم(ع) له خاورې څخه پیدا شوی دی. په تاسو کې بهتر هغه دی، چې ډېر متقي او د الله(ج) نه وېرېدونکی اوسي. ددې تر څنګ د اسلام ستر پیغمبر(ص) د تعصب او عصبیت نه، چې نن د اقوامو تر منځ د برترۍ او علویت لپاره مطرح دی سخت نفرت کړی او فرمایلي یې دي، چې: هر ډول عصبیت "ژبني، قومي نژادي... " وکړي زموږ نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دی، همدا راز فرمايي څوک، چې په عصبيت کې ومړ هغه زموږ نه، نه دی... البته په دې هکله ډېر شمېر آياتونه او احاديث شته، چې دا صحفه يې د نشر توان ممکن ونه لري. د اسلام يو ستر عالم ليکلي، چې ننني تهذيب، چې پرې د ځينو ټولنو، ټولنيز، سياسي او اقتصادي نظامونه چلېږي په درې بنسټيزو اصولو ولاړ دی، چې عبارت له دنيا پالنې (سيکولريزم) "نشنليزم" قوم پالنې او ديموکراسۍ يعنې د خلکو حکومت څخه دی؛ خو ددې په مقابل کې د اسلامي تهذيب فکري، سياسي او اخلاقي اصول کاملاً د هغې پر خلاف دي، ځکه اسلام د سيکولريزم په مقابل کې د خدای(ج) د بندګۍ او اطاعت "طبيعي" ده، چې ددې څخه هدف د الله(ج) له اړخه رالېږل شويو او د هغه د پيغمبر له اړخه د تبليغ شويو ټولو قوانينو مراعات دي.

د نشنليزم يا قوم پالنې په مقابل کې انسانيت پالنې او په يوې محدودې ډلې ټپلې کې د رانغښتو په ځای د ټول انسانيت خدمت کول او دريم د خلکو په مقابل کې د الهي حاکميت موضوع مطرح ده. په دې اساس د اسلامي امت بنسټ او اساس په دغه درې اصولو، چې عبارت له توحيد يعنې د الله(ج) حاکميت، رسالت يعنې د رسول الله(ج) قيادت او دريم نيابتي حکومت يا خلافت باندې ايښودی دی. د غرب د سياسي نظريې په اساس جمهور په خپله بادشاه دی، چې پخپله به قانون جوړوي؛ خو د اسلام سياسي نظريه په جمهوري خلافت ولاړه ده. ځکه په دې نظام کې د هغه شريعت په اساس تلل کېږي، چې د الله له اړخه د هغه رسول اسلامي امت ته وړاندې کړي دي. "اسلامي سياست(187، 189) مخونه".

پيغمبر(ص)، نبي او هادي:

همدا راز هر پيغمبر او نبي چې د الله(ج) له اړخه راغلی د پيغام رسونې تر څنګ يې اجرايي ځواک هم درلود. شاه ولي الله په دې هکله ليکلي، چې نبوت درې ارکان لري، چې عبارت دي له: حکومت او سياست، علم او حکمت، رشد او هدايت څخه. په نبي کې دا درې واړه ارکان په پوره توګه موجود وي. هغه د حکمرانۍ او سياست واک هم لري، که څه هم هغه ته عملاً د منظمې حکمرانۍ وخت په لاس ورنشي. 184 يم مخ.

اما دا بايد په ډاګه شي، چې هادي او لارښوونکی يوازې الله(ج) دی او پيغمبران ټول د هغه په هدايت او لارښوونې باندې نورو انسانانو ته د ښوونکو په څېر مقرر کړل شوي. په قرآن کريم کې په دې مسئله ډېر زيات بحث او څېړنه شوې. په خپله الله(ج) قرآن د هدايت او لارښوونې کتاب ګرځولی او ويلي يې دي، چې "هُدىً لِلْمُتَّقِيْنَ... او يا دا، چې مسلمان په خپل لمانځه کې وايي: اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ.. او يا دا، چې فرمايي: لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا.. او فَاَمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدىً". په دې اساس هادي او هدايت کوونکی يوازې او يوازې الله(ج) دی؛ خو هغه خپل پيغمبران د همدغه هدايت سره يوازې پيغام رسوونکی نه؛ بلکې د اجرائيوي قوت او ځواک خاوندان هم ګرځولي دي. د انبياوو په تاريخ کې داسې کوم مثال نه پيدا کېږي، چې يو نبي دې يوازې په تبليغ اکتفا کړې وي؛ بلکې د هغه سره په جنګ کې د تقنيني او حکمي کارونو په تر سره کولو هم مکلف وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو د يووالي موضوع:

دا چې ولې د ايران مسلمانان د پاکستان د مسلمانانو سره او يا د سعودي مسلمانان د مصر د مسلمانانو سره په يوه واحد اسلامي سيستم کې نه شي راټولېدای، د دين په فروعاتو کې د مجتهدينو له خوا په اعتباري توپيرونو پورې قطعاً اړه نه لري. ځکه لومړی دا چې د مجتهدينو تر منځ په فروعاتو کې دغه توپيرونه هماغه وخت هم موجود وو، چې ټوله اسلامي نړۍ د يوه خلافت لاندې اداره کېده او په فروعاتو کې دغه توپير اوس هم شته؛ خو ددې سره سره بيا هم مسلمانان تر يوه چتر لاندې ژوند کوي. د مثال په توګه په پاکستان کې د اسلام تر نامه لاندې د ټولو مذاهبو خاوندان که شيعه دي او که سني، يو ځای ژوند کوي، همدا راز په ايران کې هم، په ګران افغانستان کې همدا ، اوس شيعه او سني ټول د يو چتر لاندې پرته له کوم مذهبي تبعيض نه د ورورولۍ په فضا کې ژوند تر سره کوي، او د سعودي او مصر د مسلمانانو تر منځ؛ خو مذهبي توپير او جدا والی هم نشته او په دې کې هېڅ شک هم نشته، چې که چېرې په اسلامي نړۍ کې د اوسنيو غاصبو نظامونو پر ځای، چې د صليبي حکماوو په مستقيم او يا غير مستقيم تعاون واکمنۍ ته رسګيدلي دي په اسلام پوه او د پرديو کړيو څخه آزاد عناصر حاکميت تر لاسه کړي؛ نو بيا به دا جغرافيايي پولې په کومو کې، چې اوس دغه ملتونه رانښکېل دي بې کاره وي.

که تاريخ ته وکتل شي؛ نو د اسلامي امت تجزيه او ټوټې ټوټې کېدل؛ خو د صليبي او کليسايي جنګونو نه وروسته صورت ونيو. دا هغه وخت و، چې کليسا او صليب د اسلام په مقابل کې هغه وخت يرغل پيل کړ، چې اسلام د اروپا په دروازه کې استقرار موندلی و، او بشريت، چې د کليسا د ظلم او استبداد نه په تنګ راغلی و، او تر څنګ يې نژاد پالنې او نشنليزم دې حد ته وده کړې وه، چې په نوم د اعلی نسل اسنانانو د ښکته نسل انسانانو ته د بشر په سترګه هم نه کتل، اسلام د خلکو تر منځ يو نوی منل شوی حقيقت و، او خلک د اسلام لور ته ډلې ډلې راروان وو. کليسا خپل ځان په حرج کې وليد او د اسلام په خلاف يې يلغار پيل کړ. د بله لوري کليسا، چې خپل ځانته يې يو نظام درلود او حاکمو سياسي نظامونو سره په اختلاف کې اخته و، د اسلام د مکمل سياسي، مذهبي او اخلاقي واکمنۍ نه په وېره کې وه؛ نو په دې يې بسنه ونه کړه او د خپل فرهنګي يلغار په جريان کې يې د قومونو تر منځ د تفريق او اختلاف روحيه تزريق او ترويج کړه په هغوی کې يې د قوم پالنې او يو د بل په خلاف د ملي ګرايۍ تر عنوان لاندې ددغو موضوعاتو تخم وشينده او ددغه تخم اوبه خور اوس هم کوي، تر دې حده، چې اوس يې راټولېدل ګران؛ بلکې ناممکن ښکاري. ددې تر څنګ يې په داسې حال کې، چې د خپلو ځانونو او ولسونو لپاره د ديموکراسۍ لاره اختيار کړه؛ خو په اسلامي امت او اسلامي هېوادونو کې يې د خپلو جاسوسي شبکو له لارې او خپل مادي تعاون او کومک په واسطه د يو شمېر مزدورو او پلورل شويو عناصرو په واکمن کولو سره هڅه وکړه تر څو په اسلامي امت کې دغه اختلاف نه يوازې په خپل ځای وساتي؛ بلکې نوره هم وده ورکړي. په دې اساس دا اند په خپل ځای بلکل غلط دی، چې ووايو، چې د اسلامي نړۍ مسلمان وګړي د فقهي فروعي اختلافاتو په اساس تر يوه سيستم لاندې ژوند نه شي کولای؛ بلکې بايد داسې وويل شي، چې د اسلامي نړۍ واکمنان د اقتدار په لېونتوب کې د کليسا او صليب په جالونو کې داسې راګېر شوي، چې اسلامي امت ورڅخه د خلاصون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لار نه شي پیدا کولی. ددې تر څنګ یې د قوم، نژاد، ژبې او... په داسې ناروغیو ککړ کړي، چې د خلاصون لار میندل یې ګران دي او که څوک په کې د خپلې آزادۍ لپاره غږ پورته کړي؛ نو غږ یې همل‌ته په یوه نوم او بل نوم خفه کېږي.

د بېرې موضوع:

د بېرې په هکله، چې د کوم توهین نه ډک بحث یادونه "ځاپي "کړي، هغه په هېڅ صورت منطقي نه ده. حقیقت دادی، چې د الله(ج) له اړخه ځومره پیغمبران، چې راغلي هغوی ټولو بېرې درلودې طبیعي ده، چې د مکې مشرکینو هم د اسلام نه دمخه په یوه مذهب پورې تړاو درلود. هغه که ابو جهل و او که ابو لهب. ټول د اسلام نه دمخه د پخوانیو مذاهبو پیروان وو، چې وروسته یې بیا د الله(ج) د عبادت په ځای د تیږو او بتانو پالنه او عبادت پیل کړ او په همدې خاطر، چې هغوی د الله(ج) سره په واکمنۍ، عبادت او ټولو نورو شرعي امورو کې نور خلک شریک ګڼل او لکه د نن په څېر د همداسې بت پالنې، قوم پالنې، تفوق او اعلی نسل په ناروغیو اخته وو؛ نو ځکه ورته مشرکان وایي؛ خو د پخوانیو مذاهبو له مخې یې بېرې هم درلودې. باید په دې وپوهېږو، چې یو مسلمان د الله(ج) عبادت او د هغه د احکامو د منلو او پلي کولو او اطاعت نه اخوا بله لار نه لري. که څوک په کې بله هره وړه یا غټه لار پیدا کول غواړي؛ نو هغه ته نوښت یا بدعت ویل کېږي، او بدعت په خپله په شرک منتج کېږي. د پیغمبرانو سره د مشرکینو په یوه تله کې اچول په خپله په شرک منتج کېږي. په دې هکله بدني عبادت او روژې نیول او یا نور عبادات هېڅ ځای نه نیسي. د اسلام د دین فقهاوو دا خبره په کلکه کړې، چې ټول هغه اعمال، چې د اسلام پیغمبر(ص) په تداوم سره کړي په یو مسلمان موکد سنت او واجب ګرځي. بېره یو د هغو سنتو څخه ده، چې د اسلام پیغمبر یې په کلکه سپارښتنه کړې. څرنګه، چې په هغه وخت کې یهود او نصاراوو، او مشرکینو هم بېرې او بریتونه اوږدول؛ نو ددې لپاره، چې د مسلمانانو او د هغوی تر منځ فرق وشي؛ نو حکم وشو، چې تاسو بریتونه وخریئ او بېرې پرېږدئ. تر څو د نورو قومونو سره مو فرق وشي؛ خو هغوی، چې په دې هکله کمزوري ښودله او یا یې د بریتو په خربیلو کې لږ څه سستي کوله؛ نو د خدای(ج) پیغمبر(ص) د داسې خلکو په هکله وفرمایل، چې: "مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ" یعنې څوک، چې د کوم قوم سره ځان مشابه کړي هغه د هغوی څخه دی. او دا حدیث د هماغه وخته څخه را پدېخوا د ټولو مسلمانانو لپاره تنبیه ده. برعکس کله، چې صلیب او کلیسا ولیدل، چې مسلمانانو بېرې اوږدې کړې؛ نو د کلیسا رهبانیانو خپلو پیروانو ته حکم وکړ، چې بېرې لرې کړئ. او په ځای یې بربت پرېږدئ. همدا راز کلیسا د مسلمانو ښځو د پردې په خلاف داسې تبلیغاتي کمپاین پیل کړ، چې په نتیجه کې یې د ښځې ټول هغه بشري کرامت له منځه یوړ، چې باید درلودای یې. نن ښځه په اروپایي او امریکایي ټولنو کې د نارینه وو د لاس یوه د لوبو آله ده او د نارینه وو د شهواني غریزې د پوره کولو لپاره په هر ځای کې لکه د حیواناتو په څېر استعمالېږي. کلیسا غواړي د خپل همدغه تهذیب په لور اسلامي نړۍ هم راتاوه کړي. په دې خاطر د فرهنګي یلغار تر عنوان لاندې ټول هغه څه، چې د اسلام په خلاف یې لري، اسلامي نړۍ ته صادروي، او تر څنګ یې د اسلامي نړۍ مسلمان کم پوهه وګړي په خپل تهذیب او کلتور کې داسې را ګېر کړي دي، چې خپل کلتور او تهذیب یې ترې بلکل هېر کړی. مګردا، چې په هره غونډه او ټولنه کې، چې کښېني نو حتماً به د خپل کلتور د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتنې لپاره ټېره وهي. اما نه په خپله په ده کې او نه؛ خو به يې په فاميل کې د خپل کلتور اثرات ليدل کېږي.

لباس:

اما هغه څه، چې د پيغمبر(ص) د لباس په هکله يې "څاپې" اند ېښمن کړې، بايد عرض شي، چې په دې هکله هېڅ ډول حرج او اصرار نشته. ځکه د اسلام پيغمبر(ص) د مختلفو رواياتو له مخې چلتار هم تړلې، لونګۍ يې هم پر سر کړې. سر تور سر يې هم لمونځ کړی، وېښتان يې خرېيلي هم دي او پرېښي هم... په دې اساس په دې کې مسلمانانو فقهاوو کوم څه توضيحات نه دي ورکړي؛ خو که چېرې کوم کس وغواړي ټول هغه عبادات، چې د اسلام ستر پېشوا درلودل خپل کړي او ځان د هغې سره مشابه کړي؛ نو طبيعي ده، چې خير به بيامومي. ځکه، چې د پيغمبر(ص) د حديث سره سم يې عمل کړی دی.

د غلامۍ مسئله:

دا بايد په ياد ولرو، چې اسلام د همغه لومړۍ ورځې څخه د غلامۍ د سيستم کړی ورماتې کړي او د هغه جاهلي زمانې دود، کلتور او تهذيب يې په دې هکله ورمات کړ. که چېرې په ابتدايي وختونو کې د غسې څه موجود هم وو؛ خو د بهترينو عملونو څخه يو عمل هم دا و هر مسلمان، چې مالي استطاعت ولري او وکولای شي، چې يو غلام آزاد کړي؛ نو بهترينه صدقه يې کړې؛ خو کله، چې هلته په مدينه منوره کې اسلامي ټولنه جوړه شوه؛ نو بيا د دغې ټولنې د حاکميت په اساس د غلامانو د غلامۍ ځنځيرونه هم ورمات کړل شول. د همدغه ځايه ده، چې اسلام ټولو انسانانو ته د غلامۍ نه د آزادېدو درس ورکړی، د هغه جاهلي زمانې سنتونه؛ خو اسلام ورمات کړل، ښځې او نر يې ټول مدنيت ته رهنمايي کړل، ټول انسانان يې آزاد وګڼل. د ټولو حقوق يې يو په بل يو شان رايج کړل او ټولو ته يې د ظلم، زور، ستم، بې عدالتۍ او محکوميت په خلاف د خلاصون او نجات لاره وښودله. غلامي په هماغه وخت کې، چې څومره محکومېده، نن په اصطلاح په مهذبه نړۍ کې هغومره نه محکومېږي. نن؛ خو په دغه مهذبه نړۍ کې غلامي د هر وخت نه زياته او د هر وخت نه توهين آميزه ده، منتها د غلامۍ شکل تغير موندلی، يوازې په دغه عصري قرن کې د تور پوټکو د غلامولو او د افريقا د لويې وچې څخه په لومو کې د انسانانو د انتقالولو فلمونه همدا اوس زړه بوږنوونکې منظرې رامنځته کوي، او همدا اوس په ټوله غربي نړۍ کې د تور پوټکو د غلامۍ پېښې لکه د پخوا په څېر موجودې دي؛ خو تر څنګ يې د اقتصادي غلامۍ مرحله خپل اوج ته رسېدلې. نن د اسيا او افريقا د لويې وچې زيات هېوادونه د غربي نړۍ د داسې اقتصادي پورونو د بار لاندې کاره شوي، چې د هېوادونو غاصب واکمنان به يې د غلامۍ پرته بله لار ونه لري. نن د درېيمې نړۍ څخه خام مواد (چې د انسانانو تعليم يافته طبقه هم په کې شامله ده) غربي هېوادونو ته په ډېر ارزان قيمت باندې صادرېږي. او بيا بېرته همدغه پاخه مواد په ډېر ستر قيمت واردوي، او هغه هم د پور او سود په شکل کې. اسلام هر ډول غلامـــــــــي محکومـــــــــوي او آن تـــــــــر دي، چـــــــــې د ظـــــــالم

حکمران تر مخه د حق کليمه ويل يا رښتيا ځرګندول جهاد بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان موجودیت:

د ثاپي دا خبره په هېڅ ډول درسته نه ده، چې که چېرې پښتانه نه وای؛ نو افغانستان به نه و؛ بلکې په افغانستان کې ددې هېواد د آزادۍ لپاره د انګلیسي ځواکونو تر روسي سرو ځواکونو پورې ټولو افغانانو تاریخي رول په لږ څه کم او زیات سره لوبولی. د روسانو په خلاف په ستر اسلامي ملي قیام کې ټول افغانان د ایمان او شهادت په جذبې سره، پرته له قومي، نژادي او توکمي توپیر سره د جهاد په یوه سنګر کې جنګېدلي. واضح ده، چې پښتنو به د نورو په نسبت زیات رول لوبولی وي، او زیات وګړي به یې په شهادت رسېدلي وي؛ خو افغانستان د ټولو افغانانو واحد او ګډ کور دی او ټول افغانان په کې د اسلامي ورورګلوۍ د اصل په اساس د پتمن ژوند خاوندان دي. او د داسې پتمن ژوند لپاره دې ته اړتیا لري، چې په افغانستان کې ټول مېشته اقوام که لږکي دي او که ډېرکي. خپل ځانونه افغان وګڼي او یو په بل باندې د برترۍ او علویت لپاره د ژبې، قوم او نژاد د جاهلي خصلتونو په ځای د علم، پوهې او یو بل ته د خدمت د برترۍ او علویت شعار خپل کړي. هېڅ یو قوم او ژبه د نشنلیزم د شعار لاندې علویت نه شي تر لاسه کولای. تر څو، چې د هغه قوم وګړي په علمي، اقتصادي او سیاسي ډګرونو کې د هغې د ودې لپاره کار ونکړي. د همدې زیار نتیجه ده، چې نن انګلیسي، عربي، فرانسوي او فارسي ژبې یا خو په ټوله نړۍ او یا هم په سترو سترو منطقو باندې حاوي دي. د اسلام دین د ژبو زده کړه د اسلام د ستر پیغمبر د حکم په څېر معرفي کوي او خپلو پیروانو ته حکم کوي، چې د نورو اقوامو ژبې زده کړئ، تر څو د هغو سره د ښه تفاهم لپاره لاره پرانستله شي.

آیا د اسلام دین رښتیا هم د عربو فرهنګي یلغار دی؟ د "ثاپي" دغه لیکنه، چې وایي د اسلام اصلي دین، چې په مکه او مدینه کې نازل شوی و هغه په مدینه کې خاورو ته سپارل شوی او دغه اوسنی دین د عربو فرهنګي یلغار دی. کاملاً د هغه په جهالت او ناپوهۍ باندې دلالت کوي. ځکه له یوه اړخه هغه د همدغه دین له مخې د خپلې لیکنې په لومړیو کرښو کې استدلال کړی او بیا یې وروسته په ټول دین د بطلان لیکه راښکلې ده. لوستونکي نه پوهېږي، چې ددې جملې څخه مقصد څه دی؟ د اسلام دین؛ خو هماغه دین دی، چې په مکه او مدینه کې نازل شوی او بیا یې په مدینه کې د لومړنۍ اسلامي ټولنې بنسټ کېښودل شو. او د هغې وروسته نورې نړۍ ته په خپله د اسلام د ستر پیغمبر په وخت کې او هم د هغې وروسته د هغې د خلفاء راشدینو او نورو مسلمانانو له خوا ټولې نړۍ ته ورسېد. نن د اسلام د دین رڼا په ګرده نړۍ کې خپره ده، په دې هکله مسلمانو او غیر مسلمانو علماوو خپل تحقیق او څېړنو ته دوام ورکړی او د اسلام دین د حقانیت او علمیت په هکله نوي انکشافات کوي. او ګڼ شمېر هغه انسانان، چې په اصطلاح د متمدن غرب د اخلاقي زوال نه زړه بدي شوي او د انساني کرامت او حرمت په لټه کې دي، د خپل ځان لپاره د خلاصې لاره اسلام ګڼي. یو کوچنی مثال یې د هغې ښځینه ژورنالستې دی، چې د طالبانو د زوال په وروستیو ورځو کې په جلال آباد کې لس ورځې زنداني شوې وه او هلته یې د اسلام په هکله لومړنۍ مطالعه په هغه لږ وخت کې تر سره کړې وه، او بیا په لندن کې یې د پوره تحقیق او څېړنې وروسته د اسلام دین قبول او خپل ځان یې مسلمان اعلام کړ او همداسې د اسلام دین داسې یوه پدیده ده، چې د انسانانو تر اخري وګړي پورې به د ځمکې په مخ موجوده وي، او دا ځکه، چې ددې دین رالېږونکی او جوړوونکی الله (ج) دی او الله(ج) تل پاتې، ژوندی او حَي او قیوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی.

که چېرې ددې جملې څخه ستاسو مقصد د پیغمبر(ص) وفات وي او فکر کوئ، چې د پیغمبر نه وروسته دین پاتې نه دی، او آیا دا، چې ستا د خلاصې نه تر مستخصله پورې په کتابونو کې داسې څه له نظره تېره شوې وي؛ نو دا ستا د نظر تنګ والی، د علم او پوهې کمښت او د پوچو او میان تهي نظریاتو په تنګنا کې د اسلام د دین په هکله سوچ او فکر او بالاخره د اسلام څخه په مکمله توګه لرې والی او عقده ښیي، چې ته یې دې ته وهڅولې تر څو د دین په هکله داسې کلیمات استعمال کړې. الله(ج) فرمايي، چې نن مې ستاسې دين تاسې ته تکميل کړ او په تاسې مې خپل نعمت "د اسلام دين تمام کړ او تاسې ته مې د اسلام دين غوره کړ. ددې آیت له مخې د اسلام دین د الله(ج) له اړخه پیغمبر(ص) راوړلی، په خپله پیغمبر(ص) ددغه دین د پلي کولو، عملي کولو، تشریح کولو او خلکو ته د رسولو ستر رسالت په غاړه درلود؛ خو په خپله پیغمبر ددې دین موجد او خالق نه دی؛ بلکې ددې دین خالق الله(ج) دی د پیغمبر د وفات نه وروسته د الله(ج) کتاب او د پیغمبر(ص) سنت په پرله پسې توګه په انساني ټولنه کې ګردش کوي او د زده کړې او تحقیق لپاره یې د ریسرچ ستر ستر مرکزونه، نه یوازې په اسلامي نړۍ کې؛ بلکې په غربي نړۍ کې هم، کلونه کلونه راهیسې پرانستې او کار کوي؛ خو تر اوسه پورې د غربي پوهانو د ډلې څخه، چې د اسلام په مطالعه مصروف دي یوه هم دغسې نظر لکه تاسې، چې د نشنلیزم د تنګنا نه راوښتلی نه دی ورکړی."

دا وه د ښاغلي "مومند" لیکنه، چې کټ مټ ولیکل شوه. ددې لیکنې په ځواب کې ما هم یو څه ولیکل او د دعوت خپروني ته مې واستول؛ خو په دعوت کې لا تر اوسه پورې نه ده خپره شوې. هغه څه، چې ما لیکلي دا دي ګران لوستونکي یې په لاندې ډ ،ل مطالعه کولی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی؟

د پورتني سر لیک لاندې ښاغلي زلمي "مومند " د دعوت خپروني په 141 ګڼې کې زما د "هر دین په خپل بنسټ کې نشنلیزم دی " لیکنې پر خلاف په خپلې انتقادي لیکنې کې نشنلیزم ته ډېر زیات بد او رد ویلي او زه یې هم ښکنځلی یم، چې ګڼې ما به نعوذ بالله کفر ویلی وي او باید توبه وباسم. "
د خدای بخښلي ملنګ جان وینا ده:

څوک به په رښتینه د رښتینو طرفدار شـــي
مــه وایه رښتیا راباندې سر به مې په دار شي

تر دې د مخه، چې زه د رښتیا و دغه دار ته ودانګم او زلمي "مومند " ته څه ولیکم، غواړم د ګناهونو په هکله څه ووایم: یو انسان که هر څومره له ګناهونو پاک او سپېځلی هم وي؛ خو د لوی خدای(ج) په وړاندې مجبور دی توبه وباسي او بخښنه وغواړي. همدغه سبب دی، چې لا پیغمبرانو او انبیاو هم همېشه د لوی خدای(ج) په وړاندې له شیطان نه پناه او له ګناهونو څخه ژغورنه او بخښنه غوښتله. زه، چې یو ډېر کوچنی انسان او یو ډېر ستر ګناهګار یم، ولې به توبه نه وباسم او له لویه خدایه به بخښنه نه غواړم؟ له دې امله په هر لمانځه کې له لویه خدایه غواړم، چې ما ته د سمې لیارې هدایت وکړي، د شیطان له وسوسو مې وژغوري او ګناهونه مې راوبښي. او په هر لمانځه کې هم د لوی خدای(ج) پر محبوب استازي درود استوم. د لمانځه سره جوخت د روژې فریضه هم ادا کوم؛ خو د نصاب خاوند نه یم، چې زکات ورکړم. حج راباندې هم فرض شوی نه دی، ځکه، چې شتمن نه یم؛ خو د ثواب لپاره نیت لرم یو ځل د مبارکې کعبې زیارت ته ورشم. له فرایضو او وجایبو نه وروسته په حسناتو او صدقاتو کې هم هلې ځلې کوم، چې له چا نه وروسته پاتې نه شم. قاتل نه یم، د چا حقوق مې نه دي غصب کړي. د چا پر ناموس مې بلوسه نه ده کړې. وطن پلورونکی نه یم، او ولس مې پر چا نه دی پلورلی. دروغ مې نه دي ویلي، او څوک مې نه دي دوکه کړي. خدای(ج)، قرآن او پیغمبر ته مې خیانت نه دی کړی. د اسلام په نامه هېڅکله او هیچرته ناوړه استفاده مې نه ده کړې. پر خپل لاس مې ګټلې او په خپله مې خوړلې، چې خپل دغه ټول کړه وړه مې د اسلام د مبارک دین د احکامو سره سم ګڼلي دي. هڅه مې کړې، چې په دغه لیاره کې د لاپسې پراخې پوهې او کړنې خاوند هم شم. ځکه، چې پوهه او د پوهې سره جوخت سمه کړنه د اسلام د دین له اصولو څخه شمېرل کېږي؛ نو زړه مې پر ښاغلي زلمي "مومند " باندې وسوځېده، چې عاجز د مذهبي تعصب د افراط له امله که څوک، چې پر خره سور وي او خر نه ویني هم د نشنلیزم غندنه کوي او هم ځان زلمی "مومند " معرفي کوي. که چېرته نشنلیزم دده په ګروهه دومره بد او د غندنې وړ وي؛ نو بیا ولې یې پر خپل ځان د پښتو نوم ایښی او ځان یې د پښتون په ټبر کې شمېرلی؟ هغه ته؛ خو د هغه د ګروهې له مخې لازمه وه، چې د پښتون د نوم پر ځای د عربي نوم غوره کړي او د پښتون د ټبر پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کوم عربي تېر ته يې ځان منسوب کړی وای.
ځکه، چې د زلمي "مومند " په خبره د متعصبو مذهبي ډلو په ګروهه عربي نوم، عربي ژبه، عربي فرهنګ او عربي تېر خو د اسلام د دين بېخ او بنسټ ګڼل کېږي. لکه، چې په دې هکله د زلمي "مومند " نه مخکې د سرباز "صافي " په نامه هم يو چا زما د نامه د "ځاپي " پر توري نيوکه کړې او هغه يې د عربي ژبې او فرهنګ سره په دښمنۍ کې ګڼلی و.
په هر حال مانه غوښتل د زلمي "مومند " د نيوکې په هکله څه وليکم ځکه، چې هغه راته د هغې د ليکنې له مخې ډېر زيات افراطي متعصبه مذهبي وبرېښنده، چې متعصبه مذهبيان ددې حق چاته نه ورکوي څو خپل ديني نظر هم ووايي. دلته مې يو متل راپه ياد شو:
يو سړي له يو چا نه وپوښتل، چې نوم دې څه دی؟ هغه وويل: خدای، پوښتونکي ورټوپ کړل او له ستوني يې کلک ونيو او په مرګ يې تهديد کړ، چې ته لا ځان ته خدای هم وايې؟ هغه سړي ورته وويل: نه وروره داسې نه ده، تربيردي خو مې پرېږده. زما نوم خدای نه دی؛ بلکې خدای بيردي دی. "
د متعصبه افراطي مذهبيانو عادت هم همدغسې وي، چاته تربيردي چانس نه ورکوي؛ خو کله، چې مې د زلمي "مومند " د ليک دغې کرښې ته پام شو، چې دين او مذهب ته يې په کې په يوه سترګه کتلي دي او دا دواړه يې د لوی خدای(ج) له اړخه ګڼلي، د پارسي ژبې شاعر دغه وينا راپه ياد شوه، چې وايي:

اگر بینی که نابینا و چاه اســت
و گر خاموش بنشینی گناه است

ځان مې مجبور وګاڼه، چې يو څه ورته وليکم. ښاغلي زلمي "مومند " د خپل ليک په مقدمه کې داسې ليکلي دي: دين او مذهب يوه عقيده او عملي لاره ده، چې د انساني ټولنې د بهبود او لارښوونې لپاره د الله(ج) له اړخه وضع شوی او د پيغمبرانو او انبياوو په واسطه ټولنې ته وړاندې شوی. "
دا وه د ښاغلي زلمي "مومند " د ليکنې کټ مټ يوه برخه. نومړي په روښانه توګه دين او مذهب دواړه د لوی خدای(ج) له اړخه ګڼلي او په خپل اوږده ليک کې يې لا څو څو ځايه هم مذهب ته د دين په سترګه کتلي دي. ښاغلي زلمي "مومند "، چې په خپلې ليکنې کې په اسمانونو کې د آدم عليه السلام او د ابليس لعين قصه په خوږه ژبه وړاندې کوي؛ خو په ځمکه کې ددې توان نه مومي څو د دين او مذهب ترمنځ توپير ووينې. سره ددې، چې زما په پخوانۍ ليکنې کې د دين، ملت، امت او مذهب په هکله د اسلامي نړۍ د علماوو دريځ هم وړاندې شوی و. په هغه ليکنه کې مې روښانه کړې وه، چې دين په لغوي معنی عقيده او ملت ته وايي، او همدا رنګه په کې ويل شوي وو، چې: دين لوی خدای(ج) ته ملت او امت پيغمبر ته او مذهب مجتهد ته منسوب دی. "زلمي "مومند "، چې مذهب لوی خدای(ج) ته منسوبوي ښايي د هغه به خپل ابتکار وي؛ خو زه غواړمه په دې ځای کې د لاپسې روښانتيا لپاره نور هم تم شم.
ښه مې په ياد دي کله، چې د شپږو کلونو شوم، د پلار له خوا د جومات ملاصاحب ته وروستل شوم، چې لمونځ زده کړم. ملا صاحب راته لمونځ او د لمانځه قواعد را زده کړل او بيا يې په غوږونو کې راته دغه څو ټکي هم راننو ېستل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چا درنه وپوښتل، چې بنده د چا يې؟ وو ايه، چې بنده د لوی خدای(ج) يم. که چا درنه وپوښتل، چې په ملت د چا يې؟ وو ايه، چې په ملت د ابراهيم خليل الله يم. که چا درنه وپوښتل، چې په امت د چا يې؟ وو ايه، چې په امت د محمد مصطفی يم. که چا درنه وپوښتل، چې په مذهب د چا يې؟ وو ايه، چې په مذهب د امام اعظم ابو حنيفه رحماً الله عليه يم. که چا درنه وپوښتل، چې ولې په مذهب د ابو حنيفه يې؟ وو ايه، چې په دغه مذهب کې افراط او تفريط نشته او يوه منځنۍ لاره ده؛ خو ملا صاحب ماته دا ونه ويل، چې په مذهب د لوی خدای يا د پيغمبر يې. يوازې دومره يې وويل، چې بنده د لوی خدای(ج) يې او بس. کله، چې را لوی شوم؛ نو ما ددغو پورتنيو خو ټکيو په هکله، چې د ګروهې بنسټ ګڼل کېږي. د لاپسې پراخې پوهې د لاس ته راوستو په لياره کې د توان په اندازه اسلامي فقهه ولوستله بيا مې اسلامي تصوف او اسلامي تاريخ کې مطالعه او ورپسې مې د نړۍ د اديانو په هکله د خپلې مطالعې لړۍ اوږده کړله، چې اوس اوس دې ځای ته را رسېدلی يم، چې وو ايم:

لوی خدای(ج) په خپلې ازلې ارادې سره د ابراهيم خليل الله حنيف ملت په دغو دريو امتونو وېشلی دی: موسوي امت، عيسوي امت او محمدي يا اسلامي امت. کوم مذهب، چې په دغو امتونو کې د هغوی د لومړيو لارښوونکيو نه په وروسته زمانو کې راټوکېدلی او لا تر اوسه موجوديت لري. هغه د هغه امت د علماو له خوا د ځينو ټولنيزو او سياسي شرايطو له مخې په شريعت کې د اجتهاد له لياري رامنځته شوی دی. يعنې: امت د ملت له بدن څخه د لوی خدای(ج) د هدايت له مخې او د وحې له لياري را جدا شوی دی. وګورئ د المائدآ سورآ **48** آيت او د النحل سورآ **123** آيت او داسې نور. مګر مذهب د امت له بدن څخه د مجتهدو علماو له خوا را جدا شوی؛ نو ځکه مذهب مجتهد ته منسوب دی، نه لوی خدای(ج) يا پيغمبر ته. د المائدآ سورآ د **48** آيت د صراحت له مخې د امتونو تر منځ يوازې اختلاف روا دی نه د ښمنې. مګر په دغو امتونو کې، چې کوم مذاهب راټوکېدلي دي هغوی د امتونو تر منځ د اختلاف په ځای ډېره ستره دښمني او مخاصمت پيل کړی، چې دغه چال چلند ددې درې واړو امتونو په منځ کې داسې جداوالی رامنځته کړی، چې د يوه ملت په څېر د بيا رامنځته کېدو هڅو هېڅ سوچ او فکر هم نه ترسترګو کېږي. يهوديان فلسطينيان وژني او فلسطينيان يهوديان. همدارنګه د عيسوي امت متعصبه مذهبي ډلې، چې همدا اوس يې په سر کې بوش ودرېدلی د اسلامي امت متعصبه مذهبي اسامه په بهانه لګيا دی د اسلامي امت بې ګناه وګړي وژني، چې اسامه هم د عيسوي امت پر بې ګناهو وګړو مرګاني حملې کوي. په دې جريان کې هېڅ يو يې د خدای(ج) د هدايت سره سم، چې اختلاف بايد د خبرو له لياري حل شي په اختلاف معتقد نه دي او لګيا دي د مخاصمت او جګړې له لياري غواړي ابراهيمي ملت، چې درې ګونی امت دی محوه او نابود کړي. مذاهب، چې له بنسټه د سياست له خېټې رازېږېدلي، د تاريخ په اوږدو کې هم تل د سياست د څوباړې په توګه استعمال شوي دي. تېرې پېړۍ به پرېږدو او همدا په افغانستان کې د جهاد د دوران څو کلونو ته به نظر واچوو.

1- افراطي متعصبه مذهبيانو په افغانستان کې په زرګونه افغاني ځوانان يوازې په دې ګناه ووژل، چې دعای قنوت يې نه وه زده. ښايي زلمي "مومند "به هم اوربدلي وي.

2- افراطي متعصبه مذهبيانو د ننګرهار د خېوې ولسوالۍ ښځې او نجونې د جنګي غنيمت په نامه او په دې دليل، چې پيغمبر هم همداسې عمل کړی دی پاکستان ته وروستل او د وينځو په څېر يې وپلورل، چې ښايي زلمي مومند به هم اوربدلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- افراطي متعصبه مذهبيانو د تورخم يو ټولي امنيتي عسکر، چې کمونيستي حکومت نه اوښتي او مجاهدينو ته تسليم شوي وو، هم ټول ووژل او مړي يې د تورخم پر سرک واچول.

4- کله، چې طالبانو په کابل کې د عبد العلي مزاري د قوماندانۍ مرکز ونيو، له هغه ځايه يې يو شمېر زياتې لوڅې او بربنډې ښځې او نجونې راووېستلې، چې دغه مرکز هم د افراطي متعصبه مذهبيانو مرکز و. ښايي زلمي مومند به هم اورېدلي وي.

5- افراطي متعصبه مذهبيانو د کابل په ښار کې د ډېرو بې ګناهو انسانانو پر سرونو مېخونه ټک وهل او د ډېرو بې ګناهو ښځو تيونه يې پرې کړل او د ډېرو بې ګناهو انسانانو د مړيو د نڅا فلمونه يې هم جوړ کړل، چې ښايي زلمي مومند به هم اورېدلي وي.

6- همدا اوس هم داسې متعصبه افراطي مذهبيان شته، چې هېڅکله د خدای(ج)، د خدای(ج) د رسول او د قرآن شفاعت نه مني؛ خو د علي، حسن يا حسين نوم، چې ورته واخلې له سر او مال، ننګ او ناموس نه به هم در تېر شي.

7- مذهبيانو د شبرغان د ليلي په دښته کې زرګونه طالبان ژوندي تر خاورو لاندې ښخ کړل، چې ټوله نړۍ ترې خبره ده.

8- مذهبيانو، چې همدا اوس پر افغانستان باندې د "حکومت اسلامي" په نامه هم واکمن دي، په زرګونه طالبان د کندز، مزار او شبرغان په لاره کې په کانتينرونو کې ووژل.

داسې او دا رنګه نور ډېر افراطي مذهبيان شته، چې زلمي مومند يې مذهب لا د خدای(ج) له اړخه ګڼي. وګورئ لکه څرنګه، چې دغه ټول مذهبيان د سياست له خېټې زېږېدلي دي، د دوی له مذهب نه هم سياسي ګوندونه جوړ شوي دي. څرنګه، چې هغوی له دين نه څه وقوف نه لري، دين هم د هغوی له مذهب سره څه اړخ نه لګوي. په افغانستان کې مو وليدل، چې تر يوې زمانې پورې افراطي متعصبه مذهبيان د يوه سياسي واحد ګوند په توګه وکارول شول؛ خو، چې کله د سياسي واکمنانو ګټو، روا وګڼله پر هغو ګوندونو باندې د خراړي نوم کېښودل شو او د شر او فساد د عاملينو په توګه سپک شول. دويمې ډلې، چې د طالبانو په نامه د هغوی ځای ونيولو هغوی هم د ګوندونو په توګه کار پيل کړ. د خراړو او د ګوندونو لانجه لا روانه وه، چې ستر سياسي واکمن په غړمبا شو او چيغې يې کړلې، چې: ګوندونه؛ خو نور ګوندونه نه دي؛ بلکې غوبارونه دي، چې زموږ غوايان چيچي او بايد نابود شي. هماغه و، چې په غوبارونو پسې راغلل او داسې يې وټکول، چې پاغونډي يې لا د کيوبا تر ګوانتانامو پورې هم ورسېدلې. مګر ځای يې هماغو پرونيو د شر او فساد خراړو ته وسپارلو، چې د ډېرې خواشينۍ ځای دی.

وايي چې: "د تارو يې کيزه وي، د هغه آس به څه مزه وي؟".

د خراړو د واکمنۍ دويمه دوره، چې امريکايي بې 52 ډوله الوتکو په کې مارشال او قهرمانان زېږولي بيا هم د افراط او تفريط، د شر او فساد نه ډکه دوره وختله.

په هر حال د افراطي مذهبيانو د جهاد نتيجه؛ خو اوس په همدې ځای او په همدې توګه د نړيوالو تر سترګو کېږي. وبه ګورو، چې په راتلونکو مياشتو او کلونو کې د اوسني اسلامي دولت له ګوندونو نه به ستر واکمن بله بده بلا جوړه کړي او که نه؟ زما خبره دلته داده، چې داسې نظامونو ته نه زه ديني نظام ويلی شم او نه هم د اسلام دين هغه ته اسلامي نظام وايي. ځکه ددې نظام هر واکمن په زرګونه بې ګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان په قصدي او عمدي توګه وژلي دي. کوم، چې د قرآني آیت د صراحت په مخ چا، چې کوم مومن مسلمان په قصدي او عمدي توګه وژلی وي، هغه هېڅکله د لوی خدای(ج) له خوا د بخښلو وړ نه دي او د جنت مستحق نه کېږي. ځکه، چې د جنت مستحق نه وي؛ نو هغه به څنګه د دې وړتیا ولري، چې اسلامي نظام جوړ کړای شي لا، چې د مسلمانانو په وژلو هم بوخت وي؟ هیله ده، چې ښاغلی زلمی مومند او د هغه ملګري به د بصیرت په سترګو د دین او مذهب تر منځه توپیر وویني.

ښاغلي زلمي "مومند" په خپلې لیکنې کې طالبان د ناسیونالیستانو په نومونو نومولي او د هغوی ټول کړه وړه یې ناسیونالیستي ګڼلي دي، چې زه یې د دې لاندې ټکیو پر بنسټ ردومه:

1- یوه ډله، چې د مذهب پر اساس یو لوی ملک د ډیرې په نامه یرغمل ونیسي او پر خلکو په زوره ډیره او رېږه کړي؛ نو هغه به څنګه ناسیونالیستان وي؟

2- یوه ډله، چې په هر ګام کې یې ناسیونالیستان ټکولي دي، هغوی به څنګه ناسیونالیستان وي؟

3- په ایران کې خمیني د اسلام ناري وهلې؛ خو کله، چې یې ولیدل ایران ته خطر متوجه دی، اسلام ته یې شا کړله او ایران ته یې مخ. مګر په افغانستان کې طالبانو د خطر په مهال کې وطن ته شا کړله او مذهب ته مخ. آیا ناسیونالیستان داسې وي یا که هغسې؟

4- وګورئ پیغمبر(ص) هغه بتان مات کړل، چې عبادت یې کېده. مګر د عربو په خاوره کې لا تر اوسه پورې ډېر ستر ستر بوتان پاتې دي، چې چا ورته د دښمنۍ په سترګه لا څه، چې د مخالفت په سترګه هم نه دي کتلي. عربانو خپل بتان د پیغمبر(ص) په قول د عبرت نښې وګڼلې او ویې ساتلې. مګر زموږ د سیمې زاړه او متروکه بتان یې تل د کفر او جهالت نښې وګڼلې او زموږ د سیمې پر متعصبو افراطي مذهبیانو یې ماتې کړلې.

دغه او داسې نور اعمال دي، چې په روښانه توګه ښیي څه، چې طالبانو غوښتل او کول هغه نه یوازې د اسلام په دین پورې اړه نه لرله، چې په ناسیونالیزم پورې یې هم څه تړاو نه لاره. خو د عربو د فرهنګ د تعمیم په لاره کې سوچه مذهبیانه وو. داسې ډلې لا په تېرو زمانو کې هم زموږ په سیمه کې راميدان ته شوې وي، او په راتلونکو زمانو کې به هم د دې امکان ډېر زیات وي، چې په بیابیا توګه په مختلفو نومونو او شکلونو رامنځته شي.

دا یوازې افغانستان نه دی، چې د دا رنګه پېښو شاهد ګرځېدلی دی؛ بلکې په ایران کې هم د خمیني نظام د مذهب پر بنسټ کارول شو، چې ډېر بنه وکارول شو.

دین پراخه لمن لري؛ خو مذهب لکه څرنګه، چې په ایران او افغانستان کې وازمېیل شو د ډېرې تنګې حوصلې او متعصبې سیني خاوند دی. کوم جنایتونه، چې د شیعه او سني په نامه لا زموږ د سترګو په وړاندې په ایران، افغانستان او پاکستان کې همدا اوس اوس په تکرار سره پېښ شوي او لا به هم پېښ شي، د مذهب او مذهبیانو کار دی، چې هېڅکله په دین او دین منو کسانو پورې تړاو نه لري.

ښاغلي زلمي "مومند" په خپلې لیکنې کې د ډیرې په هکله هم ښې خوږې خبرې کړې دي؛ خو د دې متل په اساس چې: "دوست دې ژړوي او دښمن دې خندوي". ما د دوست په جامه کې د ډیرې په هکله په هماغه وخت کې ترخې خبرې کړې وې، چې لا زموږ زلمی "مومند" یې هم وژړاو، هاغه نېک او معقول حرکت، چې زلمي "مومند" په خپلو خوږو خبرو کې ورته اشاره کوي د عمل په ساحه کې هېڅ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدل کېږي. ځکه؛ نو د ږيرې مسئله ډېره پېچلې ده. که مو په ياد وي د جهاد په دوران کې په پېښور کې هېچا دا حق نه لاره، چې بې له ږيرې د شمشتو کمپ ته ورشي. داسې پېښې هم وشوې، چې د کوم مهاجر نژدې خپلوان به په شمشتو کې مړ و؛ خو هغه به د ږيرې د نه لرلو له امله پر جنازه نه شو سوبېدلی. بيا، چې کله د طالبانو وار راغی، هغوی؛ خو د افغانستان هغو ټولو برخو ته، چې تر واک لاندې يې راغلې وې، هېچاته دا حق نه ورکاوه، چې بې له ږيرې ورشي. موږ د جهاد په دوران کې د غو مذهبي ډلو سره هم په دې هکله ډېر زيات په لانجه کې وو. هغوی به چاته، چې ږيره نه لرله، لا د کافر خطاب هم کاوه. مګر خوښي په دې کې ده، چې "زمانه" خپل کار کوي او هېڅوک په يوه حال کې نه پرېږدي. داسې مهال هم راغی چا، چې مسلماني يوازې په ږيره ګڼله او غوښتله، پر هغوی نور د ږيرې په نامه ډالرې او کلدارې بندې شوې، مجبور شول، لکه د نورو بې ږيرو په څېر کار وکړي او د کار له لياري نفقه پيدا کړي. دا، چې کار والاو به ږيرور ته کار نه ورکاوه؛ نو هغوی هم مجبور شول د نفقې د پيدا کولو لپاره له خپلو ږيرو تېر شي. په دې توګه په ډېره لږه موده کې د ږيرو مسلمانانو خپلې ږيرې وباېللې او لکه موږ غوندې بې ږيرې شول. نور؛ نو زموږ وار و او ورته به مو ويلې، چې څه شوه هغه د ږيرې مسلماني؟ د هغوی ځواب يوازې دا و، چې: موږ نه پوهېدو، او اوس پوهېږو، چې مسلماني په زړه ده نه په ږيره.

دلته زه د زلمي "مومند" خبره خپله ګڼم، چې ږيره لرل له حسناتو څخه ده. ما هم په خپل يو شعر کې لا پخوا داسې ويلې وو:

ږيره که ګاڼه د سړيتوب مــــې ده
مه وايه چې لنډه يا اوږده يــې کړه

جبر او اکراه، زجر او تکليف، بند او ځنځير له سيئاتو څخه شمېرل کېږي، چې طالبانو له دغې لياري پر خلکو ږيرې اوږدولې. زما په اند د سيئاتو له لياري د حسناتو رواجول به هم په هېڅ يوه دين کې روا نه وي. زموږ بد مرغي په دې کې ده، چې پر موږ باندې افراطي مذهبيانو تل د سيئاتو له لياري حسنات رواج کړي دي.

د ږيرې په هکله د طالبانو نيت متعصبه مذهبي نيت و نه د ميني نيت. کله، چې په نيت او عمل کې جبر او اکراه ځای ولري حسنات هم په سيئاتو بدلېږي؛ لکه، چې هماغسې هم وشول. طالبانو پر خلکو د سيئاتو له لياري، چې: وهل، ټکول، بند او ځنځير و، ږيرې ګاوږدې کړلې؛ خو، چې کله د طالبانو واکمني ړنګه شوه، هغه په زوره اوږدې شوې ږيرې هم د تنفر او کرکې په سيند کې لاهو شوې.

په پای کې د روان بحث لمنه په دې ټکيو کې رانغاړم:

1- دين په لغوي معنی کې عقيده او ملت ته وايي، هغه مذهبيان، چې عقيده منې او ملت ردوي، يا هغه ملت غوښتونکي، چې ملت منې او عقيده ردوي، په روښانه توګه په غلطه او خطا تللي دي. زما په اند دغه دواړه خواوې دې په خپلو تګلارو کې نوې کتنه وکړي، او ځانونه دې د دين په بنسټ، چې عقيده او ملت دي، عيار کړي. ځکه، چې عقيده او ملت يعنې: "دين" د انسان د معاد او معاش بنسټ دی کوم، چې بې له معاد او معاشه ژوند څه ارزښت نه لري. نېکمرغه به هغه کسان وي، چې هم معاد ولري او هم معاش، چې دا دوه توکي يوازې د دين د اصولو په خپلولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلېدا ی شي او بس.

2- د ابراهيمي حنيف ملت د امتونو تر منځ، چې کومې دښمنۍ رامنځته شوې او ابراهيمي ملت يې د انهدام د خطر سره مخامخ کړی دی، دا د هغو مذاهبو د چال چلند نتيجه ده، چې په دې امتونو کې راټوکېدلي او واکمنه شوې ده. زما په اند د ملت د تحفظ په خاطر ضروري ښکاري، چې د ملت د امتونو څخه د دين په اصولو مينو پوهانو او عالمانو يوه غښتلي جرگه جوړه شي، ځو دغه جرگه د امتونو تر منځ هغه ټول اختلافي موضوعات، چې پرې دښمني او جګړې رواني دي، د خبرو له لیارې په سوله ييزه توگه حل او فصل کړي او د افراطي متعصبه مذهبي ډلو دجگړه ييز سياست مخه دې ونيسي. ځکه، چې همدا اوس د افراطي متعصبه مذهبي ډلو جګړه ييز سياست د نړۍ سولې او امنيت ته ستر گواښ پېښ کړی دی.

په نړۍ کې د سولې او هوساينې په هيله.

مبارز "څاپی"

12/12/2002 بن، جرمني.

زما دغه پورتنۍ ځوابيه ليکنه، چې ما د دوه زرم کال د دسمبر په مياشت کې د دعوت د خپروني په پته استولې وه، سره ددې، چې زه ډاډه يم، چې هغوی ته رسېدلې ده؛ خو تر اوسه پورې د دعوت په خپرونه کې خپره نه شوله؛ نو غوره مې وگڼله، چې د موضوع د لاپسې روښانتيا په هيله لاپسې خبرنيزي څرگندوني وشي او هغه خبرې لا پسې سپيني شي، چې لا هم څرگندې شوې نه دي او په سيمه کې د واکمن ذهنيت له ويرې د هېرې په تيارو گوټونو کې د پېښو د ډېلو برستنو لاندې پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیشنلیزم، ناسیونالیزم یا ملت غونبتنه، ملت روزنه، ملت پالنه او ملت جوړونه

د قرآن کریم له نظره

الف: ژبه: د الروم سورا آپه 22 آیت کې داسې لولو:

ترجمه: "او ځنې له نښو د قدرت د دغه الله پیدا کول د اسمانونو او پیدا کول د ځمکې او اختلاف دی د ژبو ستاسې او بل اختلاف دی د رنګونو ستاسې. بېشکه په دغه اختلاف کې خامخا ډېرې نښې د قدرت دي لپاره د عالمانو پوهانو".

تفسیر: ګرد "ټول" انسانان یې له یوه مور او پلار څخه پیدا او سره یې مخلوط او مېشته او د ځمکې پر ټولو نقاطو کې یې خپاره "خواره" کړل، د هر یوه ژبه او وینا یې سره بېله کړه. که د یوه مملکت سړی بل ملک ته ورشي د ژبې په اعتبار محض پردی او اجنبي ښکاري. بیا وګورئ، چې د دنیا له شروع څخه تر نن ورځې پورې څومره بېشماره انسانان پیدا شوي دي، مګر هېڅ یوه داسې جوړه انسانان نه پیدا کېږي، چې د هغوی شونډې، ژبې، لهجې، تلفظ، د تکلم طرز او نور خصایص سره یو شان وي. هم هغسې، چې د هر انسان شکل او صورت او رنګ او نور سره جلا "جدا" او ممتاز دي، غږ او شونډې او لهجه یې هم بېخي سره بېل دي، هېڅ یو داسې دوه انسانان نه پیدا کېږي، چې د دوی په غږ او رنګ، هیئت او وضعیت کې کومه بېلوونکې علامه او نښه نه وي. د عالم له ابتدا څخه تر نن ورځې پورې نوي نوي صورتونه، او د وینا او تکلم نوي نوي حالات لیدل کېږي او سره له هغه د الله تعالی خزانه هم هغسې ډکه پرته ده. په واقع کې دغه د الله تعالی له لوی قدرت څخه څومره یوه لویه نښه ده. فَتَذَكَّرُوْا يَا أُولِی الأَلْبَاب.

ددې آیت د حکم پر مخ په ژبو کې اختلاف د لوی خدای(ج) د قدرت د ځینو عجیبو خلقتونو په لړ کې یوه عجیبه د خلقت د نښې په توګه پېژندل شوی دی؛ نو ځکه ویلی شو، چې: که څوک د کوم ولس د ژبې سره دښمني کوي، هغه نه یوازې، چې د هغه ولس دښمن ګڼل کېږي؛ بلکې د لوی خدای(ج) د یوه ستر خلقت د نښې دښمن هم دی. دا په دا، چې ژبه لکه د اسمانونو، لکه د ځمکې او لکه د انسانانو د رنګونو په څېر د قدرت د لویو او مهمو خلقتونو د نښو په لړ کې یو ستر او مهم او له ارزښته ډکه د قدرت د عجایبو نښه ګڼله شوې او په رښتیا چې دغه د قدرت د عجایبو لویه نښه د انسانانو او د نورو ذي روحو حیواناتو تر منځ د توپیر او پېژندنې د ساتلو سره جوخت د انسانانو تر منځ هم د بېلابېلو څانګو او قبیلو د وېشلو سره یو ځای د وګړیو او ټولنو د ځان پېژندنې لامل او د مختلفو دودونو، رواجونو او فرهنګونو د رامنځته کولو مور هم ده.

له دې امله ده، چې پوهان وایي: "که چېرې ژبه ووژله شي، ولس مړی دی". دغه دلیل دی، چې د ژبې قاتل ته د ولس قاتل او د ولس قاتل ته د لوی خدای(ج) دښمن ویل کېږي. په دې ځای کې دی، چې باید ومنل شي، د ژبو سره د ښمنې که د هر دین او آیین لا، چې په هر نامه هم وي د جنایت په څېر مردود او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکوم دی. موږ تر او سه پورې په ړنو سترګو وینو او په اورېدونکیو غوږونو اورو ، چې زموږ پښتانه د پردیو په لمسه ژبې ته یوازې د افهام او تفهیم د ارزښت نه پرته بل څه درنښت نه دی ورکړی او لا په دې هم بسیا نه کوي او وایي، چې په پښتو ژبه کې؛ خو ږوږی نشته.

مګر له قرآن کریم نه پرته هېڅکله او هیڅ خبره کوم پښتانه عالم دا خبره ونه کړه، چې ژبه لکه د اسمانونو ، لکه د ځمکې او لکه د انسانانو په رنګونو کې د اختلاف په څېر د لوی خدای(ج) د قدرت پنځوني له مهمو نښو څخه ده او هېچا ته دا اجازه نشته، چې ژبې ته په سپکه وګوري یا له هغې سره دښمني وکړي. لکه څنګه، چې هېچا ته واک نشته له اسمانونو سره، له ځمکې یا د انسانانو له رنګونو سره دښمني وکړي، همدارنګه دا هم د هېچا په واک کې نه ده ورکړل شوې څو د انسانانو د ژبو سره دښمني وکاندي، که څوک د دښمنۍ په لیاره ځي هغه خو ارومرو د ابلیس په لیاره تللی دی، چې ابلیس د انسان اصلي دښمن دی.

ب : ځان پېژندنه:

د الحجرات سورآیه 13 آیت کې داسې لولو:

ترجمه: اې خلکو موږ پیدا کړي یئ تاسې ټول اصلاً له یوه سړي، چې "آدم " او له یوې ښځې، چې "حوا " ده، او ګرځولي یئ موږ تاسې څانګې څانګې او قبیلې قبیلې، لپاره ددې، چې وپېژنئ یو له بله سره ښېشکه، چې ډېر مکرم او معزز دی له تاسې څخه په نزد د الله(ج) ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې. ښېشکه، چې الله(ج) ښه عالم، ډېر خبردار دی.

تفسیر: زیاتره د غیبت، طعن، زم او عیب لټولو منشاء کبر او غرور دی، چې آدمي خپل ځان لوی ګڼي او نورو ته په حقارت او سپکه ګوري؛ نو ځکه الله تعالی دلته دا راښیي، چې انسانانو سره نه ښایي، چې په خپل اصل او نسب او لویي او عزت باندې مغرور شي. بلکې ودې پوهېږي، چې د انسان اصلي لویي او عزت په دې کې دی، چې ښه روش او ښه خصلتونه ولري، او تل له الله تعالی وو یرېږي، مؤدب او پرهېزګار وي. تر څو ددې ښو صفاتو په مېچ او اندازه د الله تعالی په دربار کې معزز او مکرم او محترم شي. د نسب حقیقت؛ خو دا دی، کې ګرد "ټول " نارینه او ښځې له "آدم " او "حوا " علیهم السلام څخه پیدا شوي دي. سیدي، عثماني، فاروقي، صدیقي، انصاري، شیخي، خاني، زویتوب او نور صفتونه د ښه علم، عمل او تقوی په مقابل کې هیڅ دي. او دا خاندانونه، صفتونه او ستاینې پرته له دې څخه، چې خلق پرې پېژندل کېږي او په تعارف کې کار کوي، بل کوم قدر او قیمت نه لري. اصلي قدر او قیمت د هر سړي په دې کې دی، چې متقي، پرهېزګاره او پوه وي. بلا شبهه هر څوک، چې الله تعالی په کومه شریفه، لویه، معززه او ښې کورنۍ کې پیدا کړی وي، هغه خو یو مهذب شرف دی لکه، چې ځینې کسان یې ښکلي "خوبصورت " جوړ کړي دي؛ خو یوازې هم هغه ښکلیتوب د ناز او فخر وړ "لایق " نه دی، او نه د کمال او فضیلت معیار ګڼل کېږي، او نه د هغه له امله نورو ته په سپکه سترګه کتی شي.

هو ! شکر دې وکړي، چې الله تعالی بلا اختیار او کسب موږ ته دا نعمت را مرحمت کړی دی.

دا هم په شکر کې داخل دي، چې د غرور او تفاخر څخه ځان وژغوري، او هغه نعمت دې په هغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼلیو روښونو ، بدو اخلاقو او خرابو خصلتونو سره خراب نه کړي. لنډه یې دا ، چې د مجد ، شرف، عزت او فضیلت اصلي معیار نسب نه؛ بلکې تقوی او طهارت دي. متقي سړی نورو ته هېڅکله په سپکه ستر ګه نه ګوري.

دا وه د قرآن له نظره د ځان پېژندنې په لیاره کې د انساني خلقت اصلي هدف. وګورئ د لوی خدای(ج) له لوري انسان په څانګو او قبیلو وېشلی شوی څو پر خپلو منځونو کې یو بل سره وپېژني او په دې توګه د لوی خدای(ج) په نزد د انسان لپاره لومړنی ضرورت پېژندنه او پېژند ګلوي ده، چې په څانګو او قبیلو سره ممکنه شوې. او دا څانګې او قبیلې دي، چې انسانان په کې په خپل جلا هویت ژوند کوي، چې په اوسنۍ نړۍ کې په مختلفو هویتونو د مختلفو ملتونو او سېدل یو روښانه دلیل ګڼل کېږي؛ خو تقوی او پرهېزګاري د انسان لپاره په ټولنه کې دویم ضرورت دی، چې د هغه له امله نه یوازې د لوی خدای(ج) په نزد مکرم او معزز کېږي؛ بلکې په خپلو څانګو او قبیلو او لا هم د سیمې او نړۍ په کچه د اعزاز او شرف خاوند ګرځي. موږ نه شو کولای او لا ، چې د دې اختیار هم نه لرو ، چې د تقوی په نامه یا د تقوی د ضرورت له امله څانګې او قبیلې رنګې کړو ، یا بالعکس د څانګو او قبیلو د پاللو په نامه تقوی او پرهېزګاري نفې کړو.

څانګې او قبیلې د انسانانو د هویت د پېژندنې بنسټ دی؛ خو تقوی او پرهېزګاري د وګړو د اعزاز او شرف وسیله ده. دا ځکه، چې د خلقت اصلي موخه د خالق او د مخلوق تر منځ معرفت او پېژند ګلوي ده، او تقوی د اعزاز او شرف د لاس ته راوړلو په لیاره کې د عبادت لوړ مقام دی. له دې امله لوی خدای(ج) د انسان تقوی او پرهېزګارۍ ته څه ضرورت نه لري، مګر دا انسان دی، چې د شرف او عزت د خپلولو لپاره تقوی او پرهېزګارۍ ته محتاج دی. همدغه خبره ده، چې پوهان وایي: ځان وپېژنه، چې خپل خالق وپېژنې. دلته ده، چې انسان اړ کېږي څو لومړی ځان وپېژني او بیا خپله څانګه او قبیله وپېژني. د پېژند ګلوۍ په لړۍ کې ده، چې انسان اړ دی د انساني نړۍ په ولسونو کې د یوې ځانته قبیلې یا څانګې غړی وي، او دا څانګې او قبیلې دي، چې ترې ملتونه او هېوادونه جوړ شوي دي، چې هره یوه یې بیا ځانته ځانته دیني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي موخې او ګټې لري. د خلقت په دې رنګه اختلاف کې دی، چې د خالق او مخلوق تر منځ د ازمېښت پروسه په بریې سره پر مخه درومي، او دغه ټولنیزه اړتیا ده، چې زه اړ یم وواېم په انساني ټولنه کې د ابراهیمي ملت وګړي، د اسلامي امت غړی او د افغاني "پښتني " ولس بچی یمه. که ددغې ځان پېژندنې سره جوخت زه د تقوی او پرهېزګارۍ خاوند هم واوسم؛ نو زما به اعزاز او شرف نه یوازې د لوی خدای(ج) په نزد ؛ بلکې په افغاني ټولنه کې لا ، چې په اسلامي امت کې ډېر زیات شي، او که نه؛ نو د خپل پښتني ولس یو ساده بچی به اوسمه، چې یمه.

د ځان پېژندنې او د لوی خدای(ج) پېژندنې لپاره په هر ځای او هر مهال کې د لوی خدای(ج) له لوري د لارښوونکو په وسیله لارښوونې شوې دي، چې زموږ دیني کتاب لوی قرآن او زموږ د اسلامي دین لارښود حضرت محمد(ص) هم د یو ستر لارښود په څېر منل شوی دی، او د هغوی له خوا د خالق او مخلوق تر منځ د امر او نهي له لیارې د پېژند ګلوۍ او عبادت "لمانځنې" مزی په اصولي توګه ټینګ او مزبوت شوی دی. لکه، چې د ابراهیم سورة په 4 آیت کې داسې لولو:

ترجمه: او نه دی لېږلی موږ هېڅ رسول مګر خو په ژبه د قوم دده لپاره ددې، چې بیان کړي دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

امر او نهې د الله(ج)؛ نو ګمراه کوي الله(ج) هر هغه، چې اراده وفرمايي د ګمراهۍ يې او هدايت کوي هر هغه ته، چې اراده وفرمايي د هدايت يې. او هم دی ښه قوي، غالب دی په انفاذ د احکامو، ښه حکمت والا، چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي.

تفسير: يعنې همغسې، چې موږ تاسې ته د خلکو د هدايت لپاره دغه عظيم الشان کتاب عطا فرمايلی دی، پخوا له دې نه هم په هره زمانه کې د هدايت وسايل خلکو ته ورلېږلي او رسولي دي. کله، چې له طبيعي ترتيب سره موافق د هر نبي ړومبني مخاطبين د هغه قوم خلق وي، چې په دوی کې هغه نبي مبعوثېږي؛ نو ځکه د هغه قوم په ژبه وحي لېږله کېږي، څو د الله تعالی د احکامو په پوهولو کې پوره سهولت او اساني وي. د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په امت دعوت کې اګر که د جهان ګرد انسانان او پېريان شامل دي؛ خو بيا هم په هغه قوم کې، چې دوی مبعوث شوي دي، د هغوی ژبه عربي ده، او د طبيعي ترتيب په موافق د هدايت د شيوع همدغه يو صورت مقدر و، چې د دوی ړومبني مخاطبين او مقدم زده کوونکي په داسې سهولت او ښه والي سره په قرآني تعليماتو او حقايقو باندې وپوهېږي، چې ښه يې په ياد او محفوظ کړي، څو د دوی په ذريعه د عالم تمام اقوام او راتلونکي نسلونه درجه په درجه په قرآني رنګ سره رنګ کړی شي. لکه، چې همداسې هم وشول، عربو د خپل نبي په صحبت په قومي ژبې کې، چې له هغې سره دوی له حده زيات مينه او محبت درلوده پر قرآني علومو پوره علم او پوهه حاصله کړه، بيا دوی په مشرق او مغرب کې خپاره "خواره" شول او په روم او پارس کې د کلمآ الله د اعلا لپاره خپاره "خواره" شول. په دغه وخت کې د الله تعالی قدرت په عجمي اقوامو کې داسې زبردست جوش او د الله تعالی د کلام د معرفت داعيه او په عربي ژبه کې د پوهې او مهارت حاصلولو داسې شوق پيدا فرمايلی و، چې له لږې مودې څخه وروسته دوی د قرآني علومو په شرح او تبين کې له خپلو معاصرو عربو څخه ډېر پر مخ ولاړل؛ بلکې عموماً د دينيه وو او ادبيه وو علومو مدار تر ثريا پورې الوتونکو عجميانو ته پاتې شو او په دې ډول سره د الله تعالی حجت پر بندګانو په اتمام ورسګېده، او وقتاً فوقتاً له قرآني آياتونو څخه د مستفيد کېدلو اسباب به سره برابر کېدل. په هر حال د خاتم الانبياء عليه السلام د عربو په خاص قوم کې د مبعوث کېدلو که وجوه موجود دي او يقيناً شته؛ نو د همدغو وجوهاتو په نتيجه کې ددې سوال ځواب راځي، چې د قرآن کريم نزول په عربي ژبه سره ولې شوی دی؟ د لوی قرآن د نزول څخه په عربي ژبه کې د عربو رعايت ولې فرمايل شوی؟ نو ګمراه کوي له هر هغه، چې اراده وفرمايي د ګمراهۍ يې. او هدايت کوي هر هغه، چې اراده وفرمايي د هدايت يې. او همدغه الله تعالی ښه قوي او غالب دی په انفاذ د احکامو. ښه حکمت والا دی، چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي.

ج: په توحيدي ملت کې د اسلام دين او اسلامي هدايت:

د الانبياء سورآ په **92** او **93** آيتونو کې داسې لولو:

ترجمه: په تحقيق سره دا ملت د توحيد ملت او د اسلام دين ستاسې ملت يو دی، چې په دغه دين متفق دي ټول انبياء او زه رب ستاسې يم. پس عبادت وکوئ زما خاص، نه د بل. او ټوټې ټوټې کړ دغو پخوانيو امتونو کار د دين خپل په منځونو خپلو کې، ټولې فرقې موږ ته راتلونکې دي؛ نو جزا به ورکړو دوی ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفسير: يعني الله تعالی يو دی او ستاسې د دين اصول هم يو دي. ګرد انبياء عليهم السلام هم د دين په اصولو کې داسې سره يو دي، چې هر هغه تعليم، چې يو يې ورکوي، هغه بل هم د هغه تصديق او تاييد کوي. کوم اختلاف، چې په فروعو کې د زماني او مکان د اختلاف له امله منځته راځي، هغه عين مصلحت دی. مذموم اختلاف هغه دی، چې په اصولو کې وي؛ نو ځکه لازمه ده، چې ټول سره په ګډه د خدای(ج) بندګي وکړئ، او په کومو اصولو کې، چې ټول انبياء سره متفق دي هغه ټول په يو طاقت ټينګ ونيسئ. موږ خو د اصولو په اعتبار ټولو ته يو دين ورکړی و؛ خو خلکو په کې په خپله اختلاف پيدا کړ او هغه دين يې سره ټوټې ټوټې کړ او په خپلو کې يې سره نفاق او شقاق پيدا کړ. يعني کله، چې زموږ حضور ته راشئ؛ نو ټول اختلافونه به هلته سره فيصله شي، هر يو ته به د هغه د عملونو جزا ورکړی شي، چې تفصيل به يې په راتلونکي آيت کې راشي.

د العنکبوت سورا په 146 آيت کې له کتابيانو سره د مباحثې او جګړې په هکله داسې لولو:

ترجمه: او جګړه مه کوئ تاسې اې مؤمنانو له کتابيانو سره، مګر په هغه خصلت سره، چې هغه ډېر ښه وي. مګر هغه کسان، چې ظلم يې وکړ له دوی ځنې؛ نو ورسره په توري مجادله کوئ.

تفسير: يعني د مشرکانو دين له اساسه غلط دی. د کتابيانو دين اصلاً حق او رښتياو؛ نو له کتابيانو سره د مشرکانو په شان جګړه مه کوئ، چې له بېخه د هغوی خبرې باطلې او پرې کړئ؛ بلکې په نرمي، متانت، خير غوښتني، صبر او تحمل سره په ضروري خبرو باندې دوی وپوهوئ. هو ! هغه کسان، چې د دوی له منځه ښکاره بې انصافي، ظلم، عناد او سرتمبه ګي کوي، له هغوی سره په مناسب صورت د سختۍ او تشدد معامله کولی شئ. او له دې نه وروسته دوی په سزا هم رسولی شي.

تنبيه: پخوا د قرآن کريم د تلاوت حکم و، په زياترو وختونو کې به منکرينو د هغه د اورېدلو ځنې په مباحثه او مناظره شروع کوله؛ نو دا يې راوښودله، چې د مباحثې په وخت کې د مقابلې ډلې د علمي او ديني حيثيت خيال ولرئ، او د مناظرې په ځوښ کې د اخلاقو او صداقت له حده مه وځئ. او هر چېرې، چې څومره صداقت وي پرې اعتراف کوئ.

د: د موسی عليه السلام دين او له بني اسرائيلو نه د يوه ملت جوړونه:

ما په خپلې لومړنۍ ليکنې کې په دې ټکي اړخ لګولی و، چې: د موسی عليه السلام دين سل په سلو کې سوچه نيشنليزم دی؛ خو زما ددې خبرې سره ښاغلي سرباز "صافي" مخالفت وښوده او په خپلې نيوکې کې يې وليکل، چې دغه خبره افترا ده. نو موږ په دې هکله د قرآن شريف د النازعات سورا په 17- 18 او 19 آيتونو کې راغلي احکام روښانه دلايل وګڼل.

ددې لپاره، چې ګران لوستونکي په پوره توګه پوهه تر لاسه کړای شي غوره ګڼم د النازعات سورا د 17- 18 او 19 آيتونو د ترجمې او تفسير پوره متن وړاندې کړم. دا هم د يادونې وړ ګڼم، چې وو ايم د النازعات سورا په مکه کې نازل شوی په تلاوت کې (79 يم) او په نزول کې (81 يم) سورا دی؛ خو د ابراهيم سورا، چې ما پرې اړخ لګولی دی هم مکي دی. يعني پرته له 28 او 29 آيتونو، نور ټول په مکه کې نازل شوي، چې په تلاوت کې (14م) او په نزول کې (72 يم) سورا دی. يعني د ابراهيم سورا په مکه کې د النازعات له سورا نه مخکې نازل شوی، چې هم په نزول کې مخکې دی او هم په تلاوت کې. دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو دواړو پوره متن:

1- د النازعات سورآ 17- 18 او 19 آيتونو ترجمه: لاړ شه "په رسالت زما "طرف د فرعون ته، چې بېشکه ده سر غړولی "تجاوز يې کړی دی "له احکام الله؛ نو ووايه ورته آيا مينه لرې ته په طرف ددې، چې پاک شي له شرک او معاصي نه، او "رغبت لرې دې ته، چې "لاره درونښيم تا ته د رب ستا، پس وو برېږه ته "له عذابه".

تفسير: يعني که ته خپل ښه والی او اصلاح غواړې؛ نو زه د الله تعالی په امر ستا اصلاح کولی شم. او داسي لاره درښيم، چې پر هغې باندې له تللو څخه ستا په زړه کې د الله تعالی وېره او د هغه کامل معرفت ټينګ شي. ځکه، چې د وېرې شته والی بې له پوره معرفت څخه متصور نه دی.

ښکاره شوه، چې د حضرت موسی عليه السلام له بعثت څخه مقصد د فرعون اصلاح هم وه، او يوازې د بني اسرائيلو نجات او ژغورنه "ساتنه" له قيده نه وه. پس موسی عليه السلام فرعون ته ورغی او هغه ترې معجزه وغوښته.

2- د ابراهيم سورآ په پينځم آيت کې داسي لولو:

ترجمه: او خامخا په تحقيق لېږلی و موږ موسی عليه السلام په ښکاره وو معجزو زموږ، چې راوباسه قوم خپل له تيارو د جهالت او ضلالت څخه رڼا د علم او يقين ته او وريادکړه پند ورکړه دوی ته په هغو سختو ورځو، حوادثو او غورو نعمتونو د الله. بېشکه په دغو يادولو د سختيو او نعمتونو کې خامخا دلايل د قدرت دي لپاره د هر صبر کوونکي په زحمتونو ډېر شکر په نعمتونو.

تفسير: يعني د هغو معجزاتو له ورکولو سره موږ موسی عليه السلام لېږلی و، چې د تسعه وو آيتونو په نامه مشهور دي، يا به د تورات آيات مراد وي. او وريادکړه او پند ورکړه دوی ته په هغو سختو ورځو د الله(ج). يعني د هغو ورځو واقعات يې ورپه ياد کړه کله، چې پر دوی باندې د شدايدو او مصايبو غرونه ولوېدل. بيا؛ نو الله تعالی دوی ته له هغو څخه نجات ورکړ، او خپله مهرباني يې پرې وفرمايله ځکه، چې د دواړو قسمو حالاتو له اورېدلو څخه صابرو او شاکرو بندګانو ته عبرت حاصلېږي او د مصيبت په وخت کې وېرېدل او د راحت په وخت کې مغروربدل نه دي په کار. هغه خلکو، چې پخوا له دې نه په برې او کاميابۍ رسېدلي دي، يوازې په دې وو، چې هغوی په سختيو صابران او د الله تعالی په نعمتونو باندې شاکران وو. لکه څنګه، چې د الاعراف سورآ په 137 آيت کې راغلي دي:

او پوره شوه کليمه او وفا ته ورسېدله وعده د رب ستا، چې نېکه ده دا احسان پر بني اسرائيلو په سبب د صبر کولو د دوی پر ظلمونو د فرعونيانو او خرابې کړې موږ هغه کلکې ودانۍ، چې ودانولې به فرعون او قوم دده او هغه پخې پخې ودانۍ، چې لوړولې به دوی هغه.

د ابراهيم سورآ په شپږم آيت کې بيا هم هغه مصايبو او شدايدو ته اشاره شوې، چې د فرعونيانو له لوري به پر بني اسرائيلو عملي کېدل. لکه: مريي توب، بېګار او د زامنو وژل او نور.

په دې توګه موسی عليه السلام د لوی خدای(ج) له لوري خامخا او په تحقيق سره خپل قوم ته يعني بني اسرائيلو ته استول شوی و، چې خو خپل قوم له تيارو د جهالت او ضلالت نه د علم او يقين رڼا ته راوباسي، او د آزادۍ او خپلواکۍ په خوندونو يې ماړه کړي.

موسی عليه السلام د لوی خدای(ج) د امر اطاعت وکړ د خپل ورور هارون عليه السلام سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعون په لوري ورغی، چې د النازعات سورآ د 17- 18 او 19 آيتونو پر مخ فرعون د موسی عليه السلام بلنه ونه منله؛ خو د ډېرو معجزو له ليدلو نه وروسته يې موافقه وکړه څو موسی عليه السلام خپل قوم له مصر څخه وباسي. کله، چې موسی عليه السلام خپل قوم د سينا سيمې ته راورساوه دلته و، چې د موسی عليه السلام د غيابت په مهال کې ځينې بني اسرائيل بت پرست شول؛ نو کله، چې موسی عليه السلام راغی او ويې ليدل، چې ځينې د خوسي د بت لمانځنه کوي او د لوی خدای(ج) له لمانځنې نه اوښتي دي. له دې امله ډېر زيات په قهر او غصه شو. ښه به وي، چې په دې هکله قرآني آياتونو ته مراجعه کړو:

د البقرآ سورآ په 54 آيت کې داسې لولو:

ترجمه: او ياد کړئ هغه وخت، چې وويل موسی عليه السلام خپل قوم ته اې قومه زما ! بېشکه تاسې، چې يئ ظلم کړی دی تاسې پر خپلو ځانونو په سبب د نيولو د تاسې خوسي لره په خدايي سره، پس توبه وباسئ ټول خالق د تاسې ته، نو ووژنئ ځانونه خپل. دغه ځان وژل ستاسې بهتر دي تاسې ته په نزد د خالق د تاسې. پس قبوله يې کړه توبه ستاسې. بېشکه الله(ج) هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان دی په توبه کوونکو.

تفسير: له قوم نه خاص همغه خلق مراد دي، چې هغوی خوسي ته سجدې کولې. يعنې هغه کسان، چې خوسي ته يې سجده نه ده ايښې. هغوی دې هغه کسان ووژني، چې خوسی يې خدای ګڼلی او سجده يې ورته کړې وه. ځينې وايي، چې بني اسرائيل په درې برخو وېشلي شوي وو:

1- هغه ډله، چې يې خوسي ته سجده ونه کړه او هم يې نورو ته وويل، چې خوسي ته سجده مه کوئ.

2- هغه ډله چې په خپله دوی خوسي ته سجده ونه کړه، مګر نور يې د خوسي له سجدې نه منع نه کړل.

3- هغه ډله، چې په خپله دوی خوسي ته سجده وکړه.

په دريمه ډله امر وشو، چې ټول دې ووژل شي. عالمان په دې خبره کې سره اختلاف لري، چې آيا همدا وژل کېدل توبه وه؟ او که د توبې تتمه وه؟.

دا وه د آيت ترجمه او تفسير. له دې پېښې نه وروسته کله، چې موسی عليه السلام خپل قوم سره د شام ملک ته نژدې کېږي خپل قوم ته د وطن او په وطن کې د آزاد ژوند لپاره د جهاد امر کوي، چې په قرآن کريم کې داسې لولو:

د المائدآ سورآ 20 آيت:

ترجمه: او ياد کړه اې محمده(ص) هغه وخت، چې وويل موسی(ع) خپل قوم ته اې قومه زما ! ياد کړئ تاسې نعمت "احسان" د الله(ج) پر تاسې باندې کله، چې يې وګرځول په تاسې کې ډېر انبياء او وګرځول "الله" په تاسې کې "يا له تاسې نه" باچايان او درېې کړ تاسې ته هغه، چې نه يې و، ورکړی هېڅ يوه ته له خلکو د زمانې ستاسې.

تفسير: په "موضع القرآن" کې دي، چې حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل پلار وطن "عراق"

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښود او د الله تعالی په لاره د شام ملک ته لاړ او هلته يې هستوګنه غوره کړه او تر يوې مودې پورې يې اولاد ونه شو. دلته الله تعالی پرې زېرى وکړ، چې زه ستا اولاد خپروم او د "شام" ځمکې به هغوی ته ورکوم او نبوت، دين، کتاب او سلطنت به د دوی په منځ کې ږدم. بيا يې د حضرت موسی عليه السلام په وخت کې هغه وعده پوره کړه او بني اسرائيل يې د فرعون له بېګاره وژغورل او قبطيان يې ډوب کړل، سبطيانو ته يې وفرمايل، چې له "عمالقه وو" سره جهاد وکړئ، او د شام ملک ځانته فتح کړئ. بيا د تل لپاره د "شام" ملک ستاسې دی. حضرت موسی عليه السلام هغه دولس تنه سړي، چې د بني اسرائيلو په دولسو قبيلو باندې سرداران مقرر کړي وو "شام" ته ولېږل، چې د هغه ملک حال احوال راوړي. کوم خبرونه، چې دوی د خپلو مطالعاتو په اثر راوړل له هغو څنې دا ثرګنده شوه، چې د "شام" په ملک کې خورا ډېر محاسن او ښېګڼې (فايدې) شته او د هغو "عمالقه وو" زور او قوت يې بيان کړ، چې دوی پر شاماتو او شاميانو مسلط او حاکمان وو. حضرت موسی عليه السلام دوی ته وويل، چې تاسې خپل قوم ته د "شام" محاسن بيان کړئ، مګر د دښمن د قوت ذکر مه کوئ. له دوی څنې يوازې دوو تنو پر دغه حکم عمل وکړ او لسو تنو نورو يې ترې مخالفت وکړ. کله، چې نورو بني اسرائيلو دا خبرې واورېدې؛ نو بې زړه شول، او ويې غوښته، چې بېرته ستانه شي، پس مصر ته راشي. ددې تقصير له امله تر څلوېښتو کلونو پورې د شاماتو په فتح کېدو کې ځنډ او تعطيل پېښ شو. په دې موده کې دوی په ميدانونو کې سر بداله ګرځېدل. کله، چې د هغه قرن او زماني سړي مړه شول؛ نو د همغو دوو سړيو په لاس هغه فتح پوره شوه، چې موسی عليه السلام څخه وروسته دده خليفه ګان شوي وو.

"اِذْ جَعَلَ فِيكُمْ اَنْبِيَاءَ" کله، چې وګرځول الله تعالی په تاسې کې ډېر انبياء يعنې ستاسې د اعلی جد حضرت ابراهيم عليه السلام له زمانې راهيسې تر نن ورځې پورې ځومره ډېر انبياء عليهم السلام ساستې په منځ کې پيدا شوي دي، مثلاً حضرت اسماعيل، حضرت اسحاق، حضرت يعقوب، حضرت يوسف عليهم السلام او په خپله موسی عليه السلام او هارون عليه السلام او وروسته له دوی نه هم دا سلسله تر يوې اوږدې زمانې پورې قايمه پاتې وه، چې تاسې ته به دوی ارشادات کول او پرې مشرف او معزز کېدلئ به.

"وَجَعَلَكُمْ مُلُوكاً" او وګرځول الله تعالی په تاسې کې يا له تاسې نه باچايان. يعنې د "فرعون" له خورا ډېر ذلت، سپک توب او غلامۍ څخه يې آزادي درکړه، او د فرعونيانو په اموالو او املاکو مو مسلط وګرځولئ. او له دې نه وړاندې ستاسې له منځه مو حضرت يوسف عليه السلام ته ثرنګه د مصر په خزاينو او سلطنت تسلط عطا فرمايلی و؟ بيا ورپسې مو حضرت سليمان عليه السلام او نور انبياء عليهم السلام او باچايان پيدا کړل. ګواکې د دين او دنيا له دواړو لويو نعمتونو سره مو تاسې ته سر لوړې درکړه. ځکه، چې په ديني مناصبو کې خورا ډېر لوی منصب "نبوت" او په دنيا کې اخرې اقبال آزادي او باچاهي ده، چې دا دواړه شيان الله جل جلاله تاسې ته اې بني اسرائيلو درعطا فرمايلي دي.

"وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ" او درېې کړ تاسې ته اې بني اسرائيلو هغه شيان، چې نه يې و ورکړي هيڅ يوه له خلکو د زمانې ستاسې ته. يعنې موسی عليه السلام ته يې دا خطاب وفرمايه، چې پر بني اسرائيلو باندې د دنيا له ګردو خلکو څخه د الله تعالی زيات مهرباني او لورېينه شوې ده لکه: من، سلوی، د ورېځې سيوری، بهول د اوبو له تيږو "ګټو" او د بحر څيرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د المائدآ سورآ په 21 آيت کې داسې لولو:

ترجمه: اې قومه زما ننوځئ ځمکې پاکې کړی شوې "بيت المقدس يا د شام يا د ايليا يا د اريحا" ته هغه ځمکه، چې مقرره کړې ده الله تعالی تاسې ته په لوح محفوظ کې "په شرط د ايمان ستاسې" او بېرته مه ځئ په شا و خپلو "له جهاده" نو وبه ګرځئ تاسې زيان کاران "په سعې خپلې".

تفسير: يعنې الله تعالی پخوا له دېنه له حضرت ابراهيم عليه السلام سره وعده فرمايلې وه، چې ستا اولادې ته به دا ملک ورکوم، او هغه وعده هرومرو "خامخا" پوره کېدونکې ده، هغه خلق به نېکمرغه او بختور وي، چې په لاسونو او وسيله دغه پوره شي؛ نو "ننوځئ" دې پاکې ځمکې ته او شا مه ګرځوئ له جهاده که نه سخت نقصان به وګالئ "برداشت کړئ" يعنې په جهاد في سبيل الله کې بې زړه توب، وېره او بې همتي مه کوئ، او د مريي توب "غلامی" د ژوندون په لارې منډې مه وهئ.

د المائدآ سورآ 22 آيت:

ترجمه: وويل دغو "بني اسرائيلو" اې موسی! بېشکه په دې ځمکه کې يو قوم دی ډېر زورور "چې موږ يې د مقابلې طاقت نه لرو" يعنې ډېر قوي هيکل، مېړني، پياوړي او له رعبه ډک او وېرونکي دي او بېشکه موږ له سره نه ننوځو په دغې ځمکې کې تر هغو پورې، چې ووځي دوی له دې ځمکې نه؛ نو که ووځي دوی له دې ځايه "بې له جنګه"؛ نو بېشکه موږ ننوتونکي يو.

تفسير: يعنې د مقابلې همت په موږ کې نشته. هو! بې د لاسونو او پښو د خوځولو ښخه پخه او تياره خورو. تاسې د خپلې معجزې په زور دوی وباسئ.

د المائدآ سورآ 24 آيت:

ترجمه: وويل دغو "بني اسرائيلو" اې موسی! بېشکه، چې موږ له سره نه ننوځو دې ښار ته هېڅکله ځو، چې وي دغه "عمالقه" په کې، پس ځه ته او "ځې دې" رب ستا "يا ته او مشروورور او مريي ستا چې هارون دی"؛ نو جنګ وکړئ دواړه بېشکه موږ دلته ناست يو له جنګه "په انتظار د برې ستا".

د المائده سورآ 25 آيت:

ترجمه: وويل "موسی" اې ربه زما! بې شکه زه مالک نه يم "اختيار نه لرم" مګر د ځان خپل او د ورور خپل، چې هارون دی؛ نو بېلتون "جدايي" وکړه په منځ زموږ او په منځ د قوم د فاسقانو کې، چې د فرمان له وېرې نه وتلي دي.

د المائدآ سورآ 26 آيت:

ترجمه: نو وفرمايل "الله تعالی" پس بېشکه دغه "مقدسه ځمکه" حرامه کړی شوې دې پر دوی باندې "ننوتل هغې ته" څلوېښت کاله، چې حيران، سرګردان به ګرځي دوی په هم دې ځمکه کې نو مه خپه او متاسف کېږه پر قوم فاسقانو "وتونکي له فرمانه".

په دې توګه د قرآني آياتونو د صراحت په مخ له څلوېښتو کلونو نه وروسته د شام ملک د بني اسرائيلو له خوا فتح شو او بني اسرائيلو وکولای شول د لومړي ځل لپاره د ځمکې پر مخ خپل ملت او دولت جوړ کړي. څرنګه، چې ګرانو لوستونکيو د پورتنيو آياتونو په ترجمو او تفاسيرو کې ولوستل. موسی عليه السلام ته د خپل قوم د ژغورنې په اړخ کې د لوی خدای(ج) له لوري دا وظيفه هم سپارل شوې وه، چې فرعون ته د رښتينې لیارې بلنه ورکړي. يعنې لومړنی هدف د بني اسرائيلو ژغورنه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغوی ډېره اوږده موده پر مصائبو او مشکلاتو صبر کړی و. او بل دا ، چې ابراهیم علیه السلام ته د لوی خدای(ج) له لوري دا وعده هم شوې وه، چې د هغه اولادې ته به د شام ملک ورکوي، او د هغه حنیف ملت ته به د ځمکې پر مخ وده او پراختیا ببښي، چې د موسی علیه السلام دغه د بني اسرائیلو د ژغورنې او خپلواکۍ ته د رسولو کار په دې لیاره کې د ابراهیمي ملت جوړونې لومړنی بنسټیز پوخ ګام ګڼل کېدای شي.

او همدا رنګه په پورته تفاسیرو کې مو ولوستل، چې موسی علیه السلام د هغو بني اسرائیلو د وژلو امر هم کړی دی کومو ، چې د خوسي بت ته سجدې کړې وې. په دې توګه چا ، چې خوسي ته سجده کړې هغه د موسی علیه السلام په امر وژل شوي دي؛ نو له دې امله د ښاغلي سرباز "صافي" خبره، چې وايي موسی علیه السلام؛ خو د پیغمبرۍ په مهال کې څوک نه دي وژلي، مګر وژلي یې دي، چې په دې لیکنې کې ولوستل شول.

د ښاغلي سرباز "صافي" د پورتنیو دوو موادو د نیوکو په هکله ښايي همدغه لنډه لیکنه، چې په پورته توګه وشوه بسنه وکړي او ښاغلي لوستونکي به هم په دې ټکي پوه شوي وي، چې د لوی خدای(ج) اراده وه، چې ابراهیم علیه السلام ته په زړښت کې زوی وبخښي او بیا د هغه په کورنۍ کې دومره لمسیان او کړوسیان راوپنځوي، چې په سیاسي اړخ کې ځانته یو ملت شي او د عقیدې له پلوه دده او لاده بیا ځانته یو امت شي. دغه؛ خو هم هغه خبره ده، چې هېڅوک ترې سترګې نه شي پټولی او ترېنه نه شي منکرېدلی. یعنې "دین" د معنی له مخې هم عقیده او هم ملت دی، او دغه دواړه توکي د موسی علیه السلام په متهو په بني اسرائیلو کې تحقق وموند. په دې مانا ، چې هم یې دین او هم یې دنیا ودانه کړله. یو خوا یې بني اسرائیلو ته پلرنۍ ګروهه، چې د یوه خدای(ج) لمانځنه ده وښودله او په بله خوا کې یې هغوی ته د آزادۍ د ښنلو سره جوخت د شام د ملک د نیولو امر هم ورکړ او هغوی یې وهڅول، چې د آزاد ژوند د لرلو لپاره باید د شام ملک د جګړې له لیارې تر لاسه کړي. آزاد ژوند یعنې څه؟ یعنې خپل وطن لرل او په خپل وطن کې د خپل واک خاوندان کېدل، چې نیشنلیزم هم همدا دوه توکي غواړي نه نور بل څه. بدمرغي په دې کې ده، چې که موږ وو ایو ملت پالنه، ملت جوړونه، ملت روزنه او ملت ویښونه؛ نو ګناهګار بېږو او باید توبې وباسو. او که چېرې وو ایو ، چې "ناسیونالیزم یا نیشنلیزم" دا ، چې دغه دواړه کلیمې یا غونډلې له اروپا نه راغلې دي پرې کافر کېږو. یعنې د تکفیر حکم ته باید غاړه کېږدو.

نه پوهېږم، چې دا ولې؟ د یونان د فلاسفه وو ټول علم د اسلامي واکمنانو په امر وژباړل شو او په اسلامي نړۍ کې خور شه؛ خو څوک پرې کافر نه شول. له لویدیځې نړۍ نه موټرې، رېلونه، الوتکې او نور رنګ په رنګ تخنیکي سامان الات را وارد شول؛ خو څوک پرې کافر نه شول. تر دې اخوا لا د اسلامي نړۍ د واکمنانو په شمول د ډېرو متنفذو افرادو او ګروپونو په جېبونو کې د لویدیځې نړۍ ډالرې او پونډونه ګرځول کېږي او لګیا دي د هغو په زور په اسلامي نړۍ کې سیاست او حکومت کوي؛ خو یو یې هم کافر نه شو. مګر که چېرې وو یل شي، چې نیشنلیزم ملت پالنه ده، ملت جوړونه ده او دا د دین په بنسټ پورې هم ځان نښلوي. بیا نو د تکفیر غږونه را پورته شي هغه هم یوازې په افغاني ټولنه کې د پښتنو لپاره.

که محمد علي "جناح" د انګرېزانو په زور د خپلو اردو ژبیو د واکمنۍ لپاره پاکستان جوړوي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافر کېږي. که عبد العزيز "ابن سعود "د انګرېزانو په زور د سعودي د کورنۍ د واکمنۍ لپاره د حجاز ټاپو وزمه د "سعودي" په نامه اړوي او سلطنت جوړوي نه کافر کېږي. که "مصطفی کمال" د انګرېزانو په زور نوې مودرنه ترکيه جوړوي نه کافر کېږي. که روح الله "موسوي خميني" د اسلام په نوم د شيعه ګانو ايران جوړوي، يعنې د اسلام رسۍ د تشيع په موږي کلکه تړي او په دې توګه په افغانستان، لبنان، پاکستان، عراق او نورو اسلامي هېوادونو کې مېشته وو شيعه ګانو ته پيسې او وسلې ورکوي، چې سني مسلمانان ووژني نه کافر کېږي. که په افغانستان کې د دعای قنوت د نه زده لرلو په ګناه مسلمان ځوانان وژني نه کافر کېږي. که په افغانستان کې يو ډېره ور مسلمان بل ډېره ور مسلمان د دښمنانو په لمسه او پيسو وژني او خپل دا عمل لا هم روا ګڼي نه کافر کېږي. که مسلمان، مسلمانان وژني او خپلې واکمنۍ باندې د اسلامي دولت نوم ږدي نه کافر کېږي؛ نو زه به هم د ډېرې خرېيلو په تور هم هېڅکله کافر نه شم، او دا به هم زما په ګناهونو کې شمېر نه شي، چې ما ويلي دي: "هر دين په خپل بنسټ کې نيشنليزم دی" ځکه، چې دين په خپله اصلي لغوي مانا کې عقيدې او ملت ته وايي، هغه عقيده او ملت، چې د موسی عليه السلام د مبارزې اصلي زړی و.

هـ: اديان د قرآن له نظره:

د الحج سورآ په **67- 68** او **69** آيتونو کې د اديانو د بنسټ په هکله او دا ، چې هر امت ته جلا شريعت ورکړ شوی دا سې لولو:

ترجمه: لپاره د هر يوه ملت مقرره کړې ده موږ يوه لاره د بندګۍ، چې ددې عمل کوونکي وي، د هغه نه پس نه ښايي جګړه وکړي، دا خاوندان د اديانو خامخا تا سره په دې کار "دين" کې ځکه، چې محمدي دين حق او ظاهر دی او بلنه کوه د خلکو توحيد او عبادت د رب خپل ته، بېشکه ته يې خامخا په هغه سمه صافه لياره، چې برابره تللې ده حق ته. او که جګړه کوي په امر د دين کې کفار له تا سره؛ نو وو ايه اې محمده(ص) دوی ته، چې الله(ج) ښه پوه دی په هغه جګړه او عناد ، چې کوئ يې تاسې. الله(ج) به حکم وکړي په منځ ستاسې کې په ورځ د قيامت په هغه شي کې، چې وئ تاسې، چې په هغه کې مو اختلاف کاوه، چې د دين امر دی.

تفسير: ټول انبياء د دين په اصولو کې سره متفق دي. د هر امت لپاره الله تعالی د عبادت مختلف صورتونه په مختلفو زمانو کې ټاکلي دي، چې د هغوی سره سم، هغو امتونو د الله تعالی عبادت کاوه. لکه دې محمدي امت ته هم يو خاص شريعت لېږل شوی دی. لېکن د دين اصل تل تر تله يو شی و او دی. او پرته له الله تعالی څخه د بل هېچا او هېڅ شي لپاره عبادت نه دی مقرر شوی؛ نو ځکه په توحيد او نورو متفق عليه ديني مسايلو کې هېچا ته نه ددې لايق او نه د هغه له حاله سره مناسبت لري، چې څه اختلاف او څه جګړه وکړي. کله، چې کافران په دا سې واضح او ښکاره شيانو کې هم دعوی او جګړې وکړي؛ نو تاسې د هغوی هېڅ پروا مه کوئ. تاسې په هم هغسې سمې صافې لارې باندې روان شئ، او نور خلق هم هغې ته را وبولئ، او د معاندينو د جګړې فيصله الله تعالی ته وسپارئ، چې هغه د دوی په ګردو "ټولو " حرکاتو ښه پوه او خبر دی. د قيامت په ورځ به د دوی ددغو ټولو اختلافونو او جګړو عملي فيصله وکړي. ته د دعوت او تبليغ فرض ادا کړه او د دوی په فکر کې ډېر سر مه خوږوه، د داسې معاندينو علاج يوازې پاک الله(ج) سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنبيه: د (فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ) مطلب دا هم کېدای شي کله، چي د هر امت لپاره الله تعالی بېل دستور العمل مقرر کړی دی، چي په هغه سلسله کي د غه محمدي امت ته هم شريعت راغلی دی؛ نو بيا د جګړي سبب څه شی دی؟

"وَهَذَا قَبْلَ الْأَمْرِ بِالْقِتَالِ" ځينو مفسرينو د "منسک" معنی په ذبح او قرباني سره کړې ده. مګر اقرب هم هغه ده، چي مترجم اختيار کړې ده، والله اعلم.

ددي آيت د حکم او روښانتيا له مخي کولی شو ووايو، چي د ابراهيمي ملت لپاره، چي همدا اوس په دربو امتونو کي وېشلی ژوند کوي دري اديانه يا دري شريعته ورکړل شوي دي؛ خو ددي واړو بنسټ يو دی، چي په توحيدي عبادت کي تنظيمېږي. کله، چي خبره په هر يوه ملت څرخي؛ نو بيا موضوع د ابراهيمي ملت نه بره نورو ملتونو ته هم رسېږي. دا، چي دا نور ملتونه څه نومېږي او چېرته او په کومي زماني او مکاني حالاتو کي اوسېدل او د هغوی د شريعت نومونه څه دي؟ په قرآن کي د المؤمن سورآ د 78 آيت نه پرته نور څه په روښانه توګه ما نه دي ليدلي. د المؤمن سورآ په 78 آيت کي؛ خو يوازي دومره حضرت محمد(ص) ته ويل شوي دي، چي له تانه پخوا 124 زره انبياء او رسولان استول شوي، چي د 29 تنو پيغمبرانو نومونه او قصي په قرآن کريم کي راغلي او د نورو په هکله توضيحات نه شته او دا هم نه ده څرګنده، چي د ابراهيمي ملت خښتنه؛ خو د سامي په نژاد کي اېښودل شوي آيا په هماغه مهال کي د انساني ټولني په نورو نژادونو کي هم کوم ملت، چي د مستقل شريعت خاوند و موجوديت لاره او که نه؟ په هر حال د ځينو عالمانو او پوهانو په قول همدا اوس، چي د ابراهيمي ملت نه پرته نور کوم اديان شته دي او د هغوی تاريخ د اسلام له دين نه لا پخوا زمانو ته رسېږي ښايي په هماغو ملتونو کي وشمېرل شي، چي په قرآن کريم کي ورته اشاره شوې ده.

و: د اسلام دين که عربي فرهنګ:

ما د خپل ليک په يوه برخه کي د اوس مهاله اسلامي هېوادونو پر عملي سيستم نيوکه کړې او ويلي مي وو، چي هغه ربښتيني اسلامي دين، چي په مکه او مدينه کي را نازل شوی و، په مدينه کي خاورو ته سپارل شوی دی او موږ ته، چي څه راغلي يا راځي دا د عربو فرهنګي يلغار نه پرته بل څه نه دي، چي ددغي خبري په مقابل کي ښاغلی زلمی "مومند" ډېر زيات پاربدلی او ډېر زيات زوربدلی دی، چي ګني خدای(ج) مه کړه ما به کفر ويلي وي، يا به زه کافر شوی اوسم. نه دا سي نه ده شکر الحمد لله لا هم مسلمان يم او مؤمن مسلمان يم، يعني يوازي لوی خدای(ج) ته مؤمن او مسلمان يم نه بل چاته. له دي امله په هر لمانځه لا په هر مهال کي لوی خدای(ج) نه پناه غواړم، چي د رټل شوي شيطان له وسوسو مي وژغوري. په دي هکله، چي څه ما ليکلي و او ښاغلي زلمي "مومند" له هغه نه څه انګېرلي دي؟ او بيا زما د درېغ دليل او برهان څه دی؟ يو دربيم ګړی کس غواړي، چي قضاوت وکړي، چي په دي لياره کي پوره پوهه ولري او د سياست له اړخه هم پوره ناپېيلی وي. که نه؛ نو تاريخ روښانه کړي، چي په عملي سيستم کي د پيغمبر لياره د حضرت ابوبکر صديق رضي الله تعالی عنه او د حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنه له خوا په پوره امانت په پرله پسي توګه تعقيب شوه؛ خو د حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه د کار له پيل نه تر نزاع لاندي راغله څو، چي هغه حضرت شهيد کړل شو. په همدي توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت علي کرم الله وجهه د کار له پیل نه هم همغه د څوکۍ لېونیانو د جګړې لپاره غوره کړله، چې په سلګونه سوچه مسلمانان لا ، چې د حضرت پیغمبر اصحاب هم په کې ووژل شول؛ نو چې کله حضرت معاویه د واک په ګدۍ کښېناست له دې نېټې نه دې وروسته نښاغلی زلمی "مومند " ووایي، چې څه وشول؟ آیا د عربو فرهنګي یلغار پیل شو او کنه، که ووایي، چې نه؛ نو بیا د امویانو او عباسیانو کړکېښ یا تاریخ ته دې مراجعه وکړي او ودې ګوري، چې دغو دوو په نامه اسلامي خلافتونو یوازې او یوازې د زلمي "مومند "له سیمې نه یې په کال کې څومره نجونې د وینځو په څېر او څومره هلکان یې د مریانو په نامه خپلو دربارونو ته وړې دي؟ په اسلام کې خو مریي توب له بېخه او بنسټه محکوم شوی او لغوه شوی و هغوی، چې د اسلام د خلافت دربار ته بې ګناه انسانان د وینځو او مریانو په نامه غونښتل او په دربار کې به یې له هغوی نه ناوړه، غیر اسلامي او غیر اخلاقي استفاده کوله او په دې توګه به یې د اسلامي احکامو په خلاف په انساني ټولنه کې د مریي توب ناوړه سنت ته وده ورکوله لکه، چې د زلمي "مومند " د بصیرت له سترګو نه بهر پاتې دي او هېڅ یې نه ویني.

پیغمبر حضرت محمد(ص) ، چې د اسلام د دین د عملي سیستم باني هم دی، په عملي سیستم کې د واکمنۍ لپاره یې د ځای نیونې په هکله له پوهې، تقوی او پرهېزګارۍ له خاوندانو نه پرته بل څوک نه دی وړ ګڼلی، چې له همدې امله وه چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه یې په خلافت کې وټاکل شو؛ خو چې کله معاویه واکمني تر لاسه کړله؛ نو اسلامي خلافت یې یوازې خپلې کورنۍ ته محدود او محصور کړ، او په دې توګه یې د عربو لپاره د اسلام په نامه او د اسلام تر بیرغ لاندې د عربو امپراتوري جوړه کړله.

لکه څنګه، چې د عملي سیستم د بحث په پخوانیو کرښو کې مو ولوستل او دا دی دلته یې هم لولو د معاویه د واکمنۍ د زمانې نه را په دېخوا د اسلام دین په دوو جلا پړاوونو کې پر مخ تللی دی، چې یو یې نظري پړاو او بل یې عملي پړاو دی. نظري پړاو لکه څرنګه، چې ښایي د دیني علماوو او پوهانو له خوا سره د ټولو اختلافونو ، چې د مذاهبو له لیارې رامنځته شوي په ښه توګه او په اصولي بڼه وروستنیو نسلونو ته رارسېدلي؛ خو عملي پړاو یې بیا د خواشینیو او غمونو نه ډک تاریخ لري. وګورئ پیغمبر(ص) او د هغوی راشدین خلفاء په دنیا کې فقیرانه ژوند لرلو او له دنیا نه یې هم په تشو او خالي لاسونو رحلت کړی دی؛ خو د هغوی نه وروسته نور؛ نو اسلامي واکمنانو د فرعوني دبدبې او قاروني شتمنیو سره یو ځای له دې دنیا نه تللي دي.

تېر په هېره همدا اوس او په همدا اوسني افغانستان کې به وګورو. هغوی، چې ځانونه د اسلام د دین وارثان ګڼي کله یې هم په خپلو لاسونو کار کړی دی؟ او کله یې هم چېرته خپل لاسونه تناکې کړي دي؟ چې هر یو یې میلیاردر دی. او هر یو یې هم د اسلام په نامه د ولس د واک مدعي دی؟ د شیعه ګانو کار؛ خو لا بل منګه دی. دغه واکمنه عملي سیستم ددې سبب شوی دی، چې د اسلام د دین د اصولو د غونښتلو په لیاره کې هره هڅه نیمګړې او نیمه خوا پاتې شي. مونږ د ایران د اسلامي انقلاب په پلوۍ چیغې ووهلې؛ خو هغه انقلاب د شیعه مذهب په تنګه سیمه کې د خمیني له خوا په یوه نه خوځېدونکي مونږ "مېخ " کلک وتړل شو.

مونږ په افغانستان کې د اسلامي انقلاب د جهاد په پلوۍ هر څه وښندل؛ خو په نتیجه کې څو تنه میلیاردره لېډران او پاټک لرونکي قوماندانان مو وګټل، چې هر یو یې د واکمنۍ پر سر د بل د سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربکولو ته شېبې شماري. هسې میلیاردران، چې د جهاد د زمانې نه مخکې د افغانستان په اسمان کې یې ستوری نه لاره او په ځکه کې یې سیوری. مګر اوس هر یو یې د جهاد له برکته شخصي ټوپکیان لري، پاټکونه یې جوړ کړي، لیارې شوکوي او جنایتونه کوي؛ خو موږ افغانان لا اوس هم ناست یو له ځانو کټوري غواړو. زلمی "مومند " چې یقین دی لکه زما په څېر به لا هم له افغانستان نه بهر اوسي او افغانستان ته د تللو لیارې به هم پرې بندې وي؛ خو د خپلو دغسې د پردیو له خوا جوړو شویو میلیاردره اسلامي لېډرانو نه په اسلامي نړۍ کې اسلامي خلافت غواړي؛ نو پوښتنه داده، چې څرنګه خلافت؟ آیاد خلفای راشدینو په څېر؟ که د معاویه له خوا، چې کوم خلافت رامنځته شوی و؟ که چېرې وو ایي، چې د خلفای راشدینو په څېر خلافت غواړي؛ نو دا هم باید ومني، چې د داسې اسلامي میلیاردره لېډرانو په لاسونو هېڅکله هسې اسلامي خلافت نه شي جوړېدلی او دا هم همغه خبره ده، چې وایي: ته چې له لال خان نه اوبه غواړې، تږی نه یې.

تر دې لا بر بنده جفا په فرهنګي اړخ کې ده، چې د دغو میلیاردرو له خوا لکه د مثال په توګه د ښاغلي عبدالرب رسول سیاف په مستقیم امر او هدایت عملي شوې ده. وګورئ د نومورې د تنظیم چاپي خپرونو ته، چې د جهاد په دوران کې په پېښور کې یې لرلې. هغو به په ډېره ناروا او غیر دیني توګه د پښتون پښتني نومونه غیر اسلامي ګڼل او پر هغوی به یې عربي نومونه ایښودل او بیا به یې د خوشالۍ د محفل په ترڅ کې هغه پښتون، چې له نیکونو نه راهیسې مؤمن او مسلمان و په نوي نامه سره نوی او سوچه مسلمان ګڼلو. آیا دغسې چال چلند د نورو ولسونو د فرهنګ په له منځه وړلو کې بربنډ فرهنګي یلغار دی او که نه؟ او نه پوهېږم، چې ښاغلی زلمی "مومند "به دغسې کارونو ته د عربو فرهنګي یلغار وایي او که نه؟ که چېرې ځواب منفي وي؛ نو بیا دې لطف وکړي او ودې وایي د اسلام په نامه د نورو ولسونو د فرهنګ او کلتور نابودولو او محوه کولو کار د قرآن شریف د کوم آیت د حکم پر اساس جواز لري؟

ښاغلي زلمي "مومند " خو د اسلام په هکله د خپلو انګېرنو د تایید لپاره د یوې انګلیسي ژورنالیستې مېرمن "ریډلي " نوم هم اخستی او ویلي یې دي، چې د طالبانو له خوا څو ورځې په جلال آباد کې پندي شوې وه. زه هم وایمه، چې رښتیا ما هم اورېدلي و؛ خو د دعوت د خپرونې په همدغې ګڼې کې، چې د زلمي "مومند " نیوکه پکې خپره شوې دغه خبر هم په 14م مخ کې خپور شوی دی. نومورې مېرمنې ویلي دي، چې د طالبانو له خوا ترغیب او تشویقه شومه څو د اسلام دین ومنم. کله، چې له بنده را خلاصه شومه او لندن ته راغلمه، په لندن کې مې له یوه اسلامي عالم نه د اسلام د دین په هکله خپل معلومات بشپړ کړل او دا دی د اسلام دین مې ومانه. د دعوت خپرونه په خپل دغه خبر کې د نومورې مېرمنې له خوا زیاته کړې، چې: په هېڅ یوه اسلامي هېواد کې د اسلام ریښتونی سیستم نشته. هغې د طالبانو او همدا راز د سعودي په چار واکو ګوت نیونې کړې او ویلي یې دي، چې اسلام یې د خپلو اهدافو او کلتوري چارو لپاره ګرځولی دی.

دا وه د مېرمن "ریډلي " خبره، چې بیا هم پر عملي سیستم راڅرخي، او د زلمي "مومند " انګېرنو ته منفي ځواب وایي.

ز: مؤمن او مسلمان د قرآن له نظره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الحجرات سورآ په **14** آيت کې داسي لولو:

ترجمه: وويل صحرايانو ايمان راوړی دی موږ، ووايه محمد(ص): دوی ته له سره ايمان نه دی راوړی تاسي ليکن ووايئ اسلام راوړی دی موږ او له سره نه دی ننوتی ايمان په زړونو ستاسو کې.

تفسير: دلته دا رابنيي، چې ايمان او يقين کله، چې په پوره ډول "طريقه" په زړه کې را ښخ شي او ببخ ونيسي؛ نو په هغه وخت کې غيبت، عيب لټول او نور خراب خصلتونه له سړي څخه لري کېږي. هر هغه سړی، چې د نورو عيبونه لټوي او آزار ور رسوي؛ نو دی دې وپوهېږي، چې تر اوسه پوري يې ايمان په پوره ډول "طريقه" په زړه کې ځای نه دی نيولی. د ابن کثير رحمآ الله عليه په اتم جلد 24 مخ کې يو حديث ليکلی شوی دی:

يا معشر من آمن بلسانه ولم يفض الايمان الى قلبه الا تغتابو المسلمين ولا تنبعو اعوراتهم.

تنبيه: له دې حديث څخه د ايمان او د اسلام فرق ښکارېږي او هم دا خبره له حديث د جبرئيل او نورو څخه هم ثابتېږي په حديث مرويه د ابي هريرآ رضي الله تعالى عنه کې، چې په کتاب الايمان د مشکوآ کې راغلی فرق د ايمان او اسلام داسي فرمايي:

المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده، والمؤمن من آمنه الناس عل دمائهم و اموالهم. "

ترمذي "له اکثري نصوص څخه داسي معلومېږي، چې هغه څوک، چې په اسلام راوړلو سره دا نظر هم ولري، چې له شکنجې د مسلمانانو څخه مامون پاتې شي او يا داسي نور اغراض، چې کفر ته اړونکي نه وي، غوره کړي. داسي شخص مسلمان بلل کېږي، چې هنوز نور د ايمان دده په زړه کې نه دی کامل شوی؛ نو هم دا وجه ده، چې له غيبت کولو او عيب لټولو څخه ځان نشي ساتلی. او هغه څوک، چې بلا قيد او شرط او په خپل ذوق سره په اسلام کې داخلېږي دا هغه اشخاص دي، چې نور د ايمان د دوی په زړونو کې کامل شوی؛ نو خولې او ټول حواس يې نه غواړي، چې په غيبت او يا نورو باطلو باندي وخوځېږي.

د الحجرات سورآ په **15** آيت کې په پرله پسي توګه لولو چې:

ترجمه: بې شکه، چې صادقان مؤمنان هغه کسان دي، چې ايمان يې راوړی دی په الله(ج) او په رسول دده "الله(ج) " باندې بيا شک نه کوي په ايمان کې او جهاد کوي دوی په مالونو خپلو سره، چې لګوي يې په اعلا د کلمآ الله کې او په ځانونو خپلو سره، چې جهاد کوي په ليارہ د الله(ج) کې دا کسان هم دوی ربنتيني دي په دعوی د "ايمان" کې.

دا وه د مؤمن او مسلمان تر منځه د تفکيک روښانه بېلګه. او په دې توګه به موږ وپوهېږو، چې مؤمن څوک دی او مسلمان څوک؟ او دا به هم ووايو، چې هغو کسانو، چې د جهاد په نامه د جهاد له اړخه ميلياردران شوي دي؛ نو هغوی به په کومې کټه ګوری يا ډله کې راشي؟ ځکه، چې د هغوی اوصاف نه په مؤمن کې شته او نه په مسلمان کې. هغو، چې د جهاد په نامه او د جهاد له اړخه ميلياردران شوي او هر يو يې ددغو شتمنيو په زور د ناروا نفوذ او وجاهت خاوندان شوي دي، ځانته ځانته ټوپکيان لري، ځانته ځانته په لیارو او واټونو کې پاټکونه جوړوي او په دې توګه شوکې او جنايتونه کوي، بې ګناه انسانان وژني او خلق الله ازاروي. دغسي کسان، چې نه د مؤمن په ډله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي او نه د مسلمان په ډله کې آیا ددې ورځتيا به هم ولري، چې د اسلامي ټولنې د رهبرۍ او زعامت مدعيان واوسي؟.

ح: د مؤمن مسلمان د قتل په هکله:

د النساء سورآ په 93 آيت کې داسې لولو:

ترجمه: او هر څوک، چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي؛ نو جزا دده دوزخ دی، په داسې حال کې، چې تل به وي دی دغه حلال ګڼونکی د قتل په هغه دوزخ کې او غضب "قهر" کړی دی الله(ج) په ده باندې او لرې کړی دی "الله(ج)" دا قاتل له خپل رحمت څخه او تيار کړې دی ده لره عذاب لوی.

تفسير: يعني کوم يو مسلمان په غلطۍ سره نه؛ بلکې په قصد سره او سره له دې، چې ښه يې پېژني، چې مسلمان دی؛ وژني يې؛ نو دده لپاره په آخرت کې جهنم او لعنت او لوی عذاب دی او په کفاره سره ترې نه خلاصېږي او دنيوي سزا يې همغه ده، چې په (2) جزء د البقره په (178) آيت (22) رکوع کې تېره شوه.

فايده: د ګردو عالمانو په نزد "خلود فی النار" هغه چا لره دی، چې د مسلمان وژل حلال ګڼي. ځکه، چې د هغه په کفر کې شک نشته. يا بايد له "خلود" تل تر تله ځنې تر اوږدې مودې پورې په جهنم کې هستوګن وي. يا خو به داسې قاتل مستحق د همداسې لويې سزا وي. وروسته الله تعالی په خپله مالک او مختار دی او "خلود فی النار" او "خروج عن النار" دواړه دده کار دی، هر څه، چې اراده يې وي همغسې کوي. والله اعلم.

يادونه: د البقرآ سورآ "178" آيت د قصاص په هکله دی، چې بايد اصيل سړی د اصيل سړي په بدل، مريي د مريي په بدل او ښځه د ښځې په بدل کې قصاص شي.

په پورته توګه مو ولوستل، چې: څوک، چې د يو مؤمن مسلمان سړي په قصدي توګه وژل روا ګڼي، د هغه په کفر کې شک نشته. ځکه، چې ښه يې پېژني مسلمان دی؛ خو وژني يې، او په دې توګه يو ناروا عمل، چې قتل عمدي دی روا ګڼي. له دې امله د دوزخ، لعنت او د لوی عذاب مستحق ګڼل کېږي. زموږ په هېواد کې دا پينځه ويشت کاله کېږي، چې د جهاد په نامه او د جهاد له اړخه ميليونو او ميلياردرو مشرانو په امر، چې هر يو يې ځانته مسلحه تنظيم لري د سوونو زرو مسلمانانوويني تويې شوې او په لکونو کونډې، بورې، يتيمان يې تر مستقيم ظلم، زور او آزار لاندې ساتلي دي. لا، چې د اسلامي نظام د مشرتابه د واکمنۍ مدعيان هم دي. هغه د چا خبره، چې زه دې په پيرۍ کې شک لرمه، ته لا ځانته مريدان نيسې.

د قرآن کريم د روښانه آيت د حکم په اساس د دوی په مسلمانۍ کې شک دی؛ خو دوی د نورو مسلمانانو پر مسلمانۍ باندې نيوکې لري لا، چې هم په ډېره بې حيايۍ سره مدعيان دي او وايي، چې موږ د جهاد په لياره کې قربانۍ ورکړې دي او له دې امله د مشرتابه حق زموږ دی. مګر داسې چا هم له هغوی نه ونه پوښتله، چې وروره! مهرباني وکړه او ووايه، چې: تا د جهاد له دوران څخه مخکې څه لرل؟ او اوس څومره کورونه، ځمکې، اپارتمانونه، سرايونه او په داخلي او خارجي بانکونو کې ډالرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري؟ دغومره ډېره سرمايه دې له کومې لياري پيدا کړله؟ که چېرې خبره د جهاد في سبيل الله وي؛ نو تا بايد د پيغمبر او د خلفاء راشدينو او نورو صحابه وو په څېر د لوی خدای(ج) د امر په اساس خپله سرمايه د جهاد په لياره کې لګولې وای او اوس دې هېڅ نه لرلای؛ خو ته په خلاف د هغوی لوی سرمايه داريې او ځوک ستا له لاسه په خپله سيمه کې يوه بسوه ځمکه هم د سر پناه د جوړولو لپاره نه شي پيرلی. دا ځکه، چې تا په ناروا توګه ډېرې پيسې تر لاسه کړې او هر چېرته، چې ځوک خپله ځمکه، کور يا نور جايداد وپلوري ته يې په لوړه بيعه رانيسې. په دې توګه په لومړي پړاو کې د جهاد له اړخه په ناروا توګه دې ځان د شتمنۍ خاوند ګرځولی او په دې دويم پړاو کې په هماغه ناروا وو شتمنيو سره لګيا يې د بې وزلو انسانانو د ژوند سيمه تنګوې، او له دې امله پر خلق الله باندې ظلم او تېری کوې.

دا خو و زموږ په هېواد کې د جهاد د ميراث خورو حالت. د اسلامي نړۍ په نورو عربي او غير عربي هېوادونو کې هم څه ناڅه په ډېر لږ توپير سره د واکمنۍ د مدعيانو حالت هم لا داسې دی.

ط: په نړۍ کې د يو واحد اسلامي عملي سيستم:

په افغانستان کې ځان ځاني او د شتمنيو لمانځنه مو په خپلو اسلامي ډلو او د جهاد په مدعيانو کې وليدله. ښه به وي، چې وڅېړو آيا په ټوله اسلامي نړۍ کې د داسې ځواکونو له خوا د يو واحد اسلامي سياسي سيستم د جوړېدلو امکان شته او که نه؟ ځواب يو دی او هغه دا ، چې: هغوی، چې په خپل کلي، خپل ښار او خپلې سيمې کې د واحدې مشرۍ پر واکمنۍ نه جوړېږئ؛ نو په ټوله اسلامي نړۍ کې به څنګه پر يو واحد سيستم او واحد مشرتابه باندې روغې جوړې ته ورسېږي؟ له دې امله ما مخکې تر دې په خپلې ليکنې کې ويلي و ، چې اسلامي نړۍ اوس اوس پر يو واحد عملي سيستم باندې نه شي راټولېدلی. مګر ښاغلي زلمي "مومند " په خپل غبرګون کې زما خبره له بنسټه رد کړله او مدعي شو ، چې لکه څنګه، چې پخوا هم اسلامي نړۍ پر يو واحد عملي سيستم راټوله شوې وه، له دې وروسته هم دا خبره ممکنه ده، چې يو ځل بيا پر يوواحد عملي سيستم راټوله شي. هغه د خپلې خبرې په تاييد د مثال په توګه د تېرو زمانو اسلامي خلافتونو ته د دليل په توګه اشاره کړې او په اوس مهال کې يې په پاکستان، افغانستان او يران کې د مېشته وو سنيانو او شيعه ګانو د يو ځای ژوند کولو ثبوت ښودلی دی.

فکر کوم، چې تاريخي پېښې د زلمي "مومند " د فکر او اند په خلاف دريځ لري. هغه دا ، چې: په عملي سيستم کې د اسلام لومړنی سوچ خلافت د حضرت ابوبکر صديق(رض) او د حضرت عمر فاروق(رض) خلافتونه وو ، چې د پيغمبر(ص) پر لياره به يې يون لاره؛ خو لا هم د عربو په جزيره کې محدود وو. کله، چې ددغه واحد سيستم خلافت حضرت عثمان(رض) ته رسېږي څه ناڅه خپل سوچه توب ښيي. مګر هغه حضرت په شهادت رسېږي او د خلافت دنده حضرت علي کرم الله وجهه ته سپارل کېږي. په دې مهال کې، چې د خلافت د واکمنۍ سيمه د عربو د جزيرې نه بهر لا تر افغانستانه هم رسېدلې وه، پر خلافت باندې نزاع او جګړه راپېښېږي، چې په نتيجه کې حضرت علي کرم الله وجهه له خلافت ګوښه او د خلافت واکې حضرت معاويه ته سپارل کېږي او حضرت معاويه؛ نو د خپل خلافت د واکمنۍ واکې د سوتې په زور ساتي. که د هغې زمانې تاريخي پېښو ته وکتل شي، هېڅوک به داسې ونه شي ويلی، چې ګنې د امويانو او بيا د عباسيانو په خلافت کې عربي او غير عربي مسلمانان ټول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله د خلافت په عملي سیستم باندې راضي وو ، او اسلامي نړۍ په یو واحد اسلامي عملي سیستم کې ژوند کاوه. په دې توګه باید ووایو ، چې په ټوله اسلامي نړۍ کې د یو واحد اسلامي عملي سیستم واکمنېدل یوه خبره او په یوه سیمه کې د سني او شیعه د ګډ ژوند لرل بله خبره ده، چې سره جلا موضوعګانې دي او هېڅ ممکن نه دی، چې یو د بل سره پیوند ومومي. راغلو دې ته، چې آیا د تاریخ په اوږدو کې پر اسلامي نړۍ باندې کوم یو واحد اسلامي عملي سیستم کله هم واکمن شوی و او که نه؟ دغې خبرې ته تاریخ په خپله په روښانه توګه ځواب لري او زه نه غواړم له دې نه زیات په دې هکله څه ووایم.

ی: نارینه او ښځینه وو ته مساوي مکافات او مجازات یا په بله ژبه مساوي حقوق:

د آل عمران سورا ، چې مدني دی په تلاوت کې دریېم او په نزول کې (89 یم) سورا دی په (195 یم) آیت کې داسې لولو:

ترجمه: پس قبولې کړې دوی لره دا دعاوې رب د دوی په دې شان، چې بېشکه نه ضایع کوم عمل د هېڅ عمل کوونکي له تاسې نه، نارینه وي دا عامل یا ښځینه وي. ځکه، چې ځینې ستاسې دي له ځینو نورو او ماته په مکافات کې ګرد سره یو یئ.

تفسیر: یعنې نارینه وي که ښځینه، زموږ په دربار کې د هېچا خواري او تکلیف نه ضایع کېږي. هر څوک، چې هر کار وکړي ثمره به مومي. دلته عمل شرط دی. د نېک عمل په وسیله یوه ښځه هم د خپل استعداد سره سم د آخرت هغه لوېې درجې حاصلولی شي، چې نارینه یې حاصلولی شي. کله، چې تاسې نارینه او ښځې د انساني یوې نوعې افراد یئ او له یوه آدم علیه السلام څخه پدا شوي یئ او په اسلامي رسۍ سره تړلي یئ، او یو اجتماعي ژوندون لرئ، او د معاشرت په چارو کې ګرد "ټول" سره شریکان او مله یئ؛ نو عملونه او د هغوی ثمرات مو هم یو شی وګڼئ.

په روایتونو کې راغلي دي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ام سلمآ(رض) عرض وکړ: یا رسول الله(ص) په قرآن کریم کې هېچرې زموږ د ښځو د هجرت او نورو حسنه اعمالو په نسبت کوم خاص ذکر نه دی راغلی. نو د هغه ځواب په دې آیت سره ورکړل شو.

د پورتني آیت د حکم پر اساس د ښځو او نارینه وو تر منځ ټول هغه توپیرونه او امتیازات، چې په ټولنه کې د نر او ښځې تر منځ واکمن وو ، لغوه شوي او دا خبره په ډاګه شوې، چې د دواړو لپاره مکافات او مجازات په برابره او مساوي توګه ټاکل کېږي. وګورئ مکافات د ښو کارونو او اعمالو لپاره او مجازات د ناوړه کارونو او اعمالو لپاره وي. که څوک په ټولنه کې ددې واک او اجازه ونه لري، چې په آزادانه توګه د خپل ژوند ازمېښت وځلوي، هغه به څرنګه د مکافاتو یا د مجازاتو وړ او مستحق وګرځي. د ژوند په ډګر کې د ازمېښت لپاره، چې ښایي دغه خبره د انسان د خلقت رښتینی راز وګڼل شي. آزاد نه وي او لکه څرنګه، چې په ځینو اسلامي ټولنو کې لا تر اوسه پورې هم ددغه ذهنیت واکمني دوام لري، چې ښځه نه شي کولی له کوره بهر په آزادانه توګه کار او فعالیت وکړي، له بنسټه غلطه او ناروا ثابتېږي. ددې آیت دغه حکم ددې سره سره، چې ښځو ته لومړنی حق، چې ځان پېژندنه ده ورښودلې، هغوی ته یې په ټولنه کې لا د ټولنې د کار په پراخه ډګر کې هم د کار او ازمېښت د مساوي حق ضمانت کړی دی. ځکه، چې په دې آیت کې دواړو ته مکافات او مجازات په مساوي او برابره توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلان شوی دی. له دې امله هېڅوک نه شي کولی، چې وواېي په اسلام کې د ښځې او نر لپاره مساوي حقوق نشته. یا دا ، چې ښځه نه شي کولی له کوره بهر کار یا د زده کړې لپاره لاړه شي.
ددې آیت له محتوا نه دا هم څرګندېدلی شي، چې په آخرت کې هم لکه څرنګه، چې نارینه وو ته په مکافاتو کې جنت، حورې او غلمان ور رسېږي. ښځو ته هم په هماغه توګه جنت، حورې او غلمان په مکافات کې شته؛ نو د پښتو ژبې ددې لنډۍ پر مخ چې وایي:

په دنیــــا ښــــه راسره وکــــــــــړه
په آخرت کې د هر چا ښېل دي کورونـــه

دا هم په ډاګه کوي، چې په آخرت کې د مکافاتو له امله ښځو ته هم لکه د نارینه وو په څېر په مکافاتو کې جنت، حورې او غلمان په انتظار کې دي؛ نو زما خبره د هغو ښځو خاوندانو ته ده، چې هغوی په دنیا کې د ښځو حقوقو ته په درنه سترګه نه ګوري، خپلو ښځو سره د حیواناتو په څېر چال چلند لري او رنګا رنګه سزاګانې ورکوي. د دا رنګه چال چلند خاوندان به وکولی شي په اخرت کې د خپلو دنیایي مېرمنو سره یو ځای ژوند وکړي او که نه؟ ځواب څرګند دی، چې:
په آخرت کې د هر چا ښېل دي کورونه

ک: ږیره او مسلماني:

ښاغلی زلمی "مومند" د ږیرې په هکله ډېر زیات زور ېدلی دی، چې زه نه غواړم څوک له ما څخه خواشیني وي. ما په ټول قرآن کریم کې یوازې یو آیت وموند ، چې د مفسر له خوا په تفسیر کې په ږیرې پورې یې هم تړاو میندلی، هغه هم داسې لولو:
د النساء سورا آ 119 آیت:

ترجمه: شیطان وایي: او زه به هرو مرو ګمراه کوم خامخا دوی او هرو مرو زه به په باطلو امیدو کې خامخا واچوم دوی او هرو مرو به زه امر وکړم خامخا دوی ته، چې پس هرو مرو خیروي به دوی خامخا غوږونه د چارپایانو او زه به هرو مرو امر وکړم خامخا دوی ته پس هرو مرو تغییر به ورکړي دوی خامخا پیدا ابنت د الله(ج) ته.

تفسیر: یعنې هغه کسان، چې زما په برخه کې راځي دوی به له حقې لیارې څنې ګمراه کوم او د دوی په زړونو کې به د دنیوي ژوند او د فاني دنیا مینه اچوم او دوی به له قیامت، حساب، کتاب او نورو اخروي امورو څخه غافل کوم. او دا خبره به دوی ته ورښیم، چې د څناورانو غوږونه خیرې کړي او د بتانو په نامه یې خوشې کړي، او د الله تعالی پیدا کړې صورتونه او د هغو مقررې کړې څېرې واړوي.

فایده: د کافرانو دستورو ، چې د غوا ، خوسې، مېږې "ګډې"، ورې او اوښ "جونګې" به یې د بت په نامه کول، او د هغو غوږونه به یې خیرول او په غوږونو کې به یې نښې اچولې، بیا به یې سرخوشې پرېښودل. د صورت بدلول لکه خصي کول یا په ستنو سره د بدن سوري کول او په هغه سره شنه یا بل ډول خالونه اېښودل یا زرغون داغ ورکول یا د وړوکې پرسر باندې په کوم اسم او رسم سره کمځۍ او بل رنګ وښتان د بل چا په نامه اېښودل "یا په منهیاتو " کې د خپلو اندامونو خوځول، یا د حلالو تحریم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د حرامو تحلیل او نور، چې په موږ مسلمانانو باندې لازم دي، چې له دغو ګردو ځنې ځانونه وژغورو.

د ږیرې خرېیل "کلول" هم په همدې تغییر کې داخل دي او د الله تعالی هر ډول احکام، چې دې د هغه حرامول، یا یې حرام حلال ګڼل، انسان له اسلام ځنې باسي؛ نو هر څوک، چې په داسې خبرو کې مبتلا وي په یاد دې ولري، چې د هغه شیطان په همغه ټاکلې برخه کې داخل دی چې ذکر یې پاس وشو.

دا وه د آیت ترجمه او د مفسر تفسیر. که په رښتیا سره د ږیرې په خرېیلو "کلولو" په څېره کې تغییر او بدلون راځي؛ نو په دې حساب او سني د سک د طریقې پیروان، چې نه ږیره خریي، نه بریت او نه د سر وېښتان؛ نو د مفسر په قول ددې آیت د حکم سره سل په سلو کې سم روان دی. او دا حکم یې په پوره توګه عملي کړی دی. کنه؛ نو اصلي څېره هغه ده، چې انسان له موره پیدا شي. که په پیدا ایشي څېره کې کوم مصنوعي بدلون راوستل کېږي البته هغه به په حرامو کې راځي؛ نو په دې اساس کله، چې ماشوم له موره پیدا شي هغه نر وي یا که ښځه امرد وي. یعنې پر مخ یې وېښتان نه وي؛ خو کله، چې د بلوغ حد ته ورسېږي او بالغ شي، که نارینه و؛ نو پر مخ یې وېښتان رازرغون شي او که ښځینه وه؛ نو مخ یې په خپل حال پاتې کېږي؛ نو په دې توګه دغه د مخ وېښتان د هغه د وجود نه بهر د هغه د جنسي پېژند ګلوي نښه شي. له دې امله زما په اند ږیره نه یوازې، چې د سړي د پېژند ګلوۍ نښه ده؛ بلکې د سړیتوب ګاڼه یې هم ګڼلی شو. دلته ده، چې په دې هکله ټولنه د تبلیغ، ترغیب او تشویق له لیارې پوهونه غواړي، نه د سوټې، په وسیله وهل ټکول، بند او ځنځیر. تر دې علاوه که څوک وو ایي، چې د ږیرې اوږدول د احادیثو په قول فرض دي یا که د زلمي "مومند" په څېر څوک وو ایي، چې ږیره سنت موکد او واجب ده. یا که څوک وو ایي، چې نه فرض ده نه واجب ده او نه سنت ده. تر او سه پورې زما تر سترګو څه نه دي راغلي. په قرآن کریم کې، چې د اسلامي دین د اصولو اصل دی. په دې هکله په روښانه توګه ما څه نه دي لیدلي، چې فرض وګڼل شي. په احادیثو کې؛ خو زما پوهه نیمګړې ده. که چېرې په ثقه وو احادیثو کې داسې څه وای؛ نو ښایي ډېر پخوا به د ټولنې د پوهولو لپاره خپاره شوي وای. سره ددې هم ددې بحث مخه پرانستې پاتې ده، هیله ده که چا په دې هکله قرآني آیت یا کوم ثقه حدیث وموند هغه به اسلامي ټولنې ته وړاندې کړي. راغلو دغه ذهنیت ته، چې په دغه تېرو دوه دري لسیزو کې زموږ پر افغاني ټولنې یې کلکه او نه ماتېدونکې واکمني لرله، چې: ږیره لرل فرض دي او که څوک ږیره خریي "کلوي" هغه د فرضو تارک دی. یا دا، چې حرام یې حلال ګڼلي او کافر دی. د تامل وړ او تر پوښتنې راتلونکی امر دی.

باید ارومرو وپوښتل شي هغه کسان یا ډلې، ټپلې او ځواکونه، چې اسلام یوازې او یوازې پر ږیره لرلو مشروط او محدود ګڼي، هغوی به په خپله د دا رنګه ذهنیت د لرلو او چال چلند سره د اسلام د دین له اصولي دایرې څخه وتلي وي او که نه؟

ږیره د سیاست په څپو کې کله فرض شي، کله واجب شي، کله سنت شي او کله هېڅ. دغې ستونزې زموږ په سیمه کې یوازې زموږ د ولس د هر رنګه بنسټیزو پرمختګونو مخه ډب کړې او لا، چې یې د ځینو بې ګناهو مګر سوچه مسلمانانو افغانانو ژوند هم اخیستی دی. هغوی، چې زموږ ولس د ږیرې په نه لرلو زورولی، رټلی، وهلی او وژلی او همدارنګه هغوی، چې زمو ولس د ږیرې د لرلو په تور ربړولی او له ژونده بې برخې کړی دی، دغه دواړه ډلې ارو مرو زموږ د ولس دښمن او د تاریخ جنایت کاران شمېرل کېږي او باید وغندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نچوړ)

څه، چي ما ويلي دي او څه، چي په غبرګون کې نورو وويلي او څه، چي په قرآن کريم کې ويل شوي دي په تېرو کرښو او مخونو کې مو ولوستل. د هغو ټولو څرګندونو پر مخ دغو لاندېنيو پوښتنو ته په رښتينه ځواب اړين برېښي:

-1 ژبه د لوی خدای(ج) مخلوق دی او که نه؟ که چېري ژبه د لوی خدای(ج) مخلوق ګڼل کېږي؛ نو هغه کسان، ډلې، ټېلې يا ځواکونه، چې د ځينو ولسونو د ژبو سره دښمني کوي، هغوی د لوی خدای(ج) د مخلوق سره د دښمنۍ له امله د لوی خدای(ج) دښمنان هم ګڼل کېږي او که څنګه؟ د قرآن کريم د الروم سورآ د 22 آيت په مخ ژبه د لوی خدای(ج) د قدرت د سترو نښو څخه شمېرل کېږي آيا د لوی خدای(ج) د قدرت د نښو سره دښمني به د هغه لوی ذات سره دښمني نه وي؟.

-2 نيشنليزم کفر دی او که نه؟ که کفر وي په کوم دليل؟.

-3 ملت پالنه، ملت روزنه، ملت وينبونه او ملت جوړونه د نيشنليزم له مباديو څخه شمېرل کېږي او که نه؟.

-4 د موسی عليه السلام د دين په بنسټ کې ملت پالنه، ملت وينبونه، ملت روزنه، او ملت جوړونه ځلېدلي ده او که نه؟.

-5 د موسی عليه السلام دين ته سوچه نيشنليزم ويلی شو او که نه؟.

-6 د بني اسرائيلو همدا اوسني دولتي تشکيلات پر اسرائيلي نيشنليزم ولاړ دي او که نه؟

-7 د اموي، عباسي او عثماني خلافتونو ته سوچه اسلامي خلافت ويلی شو او که نه؟.

-8 کله هم د خلفای راشدينو نه وروسته چېرته هم د اسلام د دين پاک، سوچه او سپېڅلی سياسي نظام رامنځته شوی او که نه؟.

-9 د اسلامي نړۍ لپاره په اوسنيو واکمنو حالاتو او شرايطو کې د خلفای راشدينو د اسلامي خلافت په څېر سياسي واکمني به غوره وي او که نه؟ که چېري غوره وګڼل شي؛ نو د جوړولو امکانات يې څرنګه مطالعه کېدلی شي؟.

-10 زموږ په هېواد کې او همدا رنګه په ګاونډيو اسلامي هېوادونو کې، چې کومې سياسي اسلامي ډلې، ټېلې او ځواکونه کوم، چې څه په واکمنۍ کې دي او څه د واکمنۍ لپاره په هلو ځلو بوخت دي، د اسلام د دين له نظره د اسلامي خلافت د جوړولو وړتيا لري او مستحق ګڼل کېږي او که نه؟.

-11 په افغانستان کې د جګړې يا د جهاد له امله را زېږېدلي ميلونران او ميليارډران، چې څه د مشرانو او څه د قوماندانانو په نومونو همدا اوس او وس په افغاني ټولنه کې لا، چې د ټولنې پر وليو بار دي او واکمني لري د اسلام د دين د اصولو پر مخ سوچه مؤمنه مسلمانان ګڼل کېږي او که نه؟.

-12 د اسلام د دين لارښود حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او د هغوی صحابه کرام او خصوصاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلفای راشدینو؛ خو د اسلام د دین لپاره د جهاد په لیاره کې خپلي تولي شتمنی وښندلي او کله، چې له دې دنیا نه یې رحلت کاوه خالي لاسونه وو. مګر زموږ په هېواد کې لا زموږ په ګاونډیو اسلامي هېوادونو کې د اسلام او جهاد په نامه یو شمېر زیاتو وګړیو ډېره زیاته شتمني تر لاسه کړې او د همدغو ناروا وو شتمنیو په زور پر خپلو هېوادوالو واکمني کوي. آیا ددغو دغه عمل اسلامي عمل دی او دوی په رښتینه توګه سوچه مسلمانان ګڼل کېدلی شي او که نه؟

-13 هغو کسانو، چې د افغانانو غیر عربي نومونه په عربي نومونو بدل کړل او خپل دغه عمل یې اسلامي وګڼلو، د اسلام د پاک او سپېځلي سوچه دین د احکامو سره برابر دی او که نه؟

-14 یهودي امت، عیسوي امت او اسلامي امت د ابراهیمي ملت غړي دي او که نه؟ که چېرې دغه درې واړه امتونه د ابراهیمي ملت غړي وشمېرل شي؛ نو ددغو درې واړو امتونو تر منځ دښمني، جګړه او وژني روا دي او که نه؟

-15 په اسلامي امت کې د رامنځته شویو مذاهبو تر منځ دښمني، جګړې او وژنو ته په کومه سترګه کتلی شو؟

-16 زلمي "مومند " په خپلي لیکني کې ږیرې ته سره ددې، چې سیاسي رنګ ورکړی هغه یې سنت موکد او واجب ګڼلې ده. مګر د طالبانو د نظام د سیاسي واکمنانو په ګروهه ږیره له فرضیاتو څخه ګڼل کېدله او چا، چې ږیره خریلې وه، هغه ته به یې ښه درنه سزا ورکوله. لکه ښکنځل، وهل او بندي کول. پوښتنه داده، چې ږیره سنت ده؟ واجب ده؟ او که فرض ده؟ دا ځکه، چې سزا؛ خو د جرم د ماهیت پر مخ ورکول کېږي؛ لکه د قباحت د جرم لپاره قباحتي سزا. د جنحې د جرم لپاره د جنحې د جرم سزا او د جنایت د جرم لپاره د جنایت د جرم سزا. که چېرې ږیره لرل فرض وي؛ نو تارک یې د جنایت د جرم مستحق دی. او که چېرې واجب وي؛ نو د جنحې د جرم د جزا وړ دی او که چېرې سنت وي؛ نو د قباحت د جرم د سزا وړ ګڼل کېږي. مګر طالبانو به بې له دې، چې د ږیرې د خریلو د جرم ماهیت او نوعیت تثبیت کړي د جنحې د جرم سزا ورکوله. یعني په قول کې به یې د ږیرې خریل عمل جنایت ګاڼه او په عمل کې به یې د جنحې د جرم سزا ورکوله. او په دې توګه د هغوی د قول او عمل تر منځ توپیر موجود و.

-17 آیا مذاهب د سیاست د ځپو زېږنده ده او که نه؟

-18 ډېره غټه او هر څه د مخه لومړنی پوښتنه داده، چې آیا د دین یا مذهب په نامه د نورو ولسونو فرهنګي دودونه او کلتوري رواجونه له منځه وړل روا عمل دی او که نه؟ که روا وګڼل شي په کومو دلیلونو؟

دغو پورتنیو پوښتنو ته که چېرې په رښتینه توګه څرګندوني او معلومات وړاندې شي، زه باور لرم، چې خامخا او ارومرو هر وګړی به ووایي، چې: هر دین په خپل بنسټ کې نیشنلیزم دی. یعني ملت پالنه، ملت وینبونه، ملت روزنه او ملت جوړونه د هر دین د اصولو څخه ګڼل کېږي. لکه څنګه، چې موسی علیه السلام هم خپل قوم یعني بني اسرائیلو ته دغه خدایي موهبت په لاس کې ورکړ او ویې ویلې: ای قومه زما ! که چېرې غواړئ، چې آزاد او خپلواک ژوند ولرئ؛ نو د عمالقه وو د قوم سره وجنګېږئ، هغوی له دې ښاره وباسئ او ښار تاسې ونیسئ، چې دا د لوی خدای(ج) وعده ده، او دغه وعده یوازې ستاسې له خوا د جهاد او جګړې له لیارې تحقق مومي.

لکه څنګه، چې د موسی علیه السلام د مبارزې د زړې نچوړ وینو دا راته جوته کېږي، چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهال د سیمه ییزو او ټولنیزو ولسي شرایطو تر مخه د ملت پالنې، ملت روزنې او ملت جوړونې لپاره د لوی خدای(ج) له لوري یو رنګ احکام او هدایات راغلي، او بیا د عیسی علیه السلام په مهال کې د ملت جوړونې، ملت روزنې او ملت پالنې لپاره د ځینو بدلونونو سره د لوی خدای(ج) له لوري بل رنګ احکام او هدایات راغلي او همدا رنګه د ابراهیمي ملت د بشپړې جوړونې، روزنې او پالنې لپاره د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په مهال کې د هغوی په وسیله د اسلامي امت د موجوده دین احکام او هدایات راغلي دي.

او همدا رنګ دا هم د منلو وړ برېښي، چې: د المؤمن سورآ د **78** آیت پر مخ د نورو ملتونو د جوړونې، پالنې او روزنې لپاره هم د هغوی د مهال د سیمه ییزو، ټولنیزو او ولسي شرایطو سره سم د احکامو او هدایاتو سره یو ځای استازي استول شوي وي.

ددې اصل پر مخ ویلی شو، چې هر کله او په هر ځای کې لومړی د ملت زړی لکه د بني اسرائیلو په څېر په یوه قبیله، څانګه یا ولس کې ایښودل شوې او زرغونه شوې او بیا ددغه زړي د ونې ښاخونو د نورو، ولسونو پر سر سیوری غوړولی دی.

دین، چې د ملت جوړونې اصلي جوهر دی؛ لکه د معمار په څېر یې هم د ملت د تعمیر د بشپړ اعمار لپاره له ژبې او وینې نه د خښتو، تیرو او سیمټو په څېر کار اخیستی دی. او دغه توکي لکه، چې د موسی علیه السلام په مبارزه کې وکارېدل، هر کله او د هر ملت په جوړونه کې هم کارېدلي دي، چې څوک ترې سترګې نه شي پټولی او هېرولی یې هم نه شي. همدغه لامل دی، چې ګروهې او ولس ته په لنډه توګه د دین نوم ورکړل شوی او دغو دوو توکو یعنې ملت او عقیدې باندې د دین نوم ایښودل شوی دی؛ لکه، چې دین بې له ولسه، او ولس بې له ژبې څه ارزښت نه لري، همدا رنګه هم ژبه بې له ولسه او ولس بې له ګروهې خپل ځلښت نه شي ځلولی او ارزښت نه شي تر لاسه کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه

منظوم کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولله

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
څه غوندې سوله
څه غوندې روغه
څه غوندې مینه- د ورورولئ را
څه غوندې ژوند
څه غوندې خوند
يو څه رېښتينه- سمونولئ را

❋❋❋

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
هاغه د پلار
نغری مې تود کړې
هاغه د کلي
ویاله مې رود کړې
څه غوندې کښت
څه غوندې زرعه
په خپل پټي کې- د خپلولئ را

❋❋❋

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
د هجر شپه مو
چې پرې رڼا شي
چې يارانه مو
ښه په وفا شي
څه غوندې ستوري
څه غوندې سپوږمۍ
څه غوندې لمر- بيا پر بلۍ را

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
چې واک مې خپل وي
په هر یو کار کې
چې ژواک مې خپل وي
په هر دیار کې
څه غوندې واک
څه غوندې ځواک
یو څه غښتلی- د ژوند بولۍ را

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
له ولږې نه یو
هیڅ چرته تللي
له وچکالیه
تښتو له کلي
څه غوندې اوبه
څه غوندې دانه
د ژوند درمند کې- دلۍ را

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
لږ څه خواږه کړه
دغه تراخه مو
لږ څه سیده کړه
دغه کاږه مو
څه غوندې هوسا
څه غوندې بسیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څه نېکمرغه- د ژوند سلګۍ را

ای لويه خدايه !
ای لويه خدايه !
بيا مې تاريخ ته
سر لوړی بوځه !
بيا مې په سيمه
پوهيالي روزه !
څه غوندې بريا
څه غوندې غوريا
په هر مهال کې- د اتلولۍ را

ای لويه خدايه !
ای لويه خدايه !
دې بېلتانه يم
ډېر ځورولی
ډېرو وعدو يم
په زړه داغلی
څه غوندې وفا
څه غوندې وصال
د ژوند سندره- د ژوند ډولۍ را

ای لويه خدايه !
ای لويه خدايه !
بيا کړه زرغونې
وچې هيلې مو
بيا کړه ودانې
ړنګې دېرې مو
څه غوندې هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه غوندې وسه
دې مړواې تن ته- د ژوند ګولۍ را

❋❋❋

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
په هاغه بڼ کې
د پلار نیکه مو
وتړوکوه بیا
زړې اوده مو
څه غوندې ګل
څه غوندې تل
یو څه ښېرازه- د ښې سیالۍ را

❋❋❋

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
د سر شملې ته
پګړۍ ریښمینه
د خپو خپلۍ ته
جرابې وړینه
څه غوندې نوې
څه غوندې ښکلې
تن ته جامې را- سر ته خولۍ را

❋❋❋

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
د فرید خان
د خوشال خان
د میرویس خان
د احمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه غونډې هوډ
څه غونډې هڅ
د پښتون والې - رېښتين ولۍ را

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
زمونږ هرې پېغلې
هر یو زلمي ته
لا هم تر تله
هر یو بچي ته
څه غونډې ننګ
څه غونډې رنګ
څه غونډې وينه - د پلرګنۍ را

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
دا پردېسي مو
ډېره اوږده شوه
دا بې وسي مو
لا هم توده شوه
څه غونډې وس
څه غونډې رس
په خپل هېواد کې - د نېکمرغۍ را

ای لویه خدایه !
ای لویه خدایه !
څوک چې پر مونږ
سوچ کا د بلوسې
هغه هم ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه يوسې
څه غوندې دوستان
څه غوندې ياران
د ژوند پر سيمه- غاړه غړې را

❋❋❋

اې لويه خدايه !
اې لويه خدايه !
چې مو مشرانو
شمله شي لوړه
چې مو کشرانو
هڅه شي وړه
بيا مو هر يو ته
په ښې سيالۍ کې
لا ښه غښتلي- اس د سورلۍ را

❋❋❋

اې لويه خدايه !
اې لويه خدايه !
بيا مې امين کړه
هره غوښتنه
چې مې کړه وړاندې
لويه څښتنه
يو څه په ژوند کې
له برمه ډکه
له خپله وره- ډکه ځولۍ را

❋❋❋

بن جرمني
200/7/10

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرغون خان نورزي په یاد

چې نه مې راځي سترګو ته هېڅکله هېڅ مهال
راځه خو مې یو ځلې په ورشو کې ته د خیال

هېڅ و مې نه لیدې که مې کتلې په هر لوري
له ښاخه مې د پوهې وشلېده د فکر تال

که وهم که ګومان دی، که مې دي څه نور حواسه
په لټه د تا ښکاري، ستړي ښه ملال

وښایه چې یې چېرې؟ او له کومه ځایه څارې؟
پر ما دې هغه شوې، چې راغلې پر بلال

د لمر په څېر ښکاره شه، تود مې کړه پر خپلو وړانګو
یخنۍ د بېلتانه ته کړه لمبه اور د وصال

دا څه د ژوند پر سیمه مې، د غم وریا راغلې؟
هر څوک دي نن د ښمن ته، د وژلو مې دلال

چې ورنګوي سیمه ښه، زما د تن په وینو
ګاونډ کې مې هر ځواک دی، راولاړ لکه دجال

کودي مې پر سر مات شول، د منګي زما د کور
او به مې لا هم وچې وې چې څښل مې په تول کال

راوښایه وریا به د خوښۍ له کومې راشي؟
منګي به راته جوړ کړي د خوښۍ کوم یو کلال؟

بیا هم به پښتانه شي په دې سیمه د سیالۍ کې
سرلوړي، ښه هوښیار، بسیا، نېکمرغه او ننګیال؟

را یاد مې زرغون خان شو د نورزیو د ټبر
هغه چې پښتو ناوې ته او بدلو د سرشال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې په مېرانه کې نامتو د پښتنو و
هغه چې د پښتو و د ادب د زنې خال

هغه چې به په ژبه د پښتو شعر ویلو
هغه چې د پښتو ادب ته وبانښه جلال

هغه خو و د سیمې د ادب ښه پهلوان
هغه و په سیالانو کې، لا ښه غښتلی سیال

هغه رانه هېر نه کړې د پېریو په اوږدو کې
هغه په یاد ساته، زمونږ د هر یو فرهنګپال

ښاغلی هېواد مل چې په پښتو پښتون مین دی
په هکله د نورزي د لمانځنې وکړ سوال

ښاغلی هېواد مل دی او ښاغلي یې اندونه
ښاغلي دي کارونه لا ددغه هېواد پال

هوسا، بسیا، نیکمرغه او اوږد ژوند ورله غواړم
جنت کړې ور په برخه، بې خلله بې زوال

"انځور" نه کړې رنځور، چې لا تندی یې دی روښانه
له "ستوریو" کړې را ډکه هره خوا مې د هلال

ای ته چې نه مې ذهن کې ځایږې، نه دی وینم
ساته ما "خاپی" هم له هرې پېښې د و بال

بن جرمني
3/3/2001

یادونه:
1. هېواد مل- زلمی.
2. انځور- زرین.
3. ستوریو- کبیر ستوری او زامن یې.

طالب ته!

زه وایم په تا پسي، ته وایې په ما پسي
وایي نور عالم پر ما او تا پسي

څومره پسپسکې چې دي ما پسي
هومره پسپسکې دي هر چا پسي

دا خو دغه ژبه ده په خولې کې مو
اورې چې را اورې هره خوا پسي

جوړې کړې فتنې هر کله هر رنګه
راوړې د تیارو لښکر رڼا پسي

مه ګڼه سیالګره د سیالۍ په دود
هر څه که تباه شي په بلا پسي

هر څه ته اړتیا شته د ژوند سیمه کې
نه یوازې زېرمې د عقبا پسي

نه یوازې زه د ژوند اړتیا غواړم
ته لا ځغلې هم د ژوند اړتیا پسي

زه درته دعا د خیر کوم تل
ته راته پرانیزې خوله ښېرا پسي

زه وایمه ورانې را ودانې کړه
ته مې ورانوې ودانې لا پسي

ما ګڼل چې تا سره به وپایم
تا کړمه له دې هیلې جلا پسي

زه وایمه غلی اوسه کاروکړه
ته کوې غوغا لا په غوغا پسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وایم لومړی خو ځان غښتلی کړه
ته کوې کنځا په غښتلیتا پسې

خوا کې ګاونډیان شول اتومي طاقت
ته نه لرې هېڅکله پروا پسې

غواړي رقیبان چې ځان پیاوړی کړي
ته لګیا د ږیرې په سودا پسې

هاغه د فساد لښکرو ولوټل
هر څه شتمنۍ مو د بابا پسې

هاغه غټ شریر جګړه مار اخلي لا
زمونږ د ستر دښمن نه وسلې لا پسې

هاغه د فساد او شر لښکر د بل
نه غواړي افغان ته ژوند هوسا پسې

وایه خپل راتلونکي ژوند ته څه لرې؟
ده چې توره شپه ستا د سبا پسې

ته وایې په فقر قناعت وکړه
کښېنه نور د لوی څښتن رضا پسې

فقر که د ژوند څه شتمني وي خو
ټول عالم ملنګ به وای په دا پسې

نه شته پر نړېستمن څه فرایض د ژوند
نه ورځي ګدا، هېڅ په ګدا پسې

ښه ده شتمني لا هم شتمن دي ښه
ځي ملنګ فقیر په اغنیا پسې

وایه! تا کړي دي بچو ته څه؟
وایې بد او رد چې په دادا پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای چړي ! په خدای که به ملا شې ته
مه ځه نور په دې نیمګړي ملا پسې

هلته د مکې او مدینې تر منځ
شیخ ځي د خپل بت په تماشا پسې

دلته د اسلام په نوم بمونه خو
ړدي په ماتولو د بودا پسې

هلته د عبرت د ځای په نوم شي بت
دلته شي د کفر سل غوغا پسې

ثه شوه که له پوهې برخمن نه یو
یا مو نه شته سترګې ښې بینا پسې

ګوري به عالم په ښو رڼو سترګو
ستاسو د یو بام او دوه هوا پسې

ثو پورې به شیخ زمونږ په غرونو کې؟
ګرځي به په ښکار لا د عنقا پسې

ثو به زمونږ روا ته نا روا وایې؟
ثو به ناروا کړي خپل روا پسې؟

ثو به خپلو بدو ته ښه وو وایې؟
ثو به شیندې هره خوا بها پسې؟

بس دی دغه ټولې اعرابې کړنې
ځي دی نور له سیمې نه په شا پسې

هر چا لا له پخوا نه پېژندلی دی
دا ډاکو راغلی دی په غلا پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د انساني نړۍ دښمنه ژر
پورته به په دار شې په سزا پسې

بس دی چې وطن مو ټول ویجاړ شولو
ځه خپلې کیږدۍ خپلې بیدیا پسې

پرېږده مو آرام ته چې سا وباسو
نور له دې تاړاکه په ویسا پسې

ډېر ولاړ ارمان د سولې روغې ته
پرېښودل کورونه په سارا پسې

دوې لسیزې تېرې په جګړو کې شوې
درېیمه یې هم کاندي لا غړمبا پسې

وبایللو سر په دغو لیارو کې
چا چې ځان سپارلو په رېښتیا پسې

وایي چې د سولې لښکر درغی
دغه لښکر لا شي د جنګ بیا پسې

نه شته د دروغو او دوکو پایښت
هر څه رسوا کېږي په رسوا پسې

ښه ده چې په ډک زړونو له مینې شو
تل روان د ژوند ژواک په ښکلا پسې

ښه ده چې مو ژوند پیل شي خوږو باندې
دا د انساني ښکلې دنیا پسې

ښه ده چې وي سوله روغه جوړه تل
ښه ده چې وي دوه ورونه پخلا پسې

څو به په ترخو د ژوند اخته یو لا؟
څو به مو ژړا وي په ژړا پسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو به وي رټل، وهل، وژل هسې؟
څو به وي آزار، بېګار، کنځا پسې؟

بس دی نور د زړونو آزار مه اخله
وتړه ښه مُلا دې په دعا پسې

بس دي شړول، ويجاړول بس دی
بس دي نور وهل وژل د ستا پسې

كينه خپل "څاپي" ته د وروری په دود
واخله ترې سبق د مينې لا پسې

بن، جرمني
20/4/2001

څلوريزه:

اسوېلي

اسوېلي مې شولي ورېځې په هوا کې
پر بلې به د غليم د کور د پاسه
د رېليو او ګوليو وريا وکړي
ښه عبرت به شي د هر يوه بې پاسه

بن، جرمني
25/7/2004

(c) ketabton.com: The Digital Library

برهان الدین رباني

ډېر خو يې زيرک هوښيار، زه به درته څه وايم؟
لا چې يې محيل مکار، زه به درته څه وايم؟

هر څه دې لوستلي دي، لا دې ښه زده کړي دي
فقه او فلسفه کې بار، زه به درته څه وايم؟

ما ګڼل عالم يې ته، شرعه کې قايم يې ته
لاړې د شيطان په ليار، زه به درته څه وايم؟

جوړ دې پاټکونه کړل، نېغ دې ټوپکونه کړل
شوې چې د تاريخ لوټمار، زه به درته څه وايم؟

هاغه د شمال توپان، دغه بيا د تا بيان
شوې چې په دې رنګ غدار، زه به درته څه وايم؟

څه شوې هاغه لافې دي؟ لا هاغه ګزافې دي؟
هېر دې شول مور او پلار، زه به درته څه وايم؟

بيا د سقاوي تکرار، ګټه وه د ښمن له وره
ورک شو په کې ستا اتبار، زه به درته څه وايم؟

غټ پروفيسر وايې، ځانته هر ميدان کې هم
نه کوې په حق اقرار، زه به درته څه وايم؟

هره کړنه هر کله، هاغسې بدل غوا ړي
هر يو زغ لري ژغار، زه به درته څه وايم؟

هم يې په سياست کې پوه، هم په فراست کې پوه
اخلې د انسان آزار، زه به درته څه وايم؟

څوک چې نه شي کوم يو کار، هغه نه کړي هاغه کار
ته لګيا په داسې چار، زه به درته څه وايم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ګنل کاروان سره، د واړه تر منزل به ځو
واوښتې په منځ د ليار، زه به درته څه وايم؟

عقل نه دې وخوړل، پوهې نه دې وڅښل
لا چې يې په خرونو شمار، زه به درته څه وايم؟

نه پټېږي پټماپټ، ټولې پټ پټانې ستا
هر څه دې هر ځای او ځار، زه به درته څه وايم؟

اور دې چې بل کړی دی، سوځې به هم ته په کې
وايي د لمبو غرار، زه به درته څه وايم؟

هېر دې هاغه ورځې شوې، تا به چې جهاد ګاڼه
هېر دې شو هغه کردار، زه به درته څه وايم؟

هېر دې تقريرونه شول، هېر دې تاويلونه شول
تا به چې کول هزار، زه به درته څه وايم؟

هېر دې زمونږ ويني شوې، هېر دې زمونږ ميني شوې
هېر دې د شهيد مزار، زه به درته څه وايم؟

هاغه شهيدان دې هېر، دغه يتيمان دې هېر
نه لرې له کونډو عار، زه به درته څه وايم؟

نن چې د دوستۍ په نوم کومه دښمني کوې
دی د دوه مخۍ اظهار، زه به درته څه وايم؟

تن کې دې غيرت نه شته، ځانته قهرمان وايې
شو ولس له تا فرار، زه به درته څه وايم؟

وګوره خپل ځان لره، نه شته کومه پته ستا
نه دې په هېڅ ځای قرار، زه به درته څه وايم؟

خوله خو يې درخيرې کړه، ستوني کې مړې غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتې لا په خېر د مار، زه به درته څه وایم؟

دغو خیانتونو دې، لنډ هریو واټن کړلو
ستا او د څوکۍ او دار، زه به درته څه وایم؟

حق دې ډېرکي غواړې، نه ګورې خپل شمېر لره
ته یو لږکی یې خوار، زه به درته څه وایم؟

هاغه هم ناحقه دی، بیا چې واکمني غواړي
ځان ګڼي دُر، دُرار، زه به درته څه وایم؟

پرېوتې مردارو کې، ژوند دې په مردارو شو
کړې لکه خنځیر خرار، زه به درته څه وایم؟

ورکه تاجیکواله شه، ستا او ستا له خټې نه
دا و د "څاپي" آزار، زه به درته څه وایم؟

بن، جرمني
21/6/2001

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای زمانې!

راغی او لاړ کوم یو وار چې مې و
کوم د ځوانۍ ښکلی بهار چې مې و

خزان په خپلو څپو وځپلو
هاغه ګلبڼ ښه سمنسار چې مې و

دښمن د اور په لمبو وسېځلو
کوم یو د سر سیوری چنار چې مې و

ملا یې راماته کړه خو تیټ نه شو سر
پر دواړو ولیو د جنګ بار چې مې و

د بېلتانه دیوانو وشلولو
د ملغلرو کوم یو هار چې مې و

لا یې د غاړې غړوندی کړ راته
یو څه او مه د ګوتو تار چې مې و

د خپلو له دوړو مې هم روند شو غلیم
هاغه هجرت نه په تلوار چې مې و

بېلتونه هر کله ښېرا درته کړي
هاغه زړګی در نه آزار چې مې و

وایه! چې تا به ترېنه څه انګېرل
ملي اتل او جګړه مار چې مې و

د زمانې ملالي وزبېږېدي
هاغه غلیم باندې ناتار چې مې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې له تراخو خولې ته مې رانغله څه
هاغه خواږه د خپل دیار چې مې وو

بیا به مې څوک پر خټکیو کړي یاد؟
کوم د کندزاو د مزار چې مې وو

څوک به مې یاد کړي پر انګورو باندې؟
هاغه د پلار نیکه خمار چې مې و

لا به مې کله په نصیب کې شي هم
هاغه خواږه انار چې مې وو

څوک به لا وو وايي سندرې په کې
هاغه سر مسته کندهار چې مې و

لا به هم ښکلی کړي ادب د پښتو
ګل د نارنج د ننګرهار چې مې و

بیا به ودان شي له بنسټه که نه؟
هاغه بغلان ټول شکرزار چې مې و

غلیم له بېخه راته ونړاوه
کوم یو دېوال د ختو کار چې مې و

لغمانه وساته ښه برم د کاوون
هاغه د ژوند د اوبو سار چې مې و

هاغه سپین غر، هاغه شمشاد ولمانځه
ځلې د ویاړ او افتخار چې مې وو

هاغه پامیر او هندوکش ته سلام
هاغه بخدي هغه تخار چې مې و

هاغه چونغر د ګربتانو ځاله
هاغه لښکليو نه فرخار چې مې و

ای زمانې ! پل به مې پاتې شي لا؟
له دې پاته چار او ناچار چې مې و

نګسي سترګو پښورو لا زده کړل
د کابلۍ زرکو رفتار چې مې و

هاغه منګي او منګوټې چې څه شول؟
هغو کې ډوب د زړه اسرار چې مې و

په ژوندانه را باندې تشې کړه تول
کوم کندولي پاتې انبار چې مې وو

وروسته تر مړینې مې قاضي به وي هم
د دې مهال یار او اغیار چې مې و

وای به لا هم په ژړا ژړا کې
دښتې او غرونه لاله زار چې مې و

لاړ په ارمان کې د مرګي کومې ته
هاغه "څاپی" دلته کوم یار چې مې و

خدایه ! جنت کې ورته ځای ورکړې ته
هاغه آشنا د تا په لیار چې مې و

بن، جرمني
29/7/2001

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلوريزه:

دوړه

د جنون د سارا دوړه، د مجنون د مخ بنيبنه ده
د ښکلا د مينانو، د فطرت د دود ريبنه ده
ثه د واک خبره نه شته، ثه د ځواک پوښتنه نه شته
د ثرخي که کومه پره ده، د ځغاستونکي کلا پخبنه ده

بن، جرمني
2/9/2002

ترانه

جرګې د قامولۍ چې په هر ښار کې جوړوم
تقدير مې د تدبير وياړلي چار کې جوړوم

پرون چې د يو والي غږ راته له بري خوا نه
تصديق د هاغه غږ مې په دې وار کې جوړوم

څو تول پښتون راټول په يو مرکز د قامولۍ شي
جرګې مې د نمرود د اور انګار کې جوړوم

د مينې ملغلرې د قامي وحدت په ګوتو
ليلا ته مې د غاړې ښکلي هار کې جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاريخ دي رانښودلي په سنګر د اتلولۍ
دفتر د نام او ننګ مې په دې ليار کې جوړوم

راتلولې هرې خوا نه چې رېښې د ګرېوانه کړم
تنۍ مې په شلېدلي ګرېوان تار کې جوړم

پرون که پېښور و جرګه ځاى مو د يووالي
ګانده به مې جرګه په کندهار کې جوړوم

چې ووسم سر لوړى ښه د سيمې پر سيالانو
شمله د پښتونوالي په دستار کې جوړوم

سوګند مې د "څاپي "شه پر شهيدو ترمو اوښکو
ګودر د مستقبل مې په تګلار کې جوړم

بن، جرمني
20/8/2001

✵ ✵ ✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساندې

بیا راوواته نمرود د زمانې
ورسره دي ډېرې سترې خزانې

د اتوم په وسلو هر چا نه غښتلی
د جګړو لرې هم ډېرې سامانې

ملا ترلی عزرائیل د زمانې دی
غواړي بوري کاندي مېندي پښتنې

د بشر د حق په نوم چې هر څه وکړي
غروي هر کله هر ننګ ترانې

چې وژل ویجاړول وکړي هر چېرې
لټوي هر چا ته هر ننګه بانې

په ظاهره د پومبې غوندي پوست ښکاري
په باطن دی کلک په خبر د پوندانې

د افغان په ملک یې ودانګل خو پام کړه
هلته ډېر دي ازمایلي زمانې

څه د دروغو د دوکو خبره نه ده
او رېدلي لا هر چا یې افسانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مو مات شي ملي هوډ پر بمباريو
بيا رواني دي هغه رنګه کاني

هېڅوک نه شته چې د حق خبره وکړي
د نړۍ په خوله کې وختي داني

ګوره څنګه پر پښتون باندې يې بار کړل
د عربو د جرمنو پيماني

يوه ورځ به له باطله حق جدا شي
ما ليدلي دي تر منځه يې پاني

هره لوېشت کې مو د سيمې له ظالمه
پاتي شوي د ظلمونو کهاني

نن ډالرو راته ړوند دوست او اشنا کړ
چا ته وښيم د ظلمونو نښاني؟

کښه شوي ده نړۍ پر دواړو غوږو
چا ته يوسم د ژړا و بيانې؟

څو هېواد لره مو سوله روغه راشي
ورکوو به د سرونو نذراني

د "څاپي" له خولې چې کومې "ساندې" اورې
د يتيمو سترګو اوښکو دي داني

بن، جرمني
7/11/2001

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوریزې

ځله؟

دغه هسک چې بیا غړمبېږي وایه ځله؟
دا سیلۍ چې بیا لګېږي وایه ځله؟

دلته هېڅ ګل غوټۍ لېدلې نه ده
ګل له بېخه چې وچېږي وایه ځله؟

ځله؟

غرونه غرونه دي غمونه پر ما راغلل
دومره غم او زه ناتوان وواېه ځله؟

ما خو هېڅکله ګناه نه ده کړې
تا چې کړم دومره حیران وواېه ځله؟

بن، جرمني
20/11/2001

ځله؟

بیا غړمبېږي دا اسمان وواېه ځله؟
بیا شونېږي دا توپان وواېه ځله؟

په دې سیمه خو سپرلی راغلی نه و
دا راغلی بیا خزان وواېه ځله؟

دلته نه و څه شنیلي نه څه ګلونه
شیندي اور پر وچ میدان وواېه ځله؟

د بې وزلو پر کوډلو مودې وشوه

د بمونو دی باران ووایه ثله؟

کلی کوردی خالي شوی، افغان اوسي
آواره پر بیابان ووایه ثله؟

وستلونه د جرګو شوي کندي
لا واتونه شولو وران ووایه ثله؟

که جومات و که روغتون که مېلمستون و
پاتې نه شولو ودان ووایه ثله؟

غرونه غرونه پر افغان راغلل غمونه
دومره غم او دا ناتوان ووایه ثله؟

د عربو پر جرمونو سزا ویني
هر وګړی د افغان ووایه ثله؟

د چنګېز په یاسا، بیا هر څه تباه شول
که نبات و که حیوان ووایه ثله؟

دا نړۍ خو ډېره پراخه ده هر چاته
چا چې تنګه کړه پر ځان ووایه ثله؟

په ډېر قهر او غضب وحشیانه کې
ورانوي افغانستان ووایه ثله؟

دغې پېښې د نړۍ پر هره څنډه
غورځنګي کړ هر ارمان ووایه ثله؟

دا "څاپي" یوازې نه دی چې حیران دی
په حیرت دی ټول جهان ووایه ثله؟

بن، جرمني
30/11/2001

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دېسه لېونتوب

مینه لکه اور دي چې وي بَل په لوی ځنګل پسې
دا پتنګ زړګی مې لېونی شو د اور بل پسې

هلته اور بند نه شته، اور دی بَل لا هم په شتو د ژوند
هره ځانګه، سته ده د غوچ او د بدل پسې

هره خوا به ګرځي په شلېدلیو ګرېوانونو کې
نه دي لېونیان په غم د ژوند شډل بډل پسې

نه شته په نصیب د لېونیانو د خندا متاع
شمېري لېونیان لا د غم غوټې ول په ول پسې

مینه لېونۍ ده، لېونیانو سره مینه کړي
چېرته هوښیاران، چېرته له عقله شوټ او شل پسې

نه شي په دوکو او په چلونو خپلولی څوک
مینه بېګانه شي، که څوک چل وکړي په چل پسې

څه به له هوسا ژونده، خبرې لېوني ته کړې
هاغې لېونۍ خو، پرې یرغل کړی یرغل پسې

دا د لېوني د زړه د مینې له انګاره نن
هره خوا لمبې دي راختلې یو په بل پسې
مه وایه عاقله له هغې مبارزې نه څه
نه ورځي یاران نور د هغه رنګه تکل پسې

دا د لېونو د اتڼ څونې بیا د چا په ویاړ؟
هره خوا ته غورځي، که ځدراڼ دي که منګل پسې

ډېر د ژوند کلونه د طبیب په اسره تېر شول
رانغی ښاغلی، د رنځونو د درمل پسې

اور په اوروربي، څه پر دېسه لېونتوب دی دا؟
توري بوري څاري د "څاپي" د ژوند اجل پسې

بن، جرمني
15/4/2002

څلوريزې

پښتون

د پيرۍ او مريدۍ په تور مکتب کې
ښه يې زده کړله د پرديو غلامي
په تن لوڅ په خېټه وږی لا تر څو
وي به هر کس او ناکس ته سلامي

بن، جرمني
30/4/2002

د ژوندون خبره

څومره ده ستره ستا د سترګو د افسون خبره
لاړه رسوا شوه په دې چم کې د مجنون خبره

چا چې خوړلې ستا د سترګو د غمزو غشه ده
هغه به څه اوري محشر کې د پاخون خبره

کوږو د سترګو هسې وځپل وګړي چې هم
پر سر د دار ګڼي لا هم ښه همايون خبره

مينه زمينه ده هر انسان ته د کمال تر پوره
مينې کې شته لا د ژوندون د هر مضمون خبره

مينه تا ده کړي د هر چا د ژوند ساړه اړخونه
مينې کې شته د تورو شپو د سباوون خبره

د بېلتانه خبرې ډېرې مو تر ميانه وشوې
بس نورو کړه د دوه زړونو پيوستون خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ ناري مو يو پر بله سره ووهلې
راځه! چې وکړو له دې وروسته د ژوندون خبره

څو به په پېښو کې وي پټې د رښتياوو بڼې؟
څو په تيارو کې به د شپو وي د پښتون خبره؟
څو به تراخه د ژوندانه ستونه ترخه کړي زما؟
څو به له غېږې د ليلا وي د بېلتون خبره؟

څو له شمشاده له پاميره مې لا سر نه شي دنګ
مه وايه ما ته د سپين غر او د کاوون خبره

په تکفيرونو به شي مړه چېرې د پوهې ډيوه؟
چېرې به مړه شي په نړۍ د پوهنتون خبره؟

هاغو تور زړيو که وستل د جرګو ونړاوه
بل ځای کې لمانځم به د مينې د آزمون خبره

د بودايي ګروهې لا هم ډېر پاګودونه شته دي
په لمر خاته اورم بنکاک نه د رنګون خبره

هېره له ذهنه به د هېڅ يوه افغان نه، نه شي
هاغه تر منځ د اباسين او د جيحون خبره

څومره چې وژني دې سيمې له وګړو نه څوک
هومره هم لا پسې کېږه شي د سمون خبره

تا د "څاپي" پر زنګانه پرون ويلې وو څه؟
څنګه دې هېره د پرون شوه د زنګون خبره

بن، جرمني
3/7/2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوريزې

اوښکې

چې د سترګو پر بڼو مې څڅېدلې
هغه اوښکې مې بهېږي نن له پوزې

خدايه ! زه خو يې ساتنه کې ناکام شوم
ملغلرې تر کنجکو بېرته بوځې

بن، جرمني: 11/8/2002

افغانستان

کلي وران شوي، ولس نه شته، کنډوالي پاتې دي
ځمکه ده شاړه، بڼ دی وچ، ړنګې ويالي پاتې دي

له هسکه اوردی ورېدلی، هر څه سوي دي ټول
نښې د ژوند خو، بس ايرې خورې ورې پاتې دي

کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګور شو د ژوندیو کور

زړه مې د کابل په لور، سترګي پېښور ته
تن مې له هیلو سره، بیايي دغه لور ته

خيال شو تصور کې ډوب، نه چې څپه راغلله
غواړي لېونتوب مې ځان، وغورځوي اور ته

هاغه د جنون سارا، ډکه له غباره شوه
نه چې بیا دماغ د چا، وسپارلو شور ته

دوړې په هوا شولې، توره تیاره راغلله
برخه د بې وزلو ده، کلي ته او کور ته

کور، کلي، ښارونه مو، غرونه ځنګلونه مو
بیا په بې پروا توګه، وغورځېدل اور ته

ښځه له مېړه جدا، زوی جدا له پلاره هم
سپاري به سارا زامن، کله به بوري مور ته؟

بیا د زماني ظالم، ډېر په زور راغلی دی
ګور شو د ژوندیو کور، ژوند ننوت ګور ته

ډېرې بې حیاوې دي، دا د زماني سترګي
تور وایي و سپینو ته، سپین وایي و تور ته

دغو غلچکو غوغاو، وشلول خپلوی مزي
نه کا نور درناوی څوک لا چې ورور او خور ته

نه شته انساني مینه، وه چې زمونږ وینه کې
اوس دښمن د سرښکاري، ورونه لا خپل ورور ته

څه به په ښتانه وي دا، څه به یې مېړانه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کا چې کاته په ځير، خپل د تاريخ غور ته

پرېږدئ چې په خپله ځي، دا د زماني مجنون
پلی په خپل واک کېدی، نه سپاري ځان سپور ته

زه مې مينه لمانځمه، ته وايه چې څه وايې؟
نه يم د تهران په لور، نه چېرې لاهور ته

دا د "څاپي" غاړه خو، کلکه له پولاده ده
خوشې به ځان سترې کړې، نه کړېږي زور ته

بن، جرمني
29/8/2002

په ګوندۍ توګه

هر څه به د عيش مومي، وي چې په رندۍ توګه
مري به د توبو زاهد، خوشې په زندۍ توګه

ستا د تورو ربل په لور، زړه او سترګې لا چې هم
خيال د تصور سره، ځي په ګړندۍ توګه

دوړې را روانې دي، ښکاري د جنون سارا
ډکه برېبوکونه شوه، بيا په ښه توندۍ توګه

هره شېبه شمار سره، تګ د تن په لور لري
هسې مې د ساه په څېر، غم دی په ګوندۍ توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کاغذ به تور کړمه، وینه مې رګونو کې
اورد ترانو واخیست، راګدی په هندۍ توکه

رنګ یمه ګلپاڼو نه، ستا په شبنمي خاطر
وږم سره الوزم، لمر ته سربښندۍ توکه

ساتمه په خیال کې چې، لا په هر مهال کې مې
ستا د نامه هر ټکی، ښه په اړوندۍ توکه

شمعې ته پتنګ راځي، ګل لره بلبلې لا
ما لره ستا مینه هم، راغله غړوندۍ توکه

مه وایه له عقله څه، واک د لېونیانو دی
غاړه کې ځنځیر هسې، ساته په بندۍ توکه

نوم به د لندن اخلو، خیال به د مسکو ساتو
داسې مو د ژوند رموز، شو په بې خوندۍ توکه

غوارمه د مینې ژوند، ژوند په مینانو کې
اوسي مې په زړه کې لا، مینه په ژوندۍ توکه

څو به ستا په وړاندې هم، داسې په وحشت "څاپې"
اوښکې د ژړا څاخي، ښه په بولندۍ توکه

بن، جرمني
2/9/2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپوهي

درد او غم چې وي د ژوند د ونې سره
خوښي څه غواړي له داسې ونې بره؟

د زمري له خولې مرۍ لاس ته راوړل دي
پنځېدلی دغه ژوند دی جګړه وره

د ښکاري د دام د لومې بس ستایل دي
ګټه نه شته نور له تایمز له آبزروره

تن او خېټه ده موخه د سر ساتنې
نور څه مه پوښته له خپله مهاجره

که پوهېږې له کړکېښنه ددې سیمې
ساده مه بوله برى پرې بهادره !

دغه دود دی منل شوی په هر ځای کې
قربانېږي زر له یو او یو له زره

د ازرښت په نوم نوښت دی دنیا ومنو
پام د لاس تله دې نه شي مروره

په بمونو چې دې رنګ په رنګ بمبارد کړ
اوس څه غواړې له دې ملکه کنډ کپره؟

چې وربشې خورې وري به ښه درانه وړې
بې له دې نه راته نه یې په کار خره !

پوهه هر کله ده غوره خدایه ! ورک کړې
ناپوهي بده بله مو له تېره

څو به غشي د تورونو په ما اوري؟
څو به یم د غم لیندۍ ته برابره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو به لا پسې پردېس د بل هېواد يم؟
څو به هرې خوا ته ګورمه اوتره؟

څو به يمه بې پروا له ښو او بدو؟
څو به خورمه ګوزارونه سر په سره؟

ددې غم چاره به هله "څاپی" وشي
په پښتو سره چې شي ښه متېه وره !

چې توفيق د اتفاق وي څه غم نه شته
لاندې باندې، ښکته پورته، کوز او بره

بن، جرمني
3/10/2002

څلوريزې

چې وار زما شو

چا اړولي پر سر جامونه
چا ته دي ايښي ډک خمونه
چې وار زما شو، له بده مرغه
طالب رامات کړل، ټول بوتلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجرت

ډېره ده ګرانه، د هجرت د پرديسۍ شپه
لا هم ترخه ده، د بېلتون د بې وسۍ شپه
خدايه! رامه وړې، پر هېچا بانديې
د يار د مينې، د مايوسۍ شپه

بن، جرمني

څپېره

ښکليو کې ښکلا شوه په ځلا چې نن
غم هم په څپو شو هره خوا چې نن
وبه خوري څپېړه د چوپتيا پر مخ
ښکلې د ښکلا ده، په خندا چې نن

* * *

ګونځونه

ستا د وچولي پر ګونځونو اوتو کېږي
زما د پوهې د کميس هره تړانګه
څه به خيروي د هغه سري په کور کې
چې يې نه وي د ښېګڼو کومه وړانګه

بن، جرمني
17/1/2003

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا !

دا پاتې ژوند وایم آرام کې دې شه
تل د خوښۍ څښاک په جام کې دې شه

په تن روغتیا په ژوند نېکمرغه شې
بري لا هم په هر اقدام کې دې شه

د زغره والو مشینګنو نه ډک
د دښمن هر لښکر په دام کې دې شه

دنیا ومنئ د ښه اغېز مهال کې
د لوړو غرو غرڅان په رام کې دې ښه

د ناکامیو ناهیلیو شېبې
بدل په ښو هیلو د کام کې دې شه

د توري شپې چې کوم د پای تکی دی
د سباوون ستوري په بام کې دې شه

هغه چې ته ورته ژغورنه وایې
د هر ژوندي واک په انعام کې دې شه
د نړیوالو د کاروان سره سم
دا زمونږ کور کلی په پام کې دې شه

سوله او روغه، رغونه مو بیا
د لاس په کار، د خولې کلام کې دې شه

که د سیالانو سره سیال شولې ته
ښه شابسې په ننګ او نام کې دې شه

چې په سلام شالوم درنښت دې ومونده
غواړم درناوی هم رام کې دې شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د پښتون ولس یو والی غواړي
ښه برکت په هر پیغام کې دې شه

سړی هغه دی چې یې خلک ومني
منښت د خلکو په دوام کې دې شه

د جګړه مارو ظالمانو پر ځای
عدل او انصاف قایم په قام کې دې شه

د مبارز "خاپي" دعا ده ربه
ښه اغېزه په هر کلام کې دې شه

بن، جرمني
1/11/2002

نه لمانځمه

لاړلې زړه نه زما، نور به دې نه لمانځمه
هېره کړه مینه مې تا، نور به دې نه لمانځمه

لاړلې او هېره دې شوه، مینه سپېڅلې زما
وه چې د ښکلا و ښکلا، نور به دې نه لمانځمه

خیال کې دې چې نه راځمه، خیال ته به مې نه راځې
دا مې ده د ژوند مدعا، نور به دې نه لمانځمه

زړه دې راته ژوبل کړلو، اوسومه په اور د کرکې
مه راځه مې مخې ته بیا، نور به دې نه لمانځمه

تا خو په ځو ځلې له ما، خپل مخ اړولی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوښتې دا ځل له ما، نور به دې نه لمانځمه

ما ګڼل څو شپې به سره، خوا په خوا کې وو سو
لاړې لکه ګرد په هوا، نور به دې نه لمانځمه

څومره چې مې وستايلې، څومره چې مې ولمانځلې
هومره دې کړم سپک د هر چا، نور به دې نه لمانځمه

يو عمر دوستي وه سره، يو عمر د ژوند خبرې
کړله دې ټولو ته شا، نور به دې نه لمانځمه

ستا د رنښت هسک له لوري، مخه د اندونو مې هم
واوښته دا ځل بله خوا، نور به دې نه لمانځمه

اوس که په زرګونو ځلې، کوډې په کوډګرو باندې
وکوې هر رنګ پر ما، نور به دې نه لمانځمه

شې که د هيلو انګازه، يا که د ژغورنې اسره
لا که شې په څپر د بودا، نور به دې نه لمانځمه

هوډ د پښتونوالې نه مې، جوړ شو د تنګونو سنګر
نه ماتېږي هېڅ کله دا، نور به دې نه لمانځمه

مينه د رښتينو سره، کار د رښتينوالو دی
تاوکړه دوکه په رښتيا، نور به دې نه لمانځمه

چول د برېوکيو ته دې، پرېښودلم زه "څاپی"
زه او دغه وچه بيديا، نور به دې نه لمانځمه

بن، جرمني
9/10/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمانې ازمېښت

سترګو مې که هر کله له هره چا ژړلي دي
خولې کې مې که هر کله هم کلک سوکان خوړلي دي

ما د زماني هر رنګ سیلیو مخ ډب کړی دی
ما ته غلیمانو هم منګولې تل مروړلې دي

زه یم چې هر کله د ظالم پر ضد ولاړ یمه
زه یم چې هر کله توپانونه ودرېدلي دي

ما د خپلې سیمې سمندر په توپانونو کې
ډېرې بېړۍ هم لکه د نوح په څپو ژغورلې دي

ما له تیندکونو غورځنګونو ښه زده کړي دي
زه یم چې له هره چا مې لوبې تل ګټلې دي

ما د وچو غرونو وچ ډاګونو ژوند منلی دی
زه یم چې بچیان مې سربښندنو ته روزلي دي

چا راته د دین چا د مذهب خبرې وکړلې
چا راته له پلاره له نیکونو هم ویلي دي

څوک راته اریان څوک د یهودو اولاد وایي
ډېرو په هر ځای کې له پښتو نه مې ستایلي دي

ډېرې مې د مینې ترانې د بزم سندرې لا
هر کله هر ځای کې او هر چا هم اورېدلي دي

کله هم د ژوند په تورو شپو او بدو ورځو کې
ډېر د غم دیوان مې زولنو کې هم تړلي دي

ما باندې لا هر کله هر چا هم بهانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر ستر توغندي د مرگاني ډېر ورولي دي

زه يم لا ژوندى د تاريخ هر يو پړاوونو كې
ما ته د ښمنانو په درناوي هم كتلي دي

ډېر د برۍ ليارې لا د ژوند په كړېچونو كې
ما ته د پښتو پښتونولۍ قانون ښودلى دى

ما په دغې ليارې كې تر اوسه د برۍ سره
ډېر ښه ازمېښتونه د تاريخ پر مخ ليكلي دي

كله مې خندلي په شېبو د ژوند خوښيو كې
كله مې د غم په هر گړۍ كې هم ژړلي دي

مه وايه جانانه ! چې گرېوان دې ولې څيرې دى؟
ما خو گرېوانونه ستا په مينه كې څيرلي دي

مه وايه چې ولې پښې يبلې او سپېره گرځې؟
دا مې ستا په مينه كې له ځېرمې هم منلي دي

مه وايه چې څنگه هم نالوستى پاتې شوى يې؟
دې ستم هر كله ولسونه ډېر ځپلي دي

مه وايه په تېښته پر تا ټوله نړۍ ډكه شوه؟
دغسې حالاتو ولسونه تل پاشلي دي

مه وايه غليم خو پر تا لوبې رنگ په رنگ وكړې؟
داسې پېښې ډېرې پر ما هر كله راغلې دي

زه د زماني په ازمېښتونو كې لا پروت يمه
ما ته د "څاپي" ترانو هر څه هم سپارلي دي

بن، جرمني
20/10/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

افقي او عمودي څلوريزه:

ژړا

د ژوند	په غم	یم سرګردان
په درد	اخته یم	سر په بیابان
په چیغو	ژاړم	خوار او حیران
ژاړم	اوتریم	څیرې ګرېوان

بن، جرمني
20/10/2003

د لمر ځرک

سپوږمـــۍ خــــانــــدي ســــتوري نــاڅـــي
د تــورتـــم شـــېـــبـــو پـــــر غــــــاړو
چـــې د شــــپـــو جــــــنــازي درومـــــــي
د لـــمــر ځــــرک ســـــر پـــــــــــــه ولاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه رنګونــو د لمــر وړانګــو	د نـــرۍ شـــونډې انګېـــرې
هــره ورځ هــره شــېبه ژونــد	پــــه رنګونـــو کـــې نخښـــړي

❋ ❋ ❋

د پنځ ښې ښکلې مسکا تـه	فلـسفې پــه سـوچ کـې تللـې
د رازونــــو پـــــه خېړلــــو	دماغونــــه ســـتړي شــــوي

❋ ❋ ❋

بیا به وړانګې راخوري شي	د ښــکلا لــه پراخــه هــسکه
بیا به ګل په خندا شنه کړي	د ســـحر د ګرېـــوان وښـــکه

❋ ❋ ❋

بیا به ژوند پر سیمه راشي	شــــنیلې بـــــه وتـــــوکېږي
وږمه ییز به چاپېریال شي	ګـــل غـــوټۍ بـــه وخنـــد یږي

❋ ❋ ❋

د لمر ورځو په کاروان کې	بدرګــــه بـــه زېـــرۍ راشـــي
نېکمرغـۍ د ژوند اسرې ته	وریـن تندی به د هر چا شي

❋ ❋ ❋

بیـــا بـــه ســـوله روغـــه راشـــي	زمـــونږ پـــر ســـیمه پـــر هېـــواد
بیا به ورونو غوندې یو ځای	پـــــر تـــــاتوبي شـــــو آبـــــاد

❋ ❋ ❋

ددې زېـــرې د راوړونکــــي	ســــتا مینــــه بـــه کـــوو تـــل
درودونــه بــه پــرې وایــو	لمانځنــــه بـــه کـــوو تـــل

❋ ❋ ❋

بن جرمني
1/11/2003

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه چې پخلا شو

ځو به د سیلۍ کړي زما د ژوند متاع پر باد
خاوره به مې شندي هرې خوا ته له بنیاد باد

زه لوګی لوګی ستا په مجمر د سپېلني په څېر
ته لګیا پوکۍ کوې د ظلم او د بېداد باد

زه د خپلې سیمې د تاریخ د سر د تاج ویاړ
زه به دعاګانو د هر چا کې یم هم یاد باد

تا که د ځځلې غوندې سپک کړمه عجب نه دی
الوځوي ځمکې نه هوا ته هم پولاد باد

ما له مرورو شونډو ستا نه پېرزو کړې وه
ګوندې د ګلونو په وږمو به مې کړي ښاد باد

کله نه چې لګي ستا له مهره له غضبه هم
چېرته وداني چا ته پرېښوده آباد باد

نه وای که وږمې د نارنج ګل او د نرګس په کې
وو به سوځوونکي همېشه جلال آباد باد

ما په ژوندانه کې ټول امرونه ستا منلي دي
مه وایه چې نه راځي له تا د اعتماد باد

ما مې خپلې وینې د رودونو سېلابونه کړل
تا ته په وړیا کې شو ترلاس پښتون آباد باد

ګورو به چې څه کوي لولۍ د زماني دلته
وا چاوه په غاړه ورته هار د انقیاد باد

مه ګڼه خیر خوا د زماني دنیا ومنئ په دود
څوک چې په دماغ کې خپل لري د استبداد باد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي کړه د بلوسې د سیلۍ څپې دې بندې کړه
پرېږده چې یوازې پر ما ولګي آزاد باد

وخاته پر لوړو د لوی خدای د ارادو سره
خپور به هرې خوا ته شي د مینې د زوزاد باد

راشه چې پخلا شو ددې ژوند شېبې را لنډې دي
نه کړي کومه ګټه پس له مرګه د فریاد باد

ښه ده پخلاینه د دوه زړونو مرورو تل
داسې په فطرت کې د "څاپي" ده د نژاد باد

بن، جرمني
11/11/2003

د سیاست لوبغاړي

سر مې مات شو ستا په کاڼو، خون یې تویولاړ
ورسره مې افغاني ښایسته خوی لاړ

بیا له هرې کورنۍ نه، ستا له بدو
لوخ لغړه که ماشوم و، او که لوی لاړ

پچه وخته په نوم، د بې وزلانو
مور او پلار په ژړا پاتې، ورنه زوی لاړ

مینې زړه کې د خدای مینه لټوله
خیال له وېرې نه، بهر په جستجوی لاړ

په حیرت د زماني له بدو چارو
په ناثاپه مې له سره هر یو موی لاړ

ددې چارې به چاره له چا نه غواړم؟
هر یو غړی مې د کور چې په هر سوی لاړ

لا د ننه کور ته نه وننوتی
د عمرونو مسافر مې بیا له کوی لاړ

چا چې چور او چپاول او وژلې وکړې
د ولس واک بیا په لاس کې د هغوی لاړ
د زرګونو انسانانو مې قاتل هم
وایه بیا هغه کابل ته په کوم روی لاړ؟

د وحشت د خاوندانو چې وار راغی
شرافت د ټوپکیانو په ولجوی لاړ

د ملګرو ملتونو خو تش نوم دی
په ریښتیا کې هر استازی هم د دوی لاړ

که د کیڼ و که د ښي و، چې خوږمن و
له هېواده مو په شور او په های هوی لاړ

ستا د عطرو له دکانه، زما په چم کې
په بدل د ګل د وږم ګنده بوی لاړ

په ناحقه به وي غورځي د طنین
له انګرېزه که دې خوا ته کوم یو ګوی لاړ

عاقبت به ارتاوېږي و ګړنګ ته
ثوک چې دلته د دښمن په تګ او پوی لاړ

"ثاپیه" ستاسو د سیاست دغه لوبغاړي
د ماشوم غوندې هر یو په پټاټوی لاړ

بن، جرمني
17/12/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ژوند هر ګوره يوه ساه ده　　دغه ساه د ژوند نخا ده
څو نخېږي هومره پايي　　په دې شان د ژوند بقا ده
نور څه نه مومې په تن کې　　يا ژړا ده يا خندا ده
په دې دواړو کې به اوسې　　که تياره ده که رڼا ده
که خوښي ده او که غم دی　　څه تقدير دی که قضا ده
نور څه نشته په دا منځ کې　　يا ثواب دی يا ګناه ده
خپلو کړنو نه به وينې　　که جزا ده که سزا ده
له رنګونو نه ده جوړه　　که دا ځمکه که فضا ده
بس د پل د پاسه پل دی　　که دا خاوره که هوا ده
پاتې کېږي به و بل ته　　که زما ده که د تا ده
څه چې وايي هغه اوري　　که دروغ دي که رښتيا ده
دغه ژوند کله هېنداره　　مخامخ او شا په شا ده
په هېنداري کې مخ ګوري　　چې چټله که صفا ده
په دې دوو کې واکمن يې　　که روا که ناروا ده
د ژوند پای سره به مخ شې　　که دا نن دی که سبا ده
له "څاپي" نه که يې اورې　　بس يوه د خولې دعا ده
ښه کوه چې ښه ښکاره شې　　په ښېګڼه کې ښکلا ده
يارانه کې تل پېښيږي　　که وفا ده که جفا ده

نور دې خوښه چې څه غواړې
د ژوند مخه درته وا ده

بن، جرمني 25/12/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوريزه:

ازمېښت

يو ښه ازمېښت و د مهال خو په لاسونو د بل
د ېري ځېري شولې رسوا چې وې په دروغو پټې

هاغه د مينې د خدمت د صداقت مدعيان
په حقيقت کې د خيانت او دښمنۍ وې ستې

بن، جرمني 25/5/2004

خيال او اميد

چې نه رسي انسان ورته، هغه دي دا دوه ځيزه
د خيال د ورشو ځنډې او سراب د اميدونو

دا ژوند خو د هر ژوي دی هر ځای هره شيبه کې
روان په دغو لارو او په دا سې بهيرونو

بن، جرمني 2/6/2004

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانه

دا مو ده ځمکه، دا مو اسمان دی
دا مو نړی ده، دا مو جهان دی
دا پر مونږ گران، افغانستان دی

دلته اوسېږو، دلته وسېږو
دلته پر مینه، ښه هوسېږو
دلته مو غم دی، دلته ښادي ده
دلته هر کارته، ډېر ښه هڅېږو
دلته به مرو هم، دا مو ارمان دی
دا مو نړی ده، دا مو جهان دی

دلته مو وروه، دلته مو پلارو
دلته آباد وو، دلته مو کارو
دلته نیکونه، دلته نیاگاني
دلته مو هر څه، ښه اعتبارو
دلته به اوسو، دا مو مکان دی
دا مو نړی ده، دا مو جهان دی

دا مو اوبه دي، دا مو هوا ده
دلته مو کوردی، دا مو فضا ده
دا مو ده خاوره، دا مو بادونه
دا مو ده سیمه، دا مو ښکلا ده
دا ټول تبر مو، دلته ودان دی
دا مو نړی ده، دا مو جهان دی

دا مو کیږدی ده، دا مو اورونه
دا ورشوگاني، دا ځنگلونه
دا مو څړځای دی، د اوړي ژمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مو دي دښتې، دا مو دي غرونه
دا مو دي واورې، دا مو باران دی
دا مو نړۍ ده، دا مو جهان دی

دا مو دی لمر، دا مو سپوږمۍ ده
دا مو دي ستوري، دا مو بلۍ ده
دا مو انګړ دی، له پروړو ډکه
دا مو ده مېنه، دا مو ګلۍ ده
دلته مېشته یو، دا مو ایمان دی
دا مو نړۍ ده، دا مو جهان دی

دا هدیره ده، دا مو وستل دی
دا مو حجره ده، دا مو هوټل دی
دا مو مشران دي، دا مو کشران دي
دلته هر کار مو، په مینه مل دی
د ژوندانه مو، تاریخ روښان دی
دا مو نړۍ ده، دا مو جهان دی

دا مو نغری دی، له اوره ډکه
دا مو دی څلی، ښه اسمان څکه
دا مو جومات دی، د کلي منځ کې
دا مو لمونځونه، له عیبه سپکه

دا مبارز "خاپې" ورته روان دی
دا مو نړۍ ده، دا مو جهان دی
دا پر مونږ ګران، افغانستان دی

بن، جرمني: **10/7/2004**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغزن خوبونه

بېګاه مې شپه وه پر اغزنو، لېونو خوبونو
یم تر سهاره کړولی، د غربت غمونو

چې به مې خوب راغی د سترګو د بڼو څوکو ته
لکه ګربت به په هوا کړم، د غرور موجونو

د خیال څپو کې به تر لوړو نا پیدا سیمو ته
ور الوتمه پر رنګینو، زرزري وزرونو

کله به هم لکه ګولۍ شومه ښوه را لاندې
که مې کتل وم په لګیا، پر چوند خې ټوپونو

د اندېښنو سره یو ځای به د خیالونو څپو
هم به په دښتو کې کړم پلی، هم پر لوړو غرونو

شېبه ادم، شېبه ملک، شېبه ابلیس به شومه
د ناستې ځای به مې لمبه کړ، په دا درې خوبونو

کله ګیدړ، کله لېوه، کله زمری به ومه
کله د سپي غوندې هر څوک به مې داړل داړونو

کله باچا، کله ګدا، کله مریی به شومه
کله اسیر، کلک په ځنځیر، رنګ په هر رنګ تورونو

کله حاکم، کله محکوم، کله د دواړو ترمنځ
هسې هر چا به یادولم په هر رنګ نومونو

کله قاتل، کله مقتول، کله وارث د دواړو
کله قاضي به وم عادل، سر په فتوی حکمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله به هم د خپل وطن په هوا والوتمه
وم به هوا کې په هر رنګه غورځنګي چورتونو

چې به پر سرد خپلو ورانو کلیو ورسېدم
شوم به په یاد کې د هجرت د پښور کمپونو

کله به مو ړوم د جهاد پر بسپنیزو پیسو
کله به وږی وم اخته، په درد او غم رنځونو

کله به خوښ وم له مشرانو د جهاده خو بیا
زړه به مې تور شو د سیاست له تور مخیز کارونو

کله به وم لکه د بوش او د شارون جګړه مار
غره پر شوبلو، توغندیو، اتومي بمونو

ټولې نړۍ ته به مې ورکړل چېلنجونه هر رنګ
د ژوبلې، وژلې، د ورانۍ، د رنګ په رنګ کامونو

کله به ځان مې اسامه غونډې نامتو لیدلو
په پټه پټو، یرغلیزو، توپاني سوچونو

کله به وم زه د مسکو د کرملن ماڼۍ کې
که مې کتل وم به په خپلو کنډوالو کورونو

کله به هم د واشنګټن سپینه ماڼۍ کې ومه
ګرده نړۍ به مې د باو لاندې نیول امرونو

په سپینه خوله په چینګو داړو د ګیدړو غونډې
وم به په منډه هره خوا ته په هر رنګ چلونو

لکه ابلیس به وم غره پر دښمنۍ د انسان
په نړۍ وال جاسوسۍ او انګرېزي چمونو

په دغو هسې رنګا رنګه مړ خوبجن خوبونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له درد او غم، له رنځه ډکو اندېښنو خیالونو

شپه مې سبا شوله د لمر په تمه پاڅېدمه
لمر را ونه خاته هر ګوره په دې زمونږ بامونو

ورځ په تیارو کې شوله تېره، بیا د شپې له لوري
دا دی روان یمه په سترېو د وحشت ګامونو

ده وېروونکې زما د خوب د ویښتیاوو نړۍ
چاته وښایمه مخ پټ د وېرې ډک رازونو

هغه هوښیار دی چې د خپل د ورور په روینو باندې
توره تېره کړي هر څه خپل کړي، د پیسو مالونو

د منصبونو د رتبو په هوس ورور وژني
بمونه واچوي هر رنګ په هر کلي، ښارونو

دا مبارز "څاپی" له چا څنې پوښتنه وکړي
چې په هېواد کې لمبې خېژي د جګړو اورونو

22/6/2004 بن، جرمني:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کباړ

چې مو نیت شو د یو بل په لوري شاړ
هره خوا شوه د کر ځمکه لکه کاړ

ننګيالي مو د وطن سر په کفن شول
زماني کړو د بې ننګو خلکو پاړ

مساپر مو د عمرونو انتظار
په کوم لیاره چې راغلي وو هم لاړ

د وفا غونډه مې هیڅ نه ده لیدلې
د وعدو د غونډو جوړ د بیړو باړ

په وعده کې به وفا و برېښي کله؟
ددې غونډې که څوک ناست دی که ولاړ

په عمل کې چې څوک نه شي ښکارولی
دغه ټکی د وفا دی ولې کراړ؟

هر وګړی د خپل چم چې چېرته وینم
په زړګونو دي غمونو کې لتاړ

یو لښکر د بېلتانه د غم راغلی
مخامخ دی د مین پر کوري بې باړ

کوم امید مې چې لاره د ژوند له وېرې
د دښمن د ستر آفت په اور کې لاړ

هره تیږه هر کمر کې ددې غرونو
زماني ده نښه پرېښې د هر تاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ظالم له زوراو ظلمه او ناتاره
هر وګړی د افغان شو لکه ساړ

د "ثاپي" د ژوند متاع يې تار په تار کړه
لا هم پلوري په هر چا لکه کباړ

بن، جرمني: **10/8/2004**

ثلورمه برخه

متفقه ليکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانستی لیک:

بن، جرمني د 2001 کال د سپتمبر میاشت

ښاغلي جمهور رییس بوش

کله چې په افغانستان کې طالبان په واک کې راغلل، داسې وانګېرل شوه، چې: د ISI او CIA هغوی ملاتړي دي.
د افغانستان ډېرکي ولس "پښتنو" د دغې انګېرنې په مخ وپټېيله، چې د طالبانو ملاتړ وکړي، په دې کار کې دوه دليله موجود وو:
1- د امريکې د ولس سره ښه دوستي او نېکه وروړګلوي.
2- د طالبانو سره جګړه به د ISI سره جګړه وي. د ISI سره جګړه به د CIA سره جګړه وي او د CIA سره جګړه به د امريکې د متحده ايالاتو د ولس سره جګړه وي.
نو له دې امله افغان ولس د طالبانو په ملاتړ ودرېد او په دې لياره کې يې په سلګونو زره انساني قرباني هم ورکړه.
خو زموږ د ولس دغه د دوستۍ او وروړګلوۍ ښه نيت او عالي انساني احساسات دادی تاسو ښاغلی بوش د سپتمبر د يوولسمي نېټې د خواشينوونکي پېښې له امله، چې زموږ هر افغان هم پرې زښت زيات خواشينی شوی دی، په دښمنۍ واړوله او په خپل ستر پوځي ځواک مو افغانستان او افغان ولس د بمباريو او تباهيو تر تهديد لاندې ونيولو. هغه هم د اسامه بن لادن په بهانه.
زموږ هيله داده چې: که چېرې په رښتيا سره تاسې ښاغلی بوش غواړئ، چې عدالت تامين او تطبيق شي، لومړی بايد خپل د زني لاندې د CIA هغه کسان، چې په دې تېرو درې لسيزو کې يې په افغانستان کې د خپلو غلطو پلانونو او پروژو په پلي کولو سره د افغان ولس په نزد ګناهګاره دي محاکمه او په سزا ورسوئ. په دوهم پړاو کې د پاکستان ISI او ورپسې بيا د طالبانو غوړونه ومنبئ.
د ستا CIA او د پاکستان ISI جمع د روسانو KGB هر يوه په خپل وار زموږ هېواد او ولس سره دښمني کړې ده. KGB د خپلو شوروي پوځونو جمع افغاني کمونستانو زموږ په هېواد يرغل وکړ. موږ يې ووژلو، ورټلو او زموږ هېواد يې د لس کلني جګړې په ترخ کې ړنګ او د خاورو سره خاورې کړ.
CIA او ISI زموږ په هېواد د مجاهدينو په نامه يوه کوچنۍ سکتاريستي ډله واکمنه کړله، د کورنۍ جګړې اور يې بَل کړ، د هېواد اقتصادي، فرهنګي او ټولنيز بنسټونه يې ونړول. پر کنډوالو يې بيا طالبان راوستل. د طالبانو د ډلې په واکمنولو سره زموږ پر هېواد او پر ولس د سکتاريستي ډلې توره وژونکې او ورانونکې څپه لړې وغوړځول شوه. يو څه امنيت، يو څه هيلې او يو څه رڼايي وځلېده؛ خو په خواشينۍ سره دغه ټولې هيلې د اسلام په نامه، د عربو فرهنګي يلغار په توره پرده کې ونغښتلې او په اور کې وسوځولې شوې.
CIA او ISI په خپلو صادرو کړيو مجاهدينو او طالبانو سره نه يوازې، چې زموږ اقتصادي، کلتوري او ټولنيزه بنسټونه ونړول، چې زموږ د ټولنې ډېر کلک فرهنګي بنسټ (پښتونولي) ته يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکونی ګوزار ورکړ.

د CIA او ISI د دغو ظلمونو د پاسه اوس تاسو ښاغلی بوش هم غواړئ په خپلو بمونو او راکټونو زموږ د ولس د مېلمه پالنې اداب او کلچر نابود کړئ.

که اسامه تروریست وي هغه؛ خو عرب دی نه افغان. که اسامه تروریست شوی وي، هغه به د عربو د داعیې له مخې وي، نه د افغاني داعیې پر بنسټ کوم، چې نوموړي د CIA او ISI له خوا د طالبانو د زېږېدو نه لا ډېره موده دمخه په افغانستان کې زموږ د ولس پر ولیو سپور کړل شوی و.

خدای(ج) مه کړه که تاسې هم پر افغانستان نظامي حمله وکړئ او افغانان ووژنئ په دې صورت کې به د افغان ولس په نزد تاسې ښاغلی بوش، برېژنیو، ISI, CIA, KGB مجاهدین، طالبان او بن لادن به په یوه قطار کې راشئ او د افغان ولس د قاتلانو په حیث به تاریخ ته وپېژندل شئ.

له دې کبله د دې لیک په وسیله له تاسو ښاغلي بوش نه غواړو، چې د افغانستان او افغان ولس د تباهۍ په ګناه کې تر هغه مهاله پورې، چې د CIA او ISI ګناهګاره واکمنان نه وي محاکمه او مجازات کړي، پر افغانستان باندې خپل بمونه مه غورزوئ. که چېرې تاسو د ګناهګارو وګړو د مجازات څخه دمخه پر افغانستان بمونه وغورځول، افغان ولس به پر تاسو ښاغلي بوش او د CIA د ګناهګارو وګړو پر ضد د ستاسو د هېواد په عالي محکمه کې دعوی وړاندې او تاسو به محاکمې ته کش کړي.

د اسامه بن لادن د لانجې د حل لپاره زموږ مشوره تاسو ته داده، چې د امریکې د ولس د درې ادیانو یعنې یهودي، مسیحي او مسلمانو ټولنو دیني درې کسیزه هیئت دې د طالبانو سره د بن لادن لانجه د خبرو له لارې حل کړي. موږ دغه د حل لپاره ځکه غوره ګڼو، چې طالبان ځانونه دیني ډله ګڼي، چې د دیني ډلې په ژبه او منطق دیني ډله پوهېږي، نه سیاسي ډلې ټپلې.

په دغه لپاره کې ستاسو پاملرنه ژر تر ژره را اړول غواړو، څو د یو بل ستر مصیبت له مخه مخنیوی وشي.

په خورا درناوي
خان مبارز "څاپی".

✲ ✲ ✲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قبايلي مېرمنو د خير ښېګڼو ټولنې مشرې درنې
خور ډاکټر بېګم جان !

سلام او ښې چارې!

ماته د پوست له لیارې د نوي ژوند خپرونې دوې ګڼې را ورسېدلې، ومې لوستلې او ستاسو هلې ځلې مې د قبایلي مېرمنو د چارو په هکله د ستایلو وړ وميندلې.
رېښتیا ، چې قبایلو ته او بیا قبایلي مېرمنو د ژوند هر اړخيزو چارو ته تر اوسه پوې هېچا پاملرنه نه ده کړې. زما هیله داده:
لکه څرنګه، چې ستاسو د خپرونې له اهدافو څخه ښکاري په هماغه توګه په دې لیاره کې به لا پسې اغېزمن ګامونه پورته شي. په دې هکله لکه څنګه، چې تاسو هم انګېرلې ده د پښتنې سیمې او بالخاصه د قبایلو د مشرانو، روحانینو، سیاسي ګوندونو، فرهنګي کړیو، پوهانو او هنرمندانو هر اړخيز ملاتړ تر لاسه کول د وخت یو کلک لومړنی ضرورت دی. له لویه خدایه ښاغلي ګورنر صاحب سید افتخار حسین شاه، تاسې خور او ستاسې د ټولنې اغېزمنو ملګریو هر یو: ډاکټر شېرزمان "طایزی"، شېرشاه "ترخوی" ډاکټر زلمی "شهریار" او نورو ته د لا پسې اغېزمنو ګامونو د پورته کولو توفیق غواړم.
په پای کې دغه ټکی هم یادوم، چې: که چېرې په خپرنیزو چارو کې د پښتو واحد لیک دود مراعت شي او همدارنګه د انګلیسي نومونو د لیکلو سره جوخت د پښتو نومونه هم ولیکل شي، ډېره به ښه وي، لکه هسپتال سره "روغتون"، یونیورستي سره "پوهنتون" او داسې نور.

روغ، هوسا، بسیا، نېکمرغه او بریالي اوسئ.
ستاسو ورور
مبارز "څاپې" بن، جرمني 10/8/2002

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي عطامحمد "شېرزي" د سترګو لیدلي حالاتو پر کتاب څو خبرې

د 1357 هجري لمریز کال د غوېي "ثور" په پېښه کې، چې کيڼ لاسو په قهر آمېزه توګه په افغانستان کې واک تر لاسه کړ. زه په لغمان کې بندي شوم، کله، چې له بنده ووتم، بغلان ته لاړم، په بغلان کې زما د پخوانیو دوستانو له ډلې نه یو کيڼ لاسی د ولایت د مستوفي په توګه ټاکل شوی و هغه، چې زما له راتګ څخه خبر شو، زه یې مبلمه کړلم، کور ته یې ورغلم، په کور کې یې د مور او پلار نه سربېره خویندې او ورونه هم ورسره وو. د خبرو اترو په ترڅ کې یې له ما نه وپوښتل، چې بهر ولس زموږ په هکله څه وایي؟ ما ورته وویل: د خلکو تر منځ ګنګوسې دي، چې روسان به ډېر ژر پر افغانستان راودانګي، خلقیان به وټکوي او پرچمیان به د واک پر ګدۍ کښېنوي، لکه څرنګه، چې په بخارا کې پېښه شوه، په هماغه توګه به روسان پر افغانستان هم واکمن شي.

هغه راته بې له کومه ځنډه ټاله وویل، چې: دا د دښمنانو له خوا دښمنانه پروپاګنډه ده.

د هغې شپې له مېلمستیا نه دا درويشت کاله تېر شوي دي، هغه مستوفي هم نور ژوندی نه دی؛ خو څه، چې د 1357 کال نه را په دېخوا پېښو سره په سرو ښودله او څه، چې ګران لوستونکي د درانه ښاغلي عطامحمد خان "شېرزي" د سترګو لیدلو حالاتو په دې لیکلې شوې ټولګې کې لولئ، زما د هغې شپې هغې کټ مټ رښتیاوالی ښيي، چې هماغسې په افغانستان کې په پرله پسې توګه را پېښې شوې بدمرغي په دې کې ده، چې زموږ ولس تل د خطر زنګ د خطر د پېښېدو نه مخکې وهلی دی؛ خو پر ولس واکمنې ډلې خپل غوږونه کاڼه اچولي، یا دا، چې پرې هېڅ نه دي پوهېدلي.

په هر حال ما، چې خپل ښی او کيڼ لاس پېژندلی، په ګران هېواد افغانستان کې را ته د تاریخ ډېره توره خبره د شاشجاع خبره ښکاره شوې وه؛ خو ددې ټولګې د محتویاتو په مخ او همدارنګه په کال 1371 هجري لمریز کې، چې پر افغانستان کوم مصیبت واکمن شو، او بیا د افغانستان دا ننني حالات، چې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو ځواکونو په ډاګه کړي ښکاروي، چې:

اوس به خاندي شاه شجـــاع
پر ببرک او ظاهر شـــــــــــاه

یعني شاه شجاع به پر ببرک کارمل خاندي او وایي به، چې: که زه د انګرېزانو د پوځونو په زور پر افغانستان باچا شوم، خپل عمل مې خیانت وګڼه او ځان مې خپل ولس ته وسپاره؛ خو ته، چې د روسانو پر ټانکونو سور افغانستان ته راغلې او واکمن شوې، خپل دغه خاینانه عمل ته دې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې انقلاب وواېه څو، چې د روسانو په لمنه کې دې د کمونستانو ستر مشر "لېنن" ته ساه و بخښله.

همدارنګه شاه شجاع به پر ظاهرشاه هم خاندي، او وایي به، چې: که زه د انګرېزانو د پوځونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلم، د باچا په مرتبه کې وم. مګر ته، چې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو په زور راغلی یې "د بابای شورای نظار" په درجه کې شوې؛ نو په دې توګه زه تر تا ډېر سپین یمه. یعني ما د انګرېزانو په زور پاچاهي ګټلې وه؛ خو تا د امریکایانو په زور د "بابای شورای نظار" درجه وګټله.

د پای ټکی:

د افغانستان د معاصر تاریخ د لیکلو په چارو کې په دې اند ، چې: د یوه هېواد د سیاسي پېښو په هکله په رېښتینه توګه مورْخین دي، چې قضاوت کولی شي. ښایي د افغانستان رېښتینو مورْخینو ته د ښاغلي شېرزي صاحب دغه د سترګو لیدلي حالاتو لیکل شوې ټولګه به یوه باوري سرګنه وګڼله شي.

په درنښت

مبارز "څاپی" بن، جرمني.
14/11/2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلن لیک

ګرانه او عزتمنده !

السلام عليکم ورحمآ الله وبرکاته !

د ډيورنډ کرښې د جنوبي آسيا او په خصوصي ډول د پښتون/ افغان قوم په تاريخ، کلتور او اقتصادي سيمه ييز اندول باندې ډېر ژور اثر غورځولى دى. او اوس هم پښتون/ افغان قام ددغې کرښې د منفي اثراتو تر مخه په ځلورو ټکړو تقسيم پروت دى. د ډېر افسوس خبره داده، چې پښتون/ افغان قوم تر ننه پورې ددغو منفي اثراتو جوت احساس نه لري.
موږ هم ددغه احساس د را ژوندي کولو لپاره د اکتوبر 15 او 16 په پېښور پرېس کلب کې دوه ورځنى کانفرنس رابللى دى. تاسو ته په دې کانفرنس کې د شرکت او خپلې رايې د اظهار دعوت درکوو.
هيله ده، چې د قومي ارزښت په دې مسئلې باندې به موږ ته د تعاون لاس راکړئ او خپل ګډون به يقيني کړئ.

ستاسو د ځواب په طمع
محمد افضل خان
مرکزي صدر، پښتونخوا قومي پارټۍ
درشخېله. کال: **2003**
فون نمبر: **5958333 -0936**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروند مشر ښاغلی محمد افضل خان لالا !

هیله ده روغ، جوړ، هوسا، بسیا، نېکمرغه او بریالی واوسې. د لوی خدای(ج) په دربار کې دعا کوم، چې تا دې موږ ته د ېر کلونه نور هم ژوندی ولري.

زموږ مشره ! د ډیورنډ د کرښې په هکله ستاسو له خوا تجویز شوی پرېس کانفرنس ته بلن لیک راورسېده. ماته له وجاییو څخه وه، چې په دې کانفرنس کې مې برخه اخیستې وای، او د خپلو مشرانو حکیمانه ویناوې مې اورېدلې وای؛ خو په خواشینۍ سره باید عرض وکړم، چې د ژوندانه د ځینو راپېښو شویو معاذیرو له مخې بریالی نه شومه، چې دغه وجیبه ادا کړمه.

له دې امله د خپلې ناسوبتیا د ښنخنې له غوښتنې سره جوخت د ډیورنډ د کرغېړنې کرښې په هکله د کانفرنس برخه والو ته خپل پیغام په لاندې ډول وړاندې کوم او د هغوی بری غواړم:

زموږ په سیمه کې د زمانې له ظالم، جابر او استکبارنه راپاتې یوه هم د ډیورنډ کرغېړنه کرښه ده، چې یو واحد ولس یې په څو ټوټو وېشلی دی. څرنګه، چې خان لالا هم انګېرلې، په هماغه توګه دغې کرښې ډېرې سیمه ییزې ناروا او ناجایزې اغېزې هم له ځانه لرلې دي، چې له هغو اغېزو نه یوه دغه هم ګڼلی شو: په افغانستان کې ډېره موده کېږي، چې د اسلام او دیموکراسۍ په نومونو هلې ځلې روانې دي، څو د افغان له خولې نه پښتو ژبه وباسي او په بدل کې ورته په خوله کې پارسي ژبه ورننباسي. په همدې توګه په پاکستان کې هم د اسلام په نوم د پښتون/ افغان قوم له خولې نه پښتو ژبه وېستله کېږي او په بدل کې ورته په خوله کې د اردو ژبه اېښودل کېږي. دغه پښتون/ افغان قام سره دښمنانه چال چلند، چې په ډېر زور او شور سره لا هم روان دی، د همدغې کرغېړنې کرښې د ناروا او ظالمانه اغېزو څخه شمېرل کېږي. تر څو، چې دغه کرښه پرته وي، او په دې توګه د پښتون/ افغان قام په څو ټوټو وېشلی پاتې وي، تر هغو پورې به هم د پښتون/ افغان قام د ژبې او فرهنګ سره دښمنانه چال چلند روان وي. دا، چې لوی خدای(ج) په خپلې حکیمانه ارادې سره لومړی پښتو ژبه خلق او بیا ورته پښتون/ افغان قام ورپنځولی دی، څو د پښتو ژبې ویونکي و اوسي؛ نو که څوک د پښتون/ افغان قوم د ژبې، ژوند او ژواک سره دښمني کوي، هغوی د لوی خدای(ج) د حکیمانه ارادې دښمنان هم دي، که دا د اسلام په نوم هم وي.

ددغې خبرې پر بنسټ او دا، چې پوهان وایي: په اتفاق او یو والي کې ژوند پروت دی؛ خو په بېلوالي او بېلتانه کې مړینه. غوره به وي که د پوهانو د ارشاداتو په رڼا کې د بېلتانه د بیدیا له تورتم نه د یو والي د ښار د روښانه ژوند په لور روان شو، څو زموږ راتلونکی پښتون/ افغان قام د یو والي او اتفاق له خوږو نه برخه من و اوسي. که داسې نه کېږي؛ نو د تل لپاره به لکه د تېر په څېر د بېلتانه د بیدیا د بربوکیو په څپو کې ورک او نابود پاتې یو.

د یو والي د ښار په لور د ستاسو د یون د بري په هیله

مبارز "څاپی" بن، جرمني.

1/10/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري ملتونه، لویه جرګه

او

اساسي قانون

دا خو دویاړ خبره ده، چې د افغانانو تاریخي د جرګو او مرکو کور دی او لویه جرګه د افغانانو د پرېکړو خورا ستره عنعنوي مرجع ګڼله کېږي. دغه دود او دستور، چې له پېړیو راهیسې د یوې خورا منلې عنعنې په څېر پر افغانانو درنښت لاره، دا سې ښکاري، چې د عیسوي میلادي 2001 کال د سپتمبر د میاشتې د یوولسمې نېټې د ناوړو پېښو نه را وروسته او د امریکایي ځواکونو له خوا د طالبانو د اسلامي امارت د ړنګولو سره جوخت د ناوړه ملنډو او سپکاوي سره مخ شوې ده. د مثال په توګه په عیسوي میلادي 2002 کال کې د اضطراري لویې جرګې په نامه په کابل کې د یو شمېر ایلا جاري وګړو له خوا د ملګرو ملتونو په سر پرستۍ یوه غونډه جوړه شوه او څومره، چې د لویې جرګې د دښمنانو له لاسه کېدله، هغومره یې دغه درنه جرګه سپکه او بې ارزښته کړله، چې افغانانو لا څه، چې نړیوالو هم په خپلو غوږونو واورېدل او په خپلو سترګو یې ولیدل.

لکه څرنګه، چې ملګرو ملتونو د بن د پترس برګ په غونډه کې له افغانانو سره جفا وکړه، په هماغه توګه یې په اضطراري لویې جرګې کې هم خپله جفا تکرار کړله، چې وروسته بیا پښېمانه شول؛ خو په خواشینۍ سره دادی بیا هم ولیدل شول، چې ملګرو ملتونو پر هماغه پخوانۍ لیارې تګ پیل او په کابل یې د 2003ع کال لویه جرګه د یو شمېر پېژندل شویو ټوپک والاوو او جنګي جنایت کارانو د رابللو سره جوړه کړله.

ددې لویې جرګې او د اضطراري لویې جرګې تر منځ توپیر دغومره و، چې یو شمېر زیاتې مېرمنې ورته رابلل شوې وې نور؛ نو هماغه غر و او هماغه کربوړی. د لویې جرګې دودیزه عنعنه نه وه رعایت شوې، د ولس مخور کسان لکه ولسي مشران او ولسي قانون پوهان ورته نه وو رابلل شوي، او که د ګوتو په شمېر څو کسان رابلل شوي او راغلي وي، هغوی ته؛ خو هېڅ واک نه و، چې د خولې کومه خبره یې هم کړې وای. لکه څرنګه، چې نړیوالو اژانسونو په خپلو خبرونو کې څرګندې کړلې، دغه دواړه په نامه یې لویې جرګې په تهدید، تخویف، تطمیع او سیاسي پټو معاملو پیل او هم په تهدید، تخویف، تطمیع او سیاسي پټو معاملو سره پای ته ورسېدلې.

افغانان لکه څنګه، چې د بن له غونډې نه خواشیني او مایوسه پاتې شوي وو، په هماغه توګه له په نامه اضطراري لویې جرګې څخه هم مایوسه شول. او دادی په دې درېیم ځل د کابل د اساسي قانون د لویې جرګې له خوا هم مایوسي او پرېشانی ته وسپارل شول. دا په دا، چې په دې جرګه کې، چې کولای شو هغه د دودیزې لویې جرګې سپکاوی وګڼو، لکه څرنګه، چې د ځینو پر ولس او وطن مَینه وکیلانو غوښتنې وې، د جنګي جنایت کارانو، ملي خاینانو او د ولس او دولت د مالونو او جایدادونو د لوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارانو د پوښتني او محاكمې په هكله كومې پرېكړې ونه شوې. د دغې لويې جرګې په نامه، چې كومې د اشخاصو پټې سياسي معاملې او تفاهمونه د كاغذ پر مخ راغلي، هغه د جرګې د وكيلانو د خبرو او څېړنو تومنه او پانګه نه ګڼله كېږي. دا او د اسې نورې غټې غټې نيوكې شته، چې د جرګې مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي او د لويې جرګې په نامه د اساسي قانون متن حقوقي ارزښت او اعتبار ته زيان او تاوان رسوي. افغانانو لكه څرنګه، چې پخوا تر دې د پرديو امرونه او هدايات نه دي منلي، په راتلونكي كې هم جوته خبره ده، چې د چا په نغوته او سپارښت خپلو ملي ګټو ته شا نه شي اړولی. په دې توګه لكه څرنګه، چې د ملګرو ملتونو د سولې پلان د بن په غونډه كې ناكامه شو، په هماغه توګه د هغوی د سولې هلې ځلې د كابل په اضطراري لويې جرګې كې هم بې نتيجې پاتې شولې. او اولس د پخوا په څېر د ټوپک والاوو او جنګي جنايت كارانو په يرغمل كې پاتې شو. دادی دغه په كابل كې د اساسي قانون د تصويب لويه جرګه هم لكه څرنګه، چې په تهديد، تخويف، تطميع او د اشخاصو په پټو سياسي معاملو پيل شوې وه په هماغه توګه د يوې سترې اختناقي فضا په سيوري كې د ناوړه سياسي معاملو سره پای ته ورسېده، چې د افغانانو د دوديزې لويې جرګې سره يې هېڅ اړخ نه لګاوه.

په پای كې بايد ووايو، چې د داسې جرګو د پرېكړو د پيل كېدو چانس ډېر لږ تر سترګو كېږي. دا ځكه، چې ولس د پخوا په څېر د جنګي ډلو ټپلو په يرغمل كې پرېښودل شوی، او په وطن كې د امنيت او ډاډ ېينې غم هم هېڅ نه دی خوړل شوی. پر دې سربېره د ولس له خوا دغه اساسي قانون ته هم د تهديد، تخويف، تطميع او د سياسي معاملو د قانون نوم وركول كېږي، چې په دې توګه د قانونيت ارزښت ته يې ډېر زيات تاوان رسېږي.

مبارز "څاپې" بن، جرمني
6/1/2004

پرانستی لیک:

د ډيورنډ د كرښې په هكله

د بي بي سي پښتو پروګرام ته!

ډيورنډ د زمانې د غاصب ماموږو، د غاصب د كرښې له امله د افغان ولس دوه ټوټې شوی؛ خو ولس دغه كرښه په دې څه د پاسه يوه پېړۍ كې هم هېڅكله ونه منله. اوس يې هم په هېڅ توګه څوک نه مني. كه چېرې اوسنۍ په كابل كې ناسته واكمنه ډله دغه كرښه په رسميت وپېژني، د دوی دغه كار هېڅكله او په هېڅ توګه قانوني او حقوقي بڼه نه لري او د منلو وړ نه دي. ځكه، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. دغه واکمنه ډله د ولس له ملاتړ نه بې برخې ده.
2. دغه واکمنه ډله د بهرنيو ځواکونو له خوا کابل ته راوستل شوې.
3. ددغې واکمنې ډلې ساتنه لا تر اوسه پورې د بهرنيانو د ځواکونو له خوا کېږي.
4. په دې ډله کې هغه کسان دواک خاوندان دي، چې په پاکستان کې روزل شوي، او افغانستان ته صادر شوي دي.
5. په دې ډله کې ددې پر ځای، چې د افغانستان لوړو ګټو ته درناوی وشي، د ګاونډيو هېوادونو د ګټو پلوي کېږي.
6. دغې ډلې، چې د ملګرو ملتونو په مرسته او ملاتړ کومې لويې جرګې راغوښتې وې، په هغه کې د اختناق او تهديدونو له امله د افغانستان د ګټو پلويانو ته که کوم يو و ، ددې وسه نه وه، چې خپله خبره هم وکوي.

دا او داسې نور غټ غټ ټکي شته، چې اوسنۍ واکمنه ډله نه شي لا ، چې حق هم نه لري د ډيورنډ د کرښې په هکله خبرو ته کښېني.

سربېره پر دې د حقوقي بنسټونو پر مخ هم يوه خبره، يو کار يا يوه موضوع، چې په يوه پېړۍ کې چا نه وي منلې؛ نو هغه به اوس څوک ومني؟ او څنګه به د منلو وړ وګڼل شي؟

زما په اند په دې هکله بيا په اوسنيو شرايطو کې، چې په افغانستان کې يو ملي، قانوني او د ولس له ملاتړ برخمن حکومت نه شته، هېڅکله او په هېڅ توګه ضروري نه برېښي، چې خبرې وشي، نه پوهېږم بي بي سي په دې هکله څه هدف لري؟ بي بي سي؛ خو دا شل کاله وشول، چې په خپلو دري، پارسي او تاجکي پروګرامونو کې لګيا ده وايي، چې: ايران، افغانستان او تاجکستان پارسي ژبي هېوادونه دي. آيا هغو افغانستان ليدلی يا افغانستان ورته ويلي دي، چې پارسي ژبی هېواد دی او که نه؟ په افغانستان کې؛ خو پارسيان د نورو لږکيو ډلو په ډله کې يو ډېر کوچنی اقليت دی. ښه به دا وي، چې بي بي سي خپلې غلطۍ پرېږدي او نور افغانستان ته د پښتو ژبې هېواد ووايي. ځکه، چې افغانستان پښتنو جوړ کړی او پښتانه په افغانستان کې تر نورو ټبرونو نه لا هم يو غټ ټبر دی، چې د نوي اساسي قانون د تصويب په لويه جرګه کې هم په ډاګه شوه.

په خورا درناوي

جنوري 2004ع کال
مبارز "څاپی" بن، جرمني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکت

د حرکت په نامه له حرکته ډکې د لومړنۍ خپرونې لومړنۍ ګڼې یوه ګڼه د درونـد مشر ښاغلي "حرکت" له خوا راکړله شوه، چې په خوښۍ او په مینه مې سر تر پایه ولوستله، د خوږو ګڼو او ګڼلو سره یو ځای ښې فلسفې او سیاسي مفاهیم او مطالب په کې ځای په ځای شوي او د حرکت او خوځېدنو تاندې هلې ځلې هم په کې ځلېدلې وې. دغه لامل و، چې زه یې وپارولم د حرکت د خپرونې د ستایوال په توګه څو ټکي د خوښۍ ملغلرې تویې کړم؛ نو لومړی مې د حرکت د توري په معنی د پوهېدلو لپاره د پښتو پښتو تشریحي قاموس پاڼې پرانیستلې او په 1680یم مخ کې مې داسې ولوستل:

حرکت ***Harakat*** خوځېدنه، ښوربدنه، خوځې، د سکون ضد. د حرکت قانون "فل" وايي، چې: ټول نړیوال یو له بله سره تړلي او یوه مرتبطه واحده دستګاه ده. په همېشني حرکت او بدلون کې ده او هېڅ شی پر خپل حال نه پرېږدي. سکون او تغیر نه کول فقط ظاهري وي. د همدې تغییر په اثر هېڅ مطلق او ابدي شی وجود نه لري. هر څه نسبي او تېرېدونکي دي. مکانیکي حرکت، بیولوجیکي حرکت، ټولنیز حرکت، فکري حرکت.

انتقالي حرکت "جغ" ریوولوشن: د ځمکې هغه حرکت ته وايي، چې ځمکه د یوه شمسي کال یعنې 365 ورځو 6 ساعتو 9 دقیقو او 11 ثانیو په جریان کې پر خپل بیضوي ډوله مدار باندې، چې د محیط طول یې 931 میلیونه کېلومتره دی د لمر په شاوخوا چورلي. د دغه حرکت په نتیجه کې څلور ګوني موسمونه پیدا کېږي او شمسي اعتدال او انقلاب پېښېږي.

وضعي حرکت "جغ" او ټېشن: د ځمکې هغه حرکت ته وايي، چې ځمکه په 23 ساعتونو او 56 دقیقو کې د لویدیز نه د ختیز و خوا ته پر خپل محور باندې وچورلي. د دغه حرکت په نتیجه کې شپه کېږي، ورځ کېږي او د وقتونو تغییر، د ځمکې په کره کې د سرعتونو تغییر، د بادونو د استقامت تغییر او د فرار قوه منځته راځي.

دا وه د حرکت د توري لغوي معنی او مفهوم. اوس به وګورو، چې د "حرکت" خپرونې په خپلې لومړنۍ ګڼې کې د حرکت له توري نه څه انګېرلي دي؟ دغې خپرونې په خپل لومړي مخ کې د "یادونې" تر سرلیک لاندې په یوه برخه کې داسې څرګنده کړې، چې:

حرکت په عالم اسباب کې د خدای(ج) د لوی علم د عامې قانونمندۍ او د هغې د ټولو خصوصي حالتونو په پروسه کې د ټولو پدیدو د ظهور او متقابلو اړونده مناسباتو د علت او معلول سبب ګڼل کېږي. دا لوی جهان موجود دی ځکه، چې متحرک دی او متحرک دی ځکه، چې موجود دی.

متفاوت، رنګا رنګ او متغیر دی. دا جهان هغومره ابدي دی لکه څومره، چې حرکت ابدي دی. لوی خدای(ج) د خپل لوی علم د عامې قانونمندۍ له مخې د لوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تر بله سره لازمي ابدي علت او معلول او همداسې قایم بالذات او خلل نا پذیر ګرځولی او یوازې د قضا او قدر د لوی علم د جبر او اختیار له مخې په هغې کې تغییر او تصرف ممکن ګڼل کېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.

د حرکت د دې یادونې په یوه برخه کې د سیاسي لوري په هکله هم لولو، چې: موږ د غه ډول ټولې پدیدې نسبي ګڼو؛ نو ځکه د لومړۍ ورځې څخه وایو، چې: موږ هېڅکله بې طرفه نه یو.

هو! حرکت هر کله خپل لوری او خپله خوا لري او همدغه لوری او خوا د حرکت په حرکت کې د پایښت او تسلسل لامل ژوندی ساتلی دی. لکه، چې د نړۍ په ابدیتوب کې وینو که ذره له حرکته پاتې شي، که شمال ونې او بوټي ونه خوځوي. که د لمر وړانګې ونه ځلېږي، که وربځې ونه وروي، که اور لمبه ونه کړي، که هوا ونه چلېږي، که زړې زرغون نه شي او که د انسان او حیوان په بدن کې سا ودرېږي؛ نو هر څه به پای ته رسېدلي وي. همدغه خبره ده، چې وایو: حرکت کې برکت شته او برکت د ډېرښت، د ښېګڼې او پایښت ښنه ده.

خوځېدنه، هلې ځلې، پاڅېدنه. زغاسته، انګېرنه، کړنه او وېینه. دا ټول په حرکت کې نغښتي او حرکت د لوی خدای(ج) د پنځونې د قدرت له ښنو څخه شمېرل کېږي. لکه، چې د کوچني انسان په بدن کې سا غوټې وهي او ځي راځي.

لکه، چې وایي:

چې غوټې پسې وهي په لاس به در شـــــي
چا ویل چې پـــــه دریاب کې ګوهر نه شته

ما د حرکت د خپرونې په تل کې د سمندر د تل په څېر ډېرې ملغلرې ولیدلې، ښایي د ژوندانه د سمندر د ماهو ګانو ورته پام شي او د هغو د راوېستلو لپاره په حرکت راشي او په پرله پسې غوټو وهلو د ژوند ښکلې ملغلرې د دغه سمندر له تل څخه راوباسي.

مبارز "څاپي" بن، جرمني.

26/6/2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماخذونو فهرست

د کتابونو نومونه

ګڼه	د کتابو نوم	ليکوال	د چاپ ځای
1.	د قرآن کريم پښتو تفسير		مکه مکرمه سعودي عربستان
2.	د اريانا دائرآ المعارف پښتو	د افغانستان د اريانا د ائرآ المعارف ټولنه	کابل
3.	پښتو - پښتو تشريحي قاموس	د علومو اکاډيمي کابل	کابل
4.	استعمار او ناسيونالیزم	نباغلی استانه ګل "شېرزاد"	پېښور
5.	د دعوت خپرونه	خپرونکی نباغلي طارق "بزګر"	ناروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارز ځاپی

مبارز ځاپی اصلاً د لغمان ولایت د الیشنګ د ولسوالۍ اوسپدونکی دی، چې بیا وروسته یې د بغلان په ولایت کې استوګنه غوره کړه. نوموړي د هیواد په مختلفو اداري ځانګو کې کار کړی دی. وروستی ماموریت یې د لغمان ولایت د اداري مدیر په حیث سرته رسولی دی.

د ۱۳۴۱ هـ ش کې یې شعر و شاعري پیل کړې، ژوبل احساس یې د هجرت او پردیسۍ ژوند لومړی، ګلپاڼه یې دویمه او زرپاڼه یې دریمه شعري مجموعه ده. په ۱۳۵۷ کال پېښور ته مهاجر شوی او د څه وخت د تېرولو وروسته جرمني ته تللی، چې لا تراوسه پورې په جرمني کې اوسي.

چاپ چارې: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه
Tel/Fax:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library